بسم الله الرحمن الرحیم

# غزني پوهنتون

## علمي ـ څېړنيزه مجله

دويم کال، لومړۍ (پرله پسې پنځمه)ګڼه ، ۱۴۰۳هـ ل

# غزني پوهنتون

## د فعالیت پیل : ۱۴۰۱هـ ل

## د غزني پوهنتون علمي، څېړنیزه مجله

## دويم کال، لومړی (پرله پسې پنځمه) گڼه، ۱۴۰۳هـ ل



**د امتياز خاوند:** غزني پوهنتون

**مسئول مدير:** پوهنمل محمدمصطفی صفا

**د طبيعي علومو سردبير:** پوهندوی دوکتور شفيق الله رحماني

**د اجتماعي علومو سردبير:** پوهنمل غلام يحيی اصغري

**د مجلې عمومي مدير:** احمدشاه الماس

**د مجلې د خپراوي مدير:** شعيب فيضي

**د مجلې د متن د سمون مدير:** شمس الرحمن علي



**د مجلې د ثبت گڼه:** RCTD-GNJR-007-23


## کتنپلاوي


### طبيعي علوم

- پوهنوال حبيب الله همايون
- پوهندوی عبدالرحمن عثماني
- پوهنمل جواد علي يار
- پوهنوال قربان علي فروغ
- پوهنمل دوکتور حميد الله واعظي
- پوهندوی سيدرحيم غفاري
- پوهنمل سيدعبدالمقيم حسيني

### اجتماعي علوم

- پوهنمل دوکتور همايون غفورزی
- پوهنمل دوکتور محمد سليم مدني
- پوهنمل دوکتور سبحان الله شهاب
- پوهنمل دوکتور محمد شريف اديب
- پوهنمل رحمت الله حيدري
- پوهنمل حميدالله نوري
- پوهنمل عبدالمتين مياني
- پوهنمل سيد صبغت الله ابراهيمي



**پته:** غزني پوهنتون، د علمي څېړنو او مجلې معاونيت، د علمي مجلې آمريت.

www.gu.edu.af

gu.n.journal@gu.edu.af

# لړلیک


| گڼه | سرلیک | لیکوال | مخ |
|---|---|---|---|
| ۱ | د اوبو ککړونکي او د هغوی اغېزې د انسان په ژوند باندې | حبیب الله همایون | ۱ |
| ۲ | د تقارن اعمال او عناصر | عبدالصمد حمید | ۹ |
| ۳ | د کچالو په کرونده کې د هرزه بوټیو کنترول | میرزامحمد مدثر | ۲۵ |
| ۴ | له ۱۳۸۷ تر ۱۳۹۷ کلونو پورې د افغانستان د پرمختیایي بودجې د نه مصرف دلایل | وحیدالله امین او حمیدالله نوري | ۳۵ |
| ۵ | د خدمت کوونکې او بدلون پلوه رهبریو پرتلیزه بررسي | احسان الله سعید او غلام مجتبی امین | ۴۳ |
| ۶ | په حنفي فقه او د افغانستان په وضعي قوانینو کې د مدني دعوی د صحت شرطونه | عین الله کریمي | ۶۳ |
| ۷ | د اسلام په سیاسي نظام کې احتساب او د هغې آداب | احسان الله شهامت، عین الله کریمي او رحمت الله حیدري | ۷۷ |
| ۸ | په لنډیو کې د تاریخي پېښو انځور | نقیب الله یوسفزوی | ۹۹ |
| ۹ | بازتاب مفهوم شهادت در مجموعه شعری(شمیم صحرا) از تابش هروی | محمد رضایی و علی اکبر زاولی | ۱۱۷ |
| ۱۰ | THE EFFECTS OF BILINGUALISM ON ENGLISH LANGUAGE | Mujtaba Faqiri | ۱۳۳ |

# د اوبو ککړونکي او د هغوي اغيزي د انسان په ژوند باندې

**حبيب الله همايون** [1]*

۱- د غزني پوهنتون، کرنې پوهنځي، د هاريکلچر څانګې استاد

*hamayoun.1383@gmail.com

**لنډيز**

دا څېړنه د انسان په روغتيا باندې د اوبو د ککړتيا اغيزو په اړه ترسره شوې. د اوبو ککړوالی يوه نړيواله ستونزه ده، چې د انسان په روغتيا باندې په ځانګړې توګه د ماشومانو په روغتيا باندې په پراخه توګه اغيزه کوي او د ځينو ناروغيو لکه د پوستکي ناروغيو، سرطاني ناروغيو، نس ناستي ناروغيو او داسي نورو د رامينځته کيدو لامل کيږي. دغه څيړنه چې د بيلابيلو علمي مقالو څخه په کې معلومات راټول کړل شوي او تحليل شوي څرګندوي چې د اوبو په ککړتيا کې ځيني عوامل د يوې پيچلي شبکې په څير مرسته کوي او دغه عوامل د کور فاضله موادو ، صنعتي تخليه کيدنکي موادو ، آفت وژونکو، پلاستيکونو ، او د سيستميک مديريت نيمګړتياوو ته شامليږي. دغه څيړنه د ککړتيا د سرچينو د کمولو لپاره د همغږې په هڅو ، د پايداره کرنې په ميتودولوژيو او د کثافاتو مسؤلانه مديريت باندې ټينګار کوي. په پايله کې د اوبو د ککړتيا د مخنيوي لپاره دغه څيړنه په دې برخه کې د قوي قوانينو د تطبيق او د اوبو کيفيت په اړه پوهه لوړولو لپاره د حکومتونو ، شرکتونو او ټولنو ترمينځ په همکاري باندې ټينګار کوي.

**کليدي ټکي:** اوبو ککړونکي، اوبو د ککړونکو محوه کونه، انساني ناروغي

**سريزه**

اوبه د ژونديو موجوداتو په ژوند کې اړين فکتور ګڼل کيږي. هېڅ ژوندی موجود پرته د اوبو څخه خپل ژوند ته دوام نشي ورکولای، په ځانګړې ډول انسان چې د بدن ٦٠ سلنه يې له اوبو څخه جوړه شوي ده (Ahmad, *et al*,. 2015).

د انسانانو د نفوس زياتوالي ته په کتو سره داسي اټکل کيږي چې تر ۲۰۵۰ ميلادی کال به د اوبو او خوړو اړتيا له ۵۰ – ۷۰ سلنه پوري لوړه شي. په نړۍ کې او په ځانګړې توګه زموږ په ګران هېواد افغانستان کې به په ځينو ځايونو کې د څښلو وړ خوندې اوبو کې ترلاسه کول يوه عمده ستونزه ګڼل کيږي. د FAO د راپور په اساس په نړۍ کې يوازې ۵ سلنه اوبو د انسان د استعمال وړ دي. په داسي حال کې چې تقريباً ۷۱ سلنه د ځمکې سر اوبو پوښلي دي. د FAO د راپور په اساس په نړۍ کې

۳۹۰۰ ماشومان په ورځ کې د ناپاکو اوبو د څښلو په خاطر د رامنځته شوو ناروغیو په وسیله خپل ژوند د لاسه ورکوي د نفوسو د زیاتوالی او د صنعتی کیدنې له کبله د نړۍ د اوبو کیفیت خرابیږي او خپل اصلیت د لاسه ورکوي (تنیوال، ۱۳۸۹).

ککړونکي د اوبو د فزیکي بڼې ته تغیر ورکوي چې د هغوي زهري کیدو سبب کیږي، لکه درانه فلزات که څه هم په ډېر کم غلظیت سره هم وي، د انسان، حیوان او نبات لپاره زهری تمامیږي (Ahmed *et al*,. 2016).

د اوبو د ککړونکي عبارت دې له درانه فلزاتو، بیلابیل رنګونه، درملو، افت وژونکو، عضوي موادو، او نور خطرناک موادو څخه چې د اوبو بڼه تغیر کوي. (Alrumman, 2016).

د اوبو ککړتیا هغه وخت واقع کیږي چې کله اوبو ته د غوښتني خلاف نور مواد اضافه شي چې د اوبو د ککړوالی سبب کیږي، او هم د اوبو کیفیت د غوښتني خلاف خرابوی (Bibi, 2016). اوبو یو له مهمو طبعی سرچینو څخه ګڼل کیږي چې د څښلو او نورو د پرامختیایی پروګرامونو د ترسره کونې لپاره استعمالیږي. د پاکو اوبو څښل یوه مهمه اړتیا ده، چې د ټولي نړۍ لپاره حتمی ده. دا چې اوبه د ډېرو موادو حل کونکی دي نو ځکه هم د دې لارې ډېري اخته کونکي ناروغي د انسان بدن ته داخلیږي. د صحت د نړیوال سازمان (WHO) د راپور په اساس ۸۰ سلنه ناروغیو له ککړو اوبو څخه لیږدول کیږي. د ډیرو هېوادونو د اوبو کیفیت د WHO د معیار سره برابر نده نو ځکه هم ۳,۱ سلنه مرګ ژوبله هم له همدې درکه واقع کیږي(Briggs, D. (2003 .

د افغانستان د موجوده اوبو اندازه په مجموعي ډول ۷۵ بیلیونه متریکه تخمین شوي چې له دې جملې څخه تر ځمکي لاندینی اوبه ۱۸ بیلیونه متریکه ده او د ځمکې په سره اوبه ۵۷ بیلیون متریکه اټکل شوې دي(تنیوال، ۱۳۸۹).

## د څېړنې موخې

۱. د اوبو د ککړونکو عواملو پېژندنه

۲. د انسان په روغتیا باندې د اوبو د ککړونکو اغیزو پېژندنه.

## د څېړنې کړنلاره

دغه څېړنه چې کتابتوني بڼه لري د یادې موضوع د ښه تحلیل او تفسیر لپاره هڅه شوې چې مستند او معتبر معلومات را غونډ شي. د معلوماتو د موندلو په موخه له بېلابیلو کتابونو، علمي مقالو او انټرنیټي ویب سایټونو څخه استفاده شوې ده. د معلوماتو د اوډلو، تحلیل او تفسیر په موخه په شته معلوماتو نهایت غور او دقت شوی.

**بحث او مناقشه**

**د اوبو د ککړونکو سرچینې**

د اوبو د بیلابیلو ککړونکو سرچینې چې په مصنوعي او طبعی ډول د ځمکی په مخ شتون لري، د مثال په ډول نایتروجن، اوکسایډ، درانه فلزات، هایدروکاربونونه، او نور د دې ترڅنګ ځینی کېمیاوي ککړونکي هم لکه آفت وژونکي، پلاستیک او نور بیلابیل درمل چې د اوبو د ککړونې عمده سبب کیږي ) (

د اوبو د ککړتیا سرچیني بیلابیلي دي په عام ډول سره داسي ویلای شو چې له طبعی څخه نیولی تر هغو سرچینو څخه چې د انسان په وسېله په طبعیت کې واقع کیږي او د اوبو د ککړوالی سبب کیږي، چې د هغوي له جملی څخه د کورونو اضافه مواد، د فابریکو څخه تر لاسه شوي مواد، او طبعی د ککړوالي سرچیني بیا عبارت دي له د باران له اوبه، خاوري، دوړي، تر ځمکه لاندی ډبري او نور بلل کیږی(Corcoran, 2010).



۱- شکل په ګران هېواد افغانستان کې د اوبو سرچیني ښودل شوي دي(Currie, 2013)

په عمومي ډول داسي ویلاشو چې د اوبو ککړونکي سرچیني په دوه ډوله ویشل شوي دي چې عبارت له مستقیمي او غیري مستقیمي څخه دي، مستقمي هغه دي کوم چې په مستقیم دول د مایع په ډول اوبو ته علاوه کیږي لکه د فابریکو څخه تر لاسه شوي زهري مواد کوم چې په دریابونو کې

د ماهيانو او نورو هغو ژونديو موجوداتو په وسېله چې کله استعماليږي د هغوي د مړينی سبب کيږي.
او بل هغه منابع دي چې په غيری مستقيم ډول د اوبو جريان ته داخليږي لکه کېمياوي سرې، آفت وژونکي چې د خاوري لاندې طبقو ته ليږدول کيږي کوم چې چاپيريال ته ډېر خطرناک گڼل کيږي او د انسانانو صحت زيانمن کوي (Desai, 2014).

### د اوبو د ککړونکو ډولونه کوم چې د چاپيريال د خرابيدو سبب کيږي

د اوبو د ککړېدا مهم عوامل د اوبو په رنگ، خوند کې له منفی تغير څخه عبارت دي کوم د اوبو فزيکي ساختمان ته هم تغير ورکوي او د اوبو د زهری کيدو سبب کيږي. د اوبو مهم ککړونکي د عضوي ککړونکو او غيروعضوي ککړونکو په دوو گروپونو باندې ډول ويشل کيږي.

### عضوي ککړونکي

عضوي ککړونکي عبارت له کاربن، هايدروجن، اکسيجن، نايتروجن او سلفر څخه دي، عضوي ککړونکي په هغو خوړو کې موندل کيږي چې د خوړو د قطي کونې لپاره استفاده کيږي لکه د اوسپنی قطی چې د روب، لوبيا، ماهي، ميوه او نورو خواړو د قطی کونې لپاره استعماليږي (Ebenstein, 2012). عضوي ککړونکي په لاندې دوه ډولونو ويشل کيږي.




۲- شکل کې د اوبو ککړونکي سرچيني (Ebenstein, 2008)

**۱. آفت وژونکي:** په نامناسب شکل د آفت وژونکي (د ناوړو بوټو او حشرو له منځه وړونکي) کوم چې د اوبو د ککړېدو سبب کيږي. چې د آفت وژونکو د نامناسب مقدار د استعمال له کبله ، د آفت وژونکو ښه نه حلول له کبله د کرنې د لارې د انسان هضمي سيستم ته داخليږي او تنفسی ناروغيو سبب کيږي (Halder and Islam, 2015).

**۲. رنګونه:** هغه مواد چې په صنعتی کارونو کې د رنګونې لپاره استفاده کیږي، دا هغه رنګونه چې طبعی ندي بلکي په مصنوعي ډول خوراکي موادو ته علاوه کیږي. دغه رنګونه په پراخه کچه د بیلابیلو ککړوني سبب کیږي چې په پایله کې د ډېرو ناروغي منځ ته راوړي .

## غیرې عضوي ککړونکي

په مخ په وده هېوادونو کې ډېر غیرې عضوی ککړونکي شتون لرې چې په پراخه پېمانه د اوبو د ککړوني سبب کیږي لکه نایتریت، امونیم نایتریت، او درانه فلزات. دغه ډول ککړونکي چې د اوبو د ککړوني سبب کیږي په انسان کې د بیلابیلو ناروغیو د منځ ته راتګ سبب کیږي لکه د معدي، ګردو او سږو، د خرابوالی سبب کیږي (Juneja and Chauhdary 2013).

**۱. نایتریت (NO3) :** تر ځمکه لاندی اوبو کې یو له مهم ککړونکي څخه ده، نایتریت د نبات په وده کې یو له مهمو سرو څخه ګڼل کیږي. د نایتریت زیات شتون په نبات کې د عناصرو د جذب په توازن باندې اغیزه کوي او د جذب د پروسي ثبات له منځه وړي. (Kamble, 2014).

**۲. درانه فلزات:** دغه هم د انسان په بدن کله چې د اوبو د لارې د انسان هضمی سیستم ته داخل شي د بیلابیلو ناروغیو د منځ ته راتګ سبب کیږي چې په ۱- شکل کې ښودل شوي دي.




۳- شکل: کې د بیلابیلو فلزاتو اغیزي انسان په صحت کې

## د ککړو اوبو اغیزي د انسان په صحت باندې

د صحی ستونزو او ککړو اوبه ترمنځ رابطه یو خطرناک صحی ستونزه بلل کیږي. هغه ناروغي چې د بیلابیلو پتوجنونو په وسیله لیږدول کیږي په مستقیم ډول په انسانانو کې د ناروغو د منځ ته راتګ

سبب کيږي. ډيري هغه ناروغي چې د ککړو اوبو په سبب منځ ته راځي په آسانۍ سره له يوه انسان څخه بل ته سرعت کوي. هغه ناروغي چې د ککړو اوبو له کبله منځ ته راځي عبارت دي له تنفسی ناروغي، بيلابيل کينسرونه، نس ناستی او دماغي غير متوازن والي، په ۱ شکل کې د بيلابيلو فلزاتو اغيزي د انسان په ژوند باندې ښودل شوي دي.

**۱. بکتريايي ناروغي:** دا هم داسی اوبو له وجی منځ ته راځی چې ککړي وي چې عبارت دی له نس ناستي څخه، چې سلنه په نړۍ کې يي له ۴-۱۵ پورې رسيږي چې تبه، د نس غير عادی دردونه، سر درد، خوا ګرزي، کانګي او نور د نس ناستی له علايمو څخه ګڼل کيږي، چې د انتی بيوتيکو په وسيله دا ناروغي تداوی کړو.

Shigellosis دا هغه بکتريا ناروغي ده چې د Shigella په وسيله منځ ته راځي، چې په هضمي سيستم باندې اغيزه کوي، د غړو د ناروغه کولو سبب کيږي. عمده علايم يې د اوبيزي او يا خوني نس ناستی سبب کيږي، حتا ځينی وختونو د انسان د مرګ سبب کيږي.

**۲. ويروسی ناروغي:** د زيړي بيلابيلي ډولونه چې د ککړو اوبو له وجي په انسان کې منځ ته راځی، چې لوړه تبه يې عمده علايم ګڼل کيږي. دا هم له وژونکو ناروغيو څخه ګڼل کيږي، که چيرته د ډېر وخت لپاره پاته شي کيدای شي د انسان د مرګ سبب شي. د دې ناروغۍ عامل په اوبو کې Culex mosquito په نامه د يو حشرې د هګيو له وجې چې په اوبو کې اچوې سبب کيږي. په ډېرو وګړيو کې کيدای شي د دې ناروغي عامل په آسانۍ سره معلوم نشي ولي عمده علايم يې په انسان کې د سر درد، لوړه تبه، د له عضلاتو درد عبارت دي په ځېنو حالاتو کيدای کوما ته هم ولاړ شي(Kamble, 2014).

**۳. پرازيټی ناروغي:** Cryptosporidiosis عبارت له هغې ناروغۍ څخه ده کوم چې Cryptosporidiosis په وسيله منځ ته راځی او دا يوه نړيواله ناروغي بلل کيږي د دې ناروغي عمده علايم عبارت له نس ناستي او استفراق څخه دي2016 .Chowdhury *et al*.

**پايله اخيستنه**

د دغه څېړني څخه يو شمير مهمې پايلې ترلاسه کېږي، چې په لاندې ډول سره خلاصه کېږي:

۱- د اوبو ککړتيا خطر د هوا او خاورې له ککړتيا څخه کم نه دي، چې دا ټول د انسانانو په ژوند باندې په منفي توګه اغيزه کوي.

۲- اوبه په مستقيمه او غير مسقيمه توګه د ميکروبونو، جامدو او مايع فاضله موادو سره ککړيږي، چې دا ککړونکي د اوبو رنګ، خوند او بوی بدلوي او د مصرف لپاره يې نا مناسبي ګرځوي.

۳- د اوبو ککړونکي ډېرى ډولونه لري، چې تر ټولو مهم يې فزيکي، کيمياوي، بيولوژيکي،او راديولوژيکي ککړتيا ده . دا ټول ډولونه يې په انسانانو حتى په حيواناتو او نباتاتو کې خورا خطرناکي ناروغۍ رامينځته کوي.

۴- مهم ککړونکي باکتريا، ويروسونه او پرازيتونه دي. دوی د انسانانو او څارويو د فضله موادو له لارې اوبو ته ليږدول کيږي. ځکه کثافات د فاضله اوبو يا په کرنه کې د زهکشی اوبو سره مخلوط کيږي، چې د کولرا په ګډون د ډېرى ناروغيو لامل کيږي. له همدې امله، کلورين بايد وکارول شي تر څو هغه ضد عفوني کړي.

۵- د کيمياوي سرو کارول که څه هم د کرنيزو حاصلاتو په چټکه وده کې مرسته کوي خو د کيمياوي سرو او آفت وژونکو استعمال د اوبو د ککړتيا له لاملونو څخه دي.

٦ - د ځمکې لاندې اوبه د څو لاملونو له امله د ککړتيا سره مخ کيږي. چې دا د کيمياوي سرو او آفت وژونکو استعمال ، د کثافاتو او صنعتي کثافاتو د ښخولو لپاره د ځمکې کيندلو او داسې نورو ته شامليږي.

نو له دې امله دغه څېړنه د اوبو د ککړتيا د مخنيوي لپاره په دې برخه کې د قوي قوانينو د تطبيق او د اوبو کيفيت په اړه پوهه لوړولو لپاره د حکومتونو ، شرکتونو او ټولنو ترمينځ په همکاري باندې ټينګار کوي.

## ۵. اخځونه


تنيوال، محمد ظريف .(۱۳۸۹). د افغانستان عمومی جغرافيه د فرهنګ خپرندويه ټولنه

abeen, S., Mahmood, Q., Tariq, S., Nawab, B., & Elahi, N. (2011). Health impact caused by poor water and sanitation in district Abbottabad. *Journal of Ayub Medical College Abbottabad*, *23*(1), 47-50.

Ahmad, S. M., Yusafzai, F., & Bari, T. (2014). Assessment of heavy metals in surface water of River Panjkora Dir Lower, KPK Pakistan. *Journal of Biological and Environmental Sciences*, *5*, 144-152.

Ahmed, T., Scholz, M., Al-Faraj, F., & Niaz, W. (2016). Water-related impacts of climate change on agriculture and subsequently on public health: A review for generalists with particular reference to Pakistan. *International journal of environmental research and public health*, *13*(11), 1051.

Alrumman, S., Keshk, S., & El Kott, A. (2016). Water pollution: source & treatment. *American Journal of Environmental Engineering*, 88-98.

Bibi, S., Khan, R. L., Nazir, R., Khan, P., Rehman, H. U., Shakir, S. K., ... & Jan, R. (2016). Heavy metals analysis in drinking water of Lakki Marwat District, KPK, Pakistan. *World applied sciences journal*, *34*(3), 15-19.

Briggs, D. (2003). Environmental pollution and the global burden of disease. *British medical bulletin*, *68*(1), 1-24..

Chowdhury, S., Krause-Pilatus, A., & Zimmermann, K. F. (2016). Arsenic contamination of drinking water and mental health. *DEF-Discussion Papers on Development Policy*, (222).

Corcoran, E. (2010). *Sick water?: the central role of wastewater management in sustainable development: a rapid response assessment*. UNEP/Earthprint.

Currie, J., Graff Zivin, J., Meckel, K., Neidell, M., & Schlenker, W. (2013). Something in the water: contaminated drinking water and infant health. *Canadian Journal of Economics/Revue canadienne d'économique*, *46*(3), 791-810.

Desai, N. (2014). SmtVanitaben. A study on the water pollution based on the environmental problem. *Indian Journal of Research*, *3*(12), 95-96.

Ebenstein, A. (2012). The consequences of industrialization: evidence from water pollution and digestive cancers in China. *Review of Economics and Statistics*, *94*(1), 186-201. Halder Halder, J. N., & Islam, M. N. (2015). Water pollution and its impact on the human health. *Journal of environment and human*, *2*(1), 36-46.

Juneja, T., & Chaudhary, A. (2013). Assessment of water quality and its effects on the health of residents of Jhunjhunu district, Rajasthan: A cross sectional study. *Journal of public health and epidemiology*, *5*(4), 186-191.

Kamble, S. M. (2014). Water pollution and public health issues in Kolhapur city in Maharashtra. *International journal of scientific and research publications*, *4*(1), 1-6.

# د تقارن اعمال او عناصر

**عبدالصمد حميد** [1*]

۱- د غزني پوهنتون، د ښووني او روزني پوهنځي، د کيميا څانګې استاد

*as.hamid1366@gmail.com

**لنډيز**

تقارن ، د تقارن اعمال او عناصر د کېميا په علم کې يوه نوي او ارزښتمنه موضوع ده چې د کېميا علم په زياتره مضمونونو کې لکه عضوي، غيرعضوي، کرستل شيمي او نورو کې لوستل کيږی، ياده موضوع چې د کيمياوي مرکباتو او ماليکولونو د فضايې جوړښت، د اوربيتالونو ګډېدل (هايبريډزيشن)، د ماليکولونو کرستلي جوړښت د اړيکو څرنګوالی، د بلور پيژندل، نوري ايزوميرونو، ماليکولي دياګرام او د کرستلي موادو د شکل په اړه کره معلومات وړاندې کوي د کيميا په برخه کې د زيات اهميت په لرلو سره ما هم په کتابتوني ډول په ياده موضوع څېړنه کړي او په ساده الفاظو مي موضوع تشريح کړي. تقارن هماهنګي يا معادل ته ويل کيږي کله چې يو ماليکول باندي تقارني عمل اجرا شي او وروسته له عمل نه ماليکول داسې درک شې چې له لومړني حالت سره يي توپير ونه شي نوموړي ماليکول ته متقارن ماليکول ويل کيږي. صفحه ، محور او مرکز د تقارن عناصر، ساده محوري دوران، د انعکاس عمل، د محوري دوران د انعکاس عمل او واحد عمل دتقارن له اعمالو څخه عبارت دي. هغه محوري دوران کله چې يو ماليکول د محور په شاوخوا $\frac{360}{n}$ درجو په اندازه وڅرخيږي او له خپل اولي حالت څخه يي تفاوت درک نه شي, د ساده محوري دوران په نوم، کله چي يوه صفحه د يوه ماليکول څخه تيره شي او جلا شوي دواړه خواوې يو د بل د ائيني تصوير واوسي, همدغې صفحي ته د تقارن صفحه او که چيري يو ماليکول مرکز ته راځي او وروسته له مرکز نه په عيني فاصله بدليږي يا اړول کيږي او د اړول شوي ماليکول له لومړي ماليکول سره توپير درک نه شی ياد ماليکول د مرکزي تقارن لرونکی دی,داچی ياده موضوع په کيميا کې ډيره زياته له اهميته برخمنه او اړينه موضوع ده لکه د ماليکولونو د جوړښت په تحليل او خواصو باندی د تقارن اثر د يادولو وړ دی, نو په پايله کې د کيميا ديپارتمنت په نصاب کی د دغه موضوع د ځای په ځای کولو سپارښتنه کوم.

**کليدي ټکي**: تقارن، اوربيتال، کرستل، تقارن مرکز، انعکاس، هايبريډزيشن

## ۱. سریزه

دا یوڅرګند حقیقت دی چې د کایناتو رب انسان ته عقل او پوهه ورکړې او په خپل ستر کتاب قران عظیم الشان کې یې انسانانو ته په صراحت سره فرمایلي ترڅو په مخلوق کې فکر او څېړنه وکړي. نو دهمدغه امر پر ځای کولو په خاطر ماهم د کیمیا مضمون اړوند د(تقارون اعمال او عناصر) ترسرلیک لاندې علمي موضوع باندې علمي تحقیق ته مخه کړه چې په یا ده موضوع (تقارن اعمال اوعناصر) په اړه یو څه معلومات ترتیب کړم د دې معلوماتو په لاسته راوړلو کې مې له بېلابېلو سرچېنو لکه کتابونو، علمي ژورنالونو او انټرنیټي سایټونو څخه مې ګټه اوچته کړې.او په دې موضوع کې لمړۍ دتقارن پیژندنه، دتقارن اعمال اوعناصر چې عبارت دي له سا ده محوري دوران، د تقارن صفحه،د محوري دوران انعکاس، د تقارن مرکز، واحدعمل، همدارنګه د تقارن صفحې چې درې ډوله یې۱: $\delta h$ یاافقي صفحي ۲:$\delta v$ یاعمودي صفحي ۳: $\delta d$ یا ډای هایدرال‌صفحي دي تشریح شوي دي ( میرزائی شهرائی ۱۳۹۷).

یاد موضوعات مې پدې علمي مقاله کې را نغاړلي؛ هیله ده چې د لوستونکو او د کېمیا علم د مینه والو د معلوماتو د زیاتوالي او پرمختګ سبب وګرځي.

### موخي

۱. دتقارن، اعمال اوعناصروپیژندل.

۲. دمالیکولونو دجوړښت په تحلیل کی دتقارن رول.

۳. دمالیکولونو په خواصو باندی دتقارن اثر.

## ۲. د څېړنې میتود

دغه څېړنه کتابتونی بڼه لری دیادی موضوع دښه تحلیل او تفسیر لپاره هڅه شوې چې مستند او معتبر معلومات راغونډ شی. دمعلوماتو دموندلو په موخه له بیلابیلو کتابونو، علمی مقالو او انتر نیټي ویب سایټونو څخه استفاده شوې ده. د معلوماتو د وډلو، تحلیل او تفسیر په موخه په شته معلوماتو نهایت غور او دقت شوی.

## ۳. بحث او مناقشه

لکه څرنګه چې دنیا او زموږ شا او خوا اطراف له تقارن څخه ډک دی .چې د ډیرو پیړیو(۱٦ پیړي) مخکې د توجه وړ ګرځیدلی چې د هغوی له جملې یو تصویر چې د (تناسبات بی نظیر) له کتاب څخه چې لوکاپاکیولي پواسطه لیکل شوی اثر دی اخیستل شوی .چې په هندسه، معماری او

درى بعدي ترسيم کي اهمیت لري. پنځه پیړي مخکي دلوناردو د اوینچي په خپل نبوغ باندي ترسیم کړی او دولس مخیز جوړښت لري او له ډیر لوړ تقارن څخه برخمن ده .

همدارنگه دانسان ځیره هم دصفحه یې تقارن په درلودلو سره چې غالباً دهنر مندانو په واسطه دیو ایډیالي شکل غوندي تاکید شوې دی.همدارنگه د تقارن د کارولوو له جملي د ښکلا پیژندنه (علم محسنات) د هغو دلایلو له جملي څخه دی چې د تقارن موجودیت په تکنالوجي او هنر کي ثابتوي. همدارنگه د بشر د زړه راښکونکي معمارۍ له جملي دایفل برج چې په پاریس کښې قرار لري او اهرام ثلاثه چې د قاهرې په حومه کې موقعیت لري چې هر یو یې دتقارنې جوړښت په لرلوسره دیادولو وړ ده. ( میرزائی شهرائی ۱۳۹۷ )




۱- شکل: الف د لوناردو د اوینچې نقاشي، ب د ایفل برج او ج د اهرام ثلاثه په گوته کوي.

همدارنگه ۲- شکل د ماهي په نوم نومول شوی اثر دی چې په ۱۹۵۵ کال کې د اژر بر په واسطه د لرگي په منځ جوړ شوی دی چې په همدې اثرکښې ماهیان دیوه شپږ کونجه غوري په منځ کي قرار لري او ټول ماهیان یو شان شکل لري، په دې ډول طراحي شوي دي چې بغیر له خالي فضا

څخه څنګ په څنګ قرار لري د هغوی له جملي د شپږو ماهیانو کوڅران به مرکز او د شپږو ماهیانو کوڅران دغوري په شپږو کونجونو کي قرار لري که چېري د مرکزي محور په واسطه $60^0$ درجي په اندازه پورتنی تصویر وڅرخول شي نو په دي جوړښت کي به ماهیان داسي ځای پر ځای شي چې یو ماهی به دبل عینی ماهي ځای اشغال کړي خوتنها رنګ به پکي تفاوت ولري او که چېري پورتنی تصویرته د$120^0$ درجي په څرخیدل په نظر کښي ونیول شي نو له لمړي تصویر سره به یي تفاوت نه حس کیږي ( میرزائی شهرائی ۱۳۹۷ ).



۲- شکل: د داثر ماهی شکل

همدارنګه ۳- شکل د کاشان په ښار کي د بروجردیانو د کور د چت معکوس پلان ښیي. او په واضح ډول معلومیږي چې د دي هنري اثر جوړونکي د همدې اثر لپاره څومره زحمت ګاللی دی. که چیري نوموړي تصویر ته د$180^0$ درجي په اندازه دوران ورکړو، په شکل کي موجودي کړکینې به یو دبل ځای په مکمل ډول اشغال کړي او دوهمي تصویر به د اولي تصویر سره کوم تفاوت ونلري او که چیرته پورتنی عمل دوهم واري تکرار شي ($180^0$دوهم وار وڅرخیږي) په مکمل ډول لمړی تصویر لاسته راکوي او همدغه تصویر یو بل تقارنې خاصیت هم لري چې په مخکینیو تصویرونو کي موجود نه وو، هغه دا چې که چېرته نوموړی تصویر په افقي ډول سره په دوو مساوي برخو وویشل شي نو راسته او چپه طرف کړکینې به نیمي شي پورتنۍ حصه او لاندنۍ حصه به یې یو د بل هنداریز تصویرونه وي. (پورتنې تصویر ټولي اجزاوي یي په لاندنې تصویر کښي لیدل کیږي) او که چیري په عمودي ډول هم تقسیم شي دورته خواصو درلودونکي به وي چې دا دواړه حالتونه د تقارن دصفحي په نوم یادیږي ( مېرزائی شهرائی ۱۳۹۷ ) . تقارن نه تنها چې له طبعیت، معماري او ښکلا

سره سروكار لري بلكي په كيميا كي دماليكولونو په خواصو په ځانگړي ډول دموادو په طيفونو باندي هم اغيز لري .



۳- شكل: د بروجرديانو د كور د چت معكوس پلان

دمثال په ډول كه دبنزين او كلورو بنزين دوه ماليكولونه په نظر كښي ونيسو، په ظاهري ډول سره بنزين ډېر متقارن دی نسبت كلوروبنزين ته او كه چيري د دي دوو ماليكولونو تر سره رنگ لاندي طيف مطالعه كړو نو دا راته ښيي چې دواړه ماليكونه له دوولس اتومونو څخه جوړ شوي دي او د يو اتوم لپاره ۳۰ پيكونه امكان وجود لري. اما د IR په طيف كې ۳۰ پيكونه دليدلو وړ نه دي همدا موضوع ديوه ماليكول د ډېر تقارن درلودلو پوري اړونده ده، لكه په لاندي شكلونو كي چې بنزين نسبت كلوروبنزين ته د لوړ تقارن درلودونكي دی نو د بنزين طيف نسبت د كلورو بنزين طيف ته ساده دی.




۴- شكل: د بنزين طيف




۵ - شکل : دکلوروبنزين طيف راښيي

همدارنګه په کيميا کې دتقارن په واسطه کولای شو داتومي اربتالونو تداخل، داربتالونو د تداخل اندازه ،د اتومي اربتالونو هايبريديزشن او د اتومونو ترمنځ د کولانسي اړيکې اوږدوالی، اړيکه او ډولونه يي (δ π Δ) معلوم کړو. همدارنګه د تقارن په واسطه د يو ماليکول جوړښت برسېي کول او د ماليکول اړوند د انرژي محاسبه کول اسانه کوي .او د تقارن په واسطه يو ماليکول فعال والی او غير فعال والی قطبي نور په مقابل کښې او همدارنګه د نوري ايزو مېرونو وړاندوينه کولای شي(مېرزائی شهرائی ۱۳۹۷).

حقيقت دا ده، چې عصري کيميا د موادو د ډېريدونکي شمير سره معامله کوي. هر ماليکول نه يوازې د جوړښت د اتومونو د ډول او شمير له مخې توپير لري، بلکې د اتومي ترتيب او چوکاټ له مخې هم يوشان ندی. کيدلای شي يو ماليکول د يو ډول اتومونو درلودونکي وي، مګر د فضايي شکل له قراره يو د بل سره توپير ولري. کله چې يو ماليکول د صفحې په واسطه انعکاس شي د دغو دوو ماليکولونو شکلونه يو د بل سره توپير نه لري مګر خواص يې يو د بل سره فرق لري. يا که يوه ماليکول ته د فرضي محور په شاوخوا دوران ورکول شي که يې د ورته اتومونو ځای يو دبل سره تبديل، شي په ماليکول کښې کوم تغير درک نشي دا ماليکول خپله يو تقارني ماليکول دی (ميلاردي، ۱۳۹۷).

### د تقارن عناصر او اعمال

په تقارن کې دوه مختلف مفاهيم دتقارن اعمال او عناصر چې يو له بل سره نه جلاکيدونکی تړاو لري کارول کيږي او د همدې په واسطه سره کولی شو چې تقارن درک او وپيژنو. دتقارن په موضوع د ښه پوهيدلو لپاره لازمه ده، چې د تقارن عنصرونه او اعمال چې د يو ماليکول لپاره مناسب دي وپيژنو.




٦- شکل: هغه ماليکولونه چې د تقارن څخه برخورداره دي

## تقارني عمل

هغه عمل دی چې وروسته له اعمال ديغه نه هغه جسم په داسي ډول وليدل شي چې له اولي حالت سره يي تفاوت درک نشي.دمثال په ډول لاندي شکل په نظر کښي ونيسي، چې کيدای شي د$BH_3$ماليکول چې دری مخيز (ترای ګونالي) هندسي جوړښت لري .که چيري ماليکول دمحور په شاوا خوا چې د ټکی دار خط په واسطه ښودل شوی د $180^0$ په اندازه وڅرخول شي، دوهم نمبرهايدروجن چې په محور باندي قرار لري په خپل ځای پاته کيږي، اول او دريم نمبر هايدروجنونه خپل ځايونه يود بل سره عوض کوي چې نوی حالت داولي حالت سره دجلاکيدلو وړ نه دی.په دي حالت کي پوهيږو د $BH_3$ ماليکول دوهمه مرتبه محوري دوران لري اولمړنی وضعيت يي له دويمي وضعيت سره معادل او برابر دی همدغه تاويدلو يا څرخيدلوته تقارني عمل وايي. (اقابزرګ ، عابدنی ۱۳۷۹)




۷- شکل: د $BH_3$ مالیکول دی د تقارن عملیه ښیي

**تقارنې اعمالو ډولونه**

۱. سا ده دوران عمل

۲. دانعکاس عمل

۳. دسا ده دوران او انعکاس عمل

۴. واحد عمل

**تقارنې عناصر**

تقارنې عناصر له صفحې، محور او مرکزي نقطې څخه عبارت دي کوم چې دتقارن عملیه ورباندي اجرا کیږي.دمثال په ډول لاندې شکلونه چې د اوبودوه مالیکولونه دي ، الف شکل یي دتقارن صفحه او ب شکل د تقارن محور راته ښیي.




ب: شکل		الف: شکل

۸- شکل : یاد شکل د اوبو دوه مالیکولونه دې الف شکل دتقارن صفحه او ب شکل دتقارن محور راښیي

**دتقارنې عناصرو ډولونه**

۱:دتقارن صفحه

۲:دتقارن محور

۳:دتقارن مرکز

**سا ده محوري دوران**

د یوه مالیکول د سا ده محوري دوران مرتبه هغه وخت (n) کېږي چې دهغه محور په شاو خوا د $\frac{2\pi}{n}$ اويا $\frac{360}{n}$ په اندازه وڅرخيږي اوله خپل اولي حالت سره يي تفاوت درک نشي، د سا ده محوري دوران په نوم يادېږي او د n مرتبه سا ده محوري دوران په $Cn$ سره ښودل کيږي.مثلاً که دسايکلو پنتاداين ايون په نظر کي ونيسو نوموړی ماليکول $C_5$سا ده محور لري او دکاغذ په صفحه په عمودي ډول واضح دی، منظمي پنځه ضلعي له مرکز څخه تيرېږي اودهمدې ماليکول دتقارنې عنصر دښودلو لپاره له يوي منظمي پنځه ضلعي څخه چې اصلي محور يي (پنځه مرتبه لرونکي محور $C_5^5$) دکاغذي صفحي څخه تيرېږي کار اخيستل شوی.



۹- شکل: د سايکلو پنتا ډاين آيون دی

په نوموړي ماليکول کښې چې کوم غير مستقر الکترونونه وجود لري، ياده وغورځوو او دهمدي عنصر د اعمالو تغيراتو د ښه درک کولو په خاطر د پنځه ضلعي کاربنونه شماره ګزاري کوو. د سايکلو پنتا داين ايون او دهغه د تغيراتو شکل چې د $C_5^5$نتيجه کښې راغلي وليکل شي.لکه څرنګه چې په شکل کښې ليدل کيږي، د $\frac{2\pi}{5}$ محوري دوران په شا او خوا پنځه ضلعي په داسي شکل څرخيږي چې له خپل اولي حالت سره معادل حالت غوره کوي او يا خپل اولي حالت ته راګرځي .

همدارنګه دپنځمې مرتبي علاوه د $C_5^5$ تقارنې عمل سره سره نور اړوند دی اعمال هم وجود لري دمثال په ډول د $\frac{2\pi}{5}$ دوه ځله پرله پسې څرخيدلي اعمال د ياد ايون لپاره يو نوی تقارنې عمل چې $C_5^2$ سره ښودل کيږي، حسابل کيږي او که چيري نوموړی ايون دری او څلور ځلې د $C_5$ محوري دوران په شا او خوا وڅرخول شي اوله خپل اولي حالت سره توپيرونلري دياد ماليکول نوي تقارنې عنصرونه چې په $C_5^3$او $C_5^4$ په نومونو سره يادېږي، ښودل کيږي او که چيري نوموړی ايون پنځه ځلي د $C_5$ محوري دوران په شااو خوا وڅرخول شي او له خپل اولي حالت سره يي توپير ونشي، او خپل اولي حالت ته راګرځيدل يي ديوه نوي تقارن عمل په نوم (واحد عمل ) او د (E) په توري

ښودل کيږي او يا په لنډ ډول د دوران تکراريدل د $C_n^n$ او يا $C_5^5$ مرتبي په اندازه چې يو ماليکول خپل اولي حالت ته راګرځي د واحد عمل په نوم ياديږي او د E په توري ښودل کيږي او په راتلونکو برخو کي به وليدل شي. څکه چې په ماليکول کي هيڅ کوم تغير نه رامنځه کوي ځيني وختونه يو ماليکول مختلف محورونه لري چې مرتبې يې دي .لکه د سايکلو پنتادااين ماليکول چې له $C_5^5$ پنځمي درجي دوران نه علاوه پنځه نور دوه درجه لرونکي محورونه لري چې د يادې پنځه ضلعي له راسونو څخه تيريږي او مخامخ ضلعي هم قطع کوي اوپه $C_2$ سره ښودل کيږي، اولوړه درجه لرونکي محور د اصلي محور په نوم ياديږي.




۱۰ - شکل: سايکلو پنتاډاين آيون د سا ده محوری دوران عمل ښي



۱۱- شکل: نوموړی شکل د C2 محور ښي

په سا ده محوري دوران ( $Cn$ ) کي n کولای شوی له يو نه تر لايتناهي قيمت واخلي $n = \infty$ قيمت اخيستل په خطي مرکباتو کي ليدل کيږي چې د $C\infty$ محور دماليکول په امتداد قرار لري ددې واقعي مفهوم دا ده؛ که چيري يو ماليکول د ε يا له ډيري کوچنۍ اندازې نه تر $C\infty$ پوري وڅرخوو په ماليکول کي کوم توپيراو تغير نه ليدل کيږي .لکه په لاندي شکل کي چې کاربن ډای اکسايد مرکب دی کوم چې n ترلايتناهي پوري قيمتونه اخيستي دي يعنې له لوړ تقارن څخه برخمن دی.
( David Villock,2009 )




۱۲- شکل: دکاربن دای اکساید د مرکب د لایتنا هی دوران عمل ښیي

د یادولو وړ دی چې د دوران لوری اختیاري دی خو په زیاتره کتابونو کښې لوری د عقربې مطابق څرخول کیږي او په مثبت علامه سره ښودل کیږي او که چیري د ساعت د عقربې خلاف حرکت وکړي، دمنفي علامي په واسطه ښودل کیږي نوپه همدې ډول $C_5^{+1}$ د $C_5^{+1}$ دوران $\frac{2\pi}{5}$ په اندازه دساعت دعقربی سره اړوند او که چیري $\frac{2\pi}{5}$ دساعت دعقربې مخالف حرکت وکړي د $C_5^{-1}$ په توري ښودل کیږي نو په همدې اساس د یاد مالیکول لپاره د $C_5^4$ وړ اعمال $C_5^{-1}$دی( سعیدي ۱۳۹۹).

**دتقارن صفحه**

که چیري یوه صفحه د یوه مالیکول منځ څخه تیره شي او جلا شوي دواړه خواوي یو دبل داینې تصویر واوسي، همدغي صفحي ته دتقارن صفحه ویل کیږي او په (S) سره ښودل کیږي .

که چېري یوه صفحه دتقارن د اصلي محور په خپل ځان کښې راولي دSv په نوم یادیږي چې V دVarticl له کلمي څخه اخیستل شوی او دعمودي معنا ورکوي .که چیري دتقارن محورپه صفحه باندې عمود قرار ولري د Sh په نوم یادیږی چې h د Horizontal له کلمي څخه اخیستل شوی چې معنا یې افقي دی، د میتان مالیکول په نظر کښې ونیسئ او په لاندې شکل کښې د میتان د مالیکول صفحه ښودل شوي ده او په ښکاره ډول را معلومیږي چې دمیتان د مالیکول ټول دهایدروجن اتومونه دصفحي پرمنځ کې قرار لري او دانعکاس په صورت کښې د اتومونو پر ځای کي کوم تغیر نه لیدل کیږي .نو بناءً یاد مالیکول دافقي صفحې درلودونکې دی ، همدارنګه مسطح او هموارو مالیکولونو لپاره یوه تقارني صفحه حسابیږي.د دوهمې صفحې په نظر کې نیولوسره، چې د مالیکول په صفحه په عمودي ډول قرار لري او دمیتان مالیکول یې په دوو برخو تقسیم کړی، د صفحي دانعکاس په واسطه دمیتان مالیکول دوه هایدروجنونو ځایونو ته تغیر ورکوي او منعکس کوي یې .



۱۳- شکل: عمودی صفحه



۱۴ - شکل : افقی صفحه

همدارنگه دا موضوع د $C-H$ درابطو لپاره هم صدق کوي. له انعکاس نه وروسته د رابطو ځايونه تعويضوي خو دميتان د ماليکول په وضعيت کي مخکي له انعکاس نه او وروسته له انعکاس نه کوم توپير نه ترسترگو کيږي.نو په همدي اساس وايو چې دميتان ماليکول د دوه تقارنې صفحو درلودونکي ماليکول دی اودواړه صفحي ($C_2$) اصلي محورپه خپل ځان کي لري .

له پورتنيوتشريحاتو دا په ډاگه شوه چې د انعکاس عمل تنها په تقارنې صفحه پوري اړوند عمل دی او واضح خبره ده ، چې د انعکاس عمل تکرار ماليکول اولي حالت ته راگرځوي او يا له واحد عمل ($E$) سره معادل دی(ميرزايي شهرابی ۱۳۹۷).

**دمحوري دوران انعکاس**

د محوري دوران انعکاس چې د مرکب محوري دوران په نوم هم يادېږي، په Sn سره ښودل کيږی، ديو ماليکول دمحوري دوران انعکاس درجه (n) ده. که چيري $\frac{2n}{n}$ په اندزاه دنوموړي محور په شاوخوا وڅرخيږي او بلا فاصله عمودي صفحې په واسطه په داسي ډول منعکس شي چې له اولي حالت سره دتغير وړ نه وي .لکه په لاندي مرکب کښي ښودل شوي $[Ni(CN)4]^{2-}$ او محوري دوران انعکاس يي $S_4$ دی .




۱۵- شکل: د$^{-2}$ $[Ni(CN)_4]$ ماليکول دی

دا په دي معنا ده چې که چيري نوموړی ماليکول د$C_4$محورپه شاوخوا چې Ni مرکزي عنصر څخه تير شوی د $\frac{2\pi}{4}$ په اندازه او وروسته د $C_4$ پر محور باندي عمودي صفحې په واسطه منعکس شي او لاسته راغلی حالت تفاوت يي له اولي حالت سره درک نشي او يا له اولي حالت سره يو شان وی . په دې ماليکول کښي هغه صفحه چې په $C_4$محور باندي عمود واقع ده، دماليکول خپله صفحه دی. د پام وړ خبره دا دی چې په اصلي محور باندي عمودي صفحه کيدای شي، دماليکول تقارنې صفحه نه وي لکه دلاندي ماليکول $[H_2SO_4]^{2-}$په شکل کښي ښودل شوي چې $S_4$لري اما لکه څرنگه چې ليدل کيږی، پر $C_4$محور باندي عمودي تقارنې صفحه وجود نه لري .بلکي ماليکول د $C_4$ پر محور باندي دفرضي عمودي صفحي په واسطه انعکاس ورکول شوی دی.




۱۶ - شکل: $[H2SO4\ ]^{-2}$ مالیکول دی

څیني وختونه یو مالیکول Sn محور لري، په داسي حال کي چې هیڅ وخت دوه تقارني عنصرونه Cn او په همهغه باندي عمودي صفحه وجود نه لري، دنموني په ډول یي د ایتان دمالیکول نه پوښل شوي ډول ته اشاره کولای شو، د دې کار دساده کولو لپاره دایتان دمالیکول نا پوښل شوی جوړښت دنیومن له میتود څخه استفادی شوي .په دې میتود کښې دایتان مالیکول ته $C-C$ رابطي په امتداد وکتل شي نږدي کاربن دنقطي په ډول اولري کاربن د دایرې په واسطه ښودل شوی . لکه څرنګه چې په شکل کښې لیدل کیږي ، که چیرې ایتان مالیکول ته د $C-C$ اړیکې په امتداد $\frac{2\pi}{6}$ په اندازه د $C_6$محور په شاوو خوا وڅرخول شي او سم دستي دفرضي عمودي صفحي په واسطه په داسي ډول منعکس کړي چې مالیکول دلاسته راغلي حالت او اولي حالت تر منځ تفاوت درک نشي نو په دي صورت کښې نوموړی مالیکول د$S_6$ محور درلودونکی دی او هایدروجنونوته ورکول شوي شمیرې دتغیراتو دښه درک کولو په خاطر دی.




۱۷ - شکل: نیومن جوړښت دی کوم چې دایتان مرکب دی . دمحوری دوران انعکاس عمل ښیي

په پورتني شکل کښې منځنی حالت چې د $\frac{2\pi}{6}$دوران څخه لاس ته راغلی له اولي حالت سره معادل نه دی، نو په دي معنا چې نوموړی مالیکول $C_6$ محور نه لري او په لاندي شکل کښې ښودل شوی چې نوموړی مالیکول $\delta h$ صفحې درلودونکی نه دی.




۱۸ - شکل: دنیومن جوړښت کي دانعکاس عمل د افقی صفحې په واسطه

په دي حالت کښې دوو ټکو ته اشاره کول ضروري ده، اول :دا چې ددی عملونو دوران او انعکاس ترتیب اهمیت لري .یعنې لمړی په مالیکول باندي دوران عمل او بیا انعکاس صورت نیسي . دوهم: داچې ددې دوو عملونو دپرلپسي تکرار اخیرنی نتیجه Sn دی او یا په بل عبارت $Sn = \sigma h \cdot Cn$ دی. همدارنګه په لاندې شکل کې چې ښوودل شوی ،چې $S_6$ دوهم وار تکراري یا $S_6^2$ عمل مالیکول داسي حالت ته رسي چې له اولي حالت سره یې تفاوت نه درک کیږي او همدا حالت یې د $C_3$ حالت ته ورته دی .




۱۹ - شکل: دمحوری دوران انعکاس ښیي

او یا په بل عبارت سره کولای شو، په داسې ډول یې ولیکو.

$$S_6^2 = \sigma \mathrm{h}^2 \cdot C_6^2 = EC_3 = C_3$$

په همدې اساس $S_6^3$ د $S_2$ سره معادل دی.

$$S_6^3 = \sigma h^3 \cdot C_6^3 = \sigma h C_2 = S_2$$

وروستنی تکراریدل یې په ترتیب سره د $C_3^2$ او $C_6^5$ سره معادل دی .

$$S_6^4 = \sigma h^4 \, C_6^4 = EC_3^2 = C_3^2$$

$$S_6^5 = \sigma h^5 \, C_6^5 = \sigma h \, C_6^5 = S_6^5$$

دپورتنیوو بحثونو څخه دی پایلې ته رسیږو، که چیري (n) جفت وي دهمدې (n) په اندازه تقارنې عملونه یې په Sn پوري اړوند دي چې دهغوي له جملي یې نیمایي مرکب دورانونه دي .په پورتنې ارایه شوي مثال کښې $S_2$ او $S_6$ د ناپوښل شوي ایتان لپاره د مرکب دوران اعمال دی. په ډیره اسانۍ سره کولای شو چې ورباندي مرور وکړو، که چیرته ( n ) طاق وي په دې صورت کې د 2n تقارنې عملونه په 8n پوری اړوندیږي او په معمولي ډول ویلای شو، که چیری n طاق وي نو ( $S_n^n$ ) او که چیري n جفت وي نو ( $S_n^{2n}$ ) له واحد عمل (E) سره معادل دی. ( ملاردي،۱۳۹۲)

## تقارن مرکز

د تقارن مرکز یوه نقطه ایې مالیکول دی که چیري یاد مالیکول د هرې برخې څخه مستقیم خط د یادې نقطې سره رسم کړو او د همدې خط په اندازه امتداد ورکړو د مالیکول معادلې برخې ته رسیږو چې تقارن د مرکز په نوم یادیږي او په ( i ) سره ښودل کیږي د مرکزي تقارن سره اړوند عمل اړونه یا بدلون دی.او د معکوسولو یا ( inversion ) تکرار مالیکولو خپل عادي حالت ته راګرځوي ( $i^2$ = E ) په لاندي شکل کې درې مالیکولونه چې د مرکزي تقارن درلودونکي دي ښودل شوي دي د ایتان په ناپوښل شوي فورم کې مرکزي تقارن د ( $C-C$ ) په اړیکه باندي قرار لري او د $[CoCl_6]^{3-}$ په مالیکول کې مرکزي تقارن د $CO$ په مرکزي عنصر باندي قرار لري او د بنزین په مالیکول کې په اتوم او یا اړیکه باندي قرار نلري .




۲۰ - شکل: نوموړې شکلونه دتقارن مرکز ښیي

د یادونې وړ ده، د بدلولو عمل د $S_1$ سره معادل یا ورته دی او همدارنګه $S_1$ هم دې سره ورته دی نو په همدې اساس کولای شو، ټول تقارنې اعمال په کلي ډول په دوو عنوانونوکې ۱ خاص عمل دوران او ۲ مرکب عمل دوران تقسیم کړو. (میلاردي،۱۳۹۲)

## واحد عنصر

واحد عنصر چې د E په توري ښودل کیږي او له الماني Einheit له کلیمې څخه چې معنی یې د واحد عنصر یا واحد عمل دی اخیستل شوی او په مالیکول کې هیڅ تغیر نه راولي، او کولای شو د $C_1$ محوري دوران سره ورته والی ورکړو، که چیري یو مالیکول دهر فرضي محور په شااوخوا د $360^0$ درجې په اندازه وڅرخول شي، مالیکول خپل اولني حالت ته راګرځئ د همدې توضیح په اساس ټول اجسام دهمدې تقارني عنصر درلودونکي دي حتی د $CHFClBr$ په شان مالیکولونه چې هیڅ تقارني عنصر نلري،دیاد تقاروني عنصر لرونکې دي. E په ظاهري ډول کوم خاص اهمیت نلري ولی د ګروپ په تیوری کې د توجه وړ اهمیت لري. لکه څرنګه چې مخکي ذکر شول، تقارني عنصرونه مو وپیژندل او په اړه مو معلومات ترلاسه کړل نو لازمه ده چې د ګروپ او نقطه ایي ګروپ له نظریې سره اشنایي پیدا کړو چې د تقارني اعمالو د سپړنې وسیله بلل کیږي او اخیري سرحد یې په کیمیا کې د تقارن کارول او یا کیمیا سره د تقارن پیژندل دي؛ او نقطه ایی ګروپ د یو جسم مهم تقارني اجزا ده چې خاص په هغه جسم پوري تړاو لري راپیژني او په همدې اساس ددې امکان شته چې ټول اجسام د هغو درلودونکو نقطیی ایی ګروپونو په اساس طبقه بندي کړو (سعیدي، ۱۳۹۹).




۲۱ - شکل: یاد مالیکولونه واحد عمل نبیي

### ۴. پایله/ نتیجه ګیري

تقارن په طبیعت کې په پراخه پیمانه وجود لري، له تقارن څخه د کیمیا د علم سربیره په نورو علومو کې هم کار اخیستل کیږي لکه فزیک، ریاضي ، انجینري ، د تقارن اصلي معنا همغږي یا معادل دی، تقارن یعنې په مالیکول د تقارونې عمل اجرا کول چې وروسته له عمل نه مالیکول داسې درک شي چې له لمړي حالت سره یې فرق ونشي .تقارن له بیلابیلو مفاهیمو څخه درک کولي شوو چې هغه د تقارن اعمال او عناصر دي، د تقارن عناصر په دري ډوله ویشل شوي! تقارنې صفحه ، تقارنې محور او د تقارن مرکز دی. د تقارن اعمال په څلور ډوله دي، سا ده محوري دوران عمل ، د انعکاس عمل ، د محوري دوران انعکاس او واحد عمل دی له دې عملیو څخه مو دا نتیجه تر لاسه کړه، که چیري یو مالیکول د فرضي محور په شااوخوا وڅرخول شي چې شکل یې تغیر ونه کړي نو همدغه مالیکول متقارن مالیکول دی، واحد عمل هغه عمل ده، کله چې مالیکول دمحور په شا او خوا د$\frac{360}{n}$په اندازه وڅرخول شي او خپل لومړنې حالت ته راوګرځئ. دهمدی موضوعاتو په نظرکې نیولو سره دې پایلې ته رسیږو چې تقارن په پراخه پیمانه وجود لري ، د انسان، نباتاتو خصوص ګولانو،حیواناتو، معماري او انجینري په جوړښت کې هم وجود لري .

### ۵. اخځلیکونه / سرچینې

مېرزایئ شهرابی ، مسعود؛رفعي ،عزت ؛ سلیمان نژاد ، ژانت؛ سلجوقي ،امېرشکوه؛ نوبخت ،ولي الله (۱۳۹۷) شیمي معدنې جلد ۱ .تهران : پزوهیش نواوران شریف

اقابزرګ ، حسین، عابدنی، منصور(۱۳۷۹) نظریه ګروه وتقارن درشیمې. تهران : دانشګاه تهران

مېلاردي ، محمدرضآ ؛(۱۳۹۲) اصول شیمي معدنې (۲ ) جلد۱. تهران : مبتکران پیشروان

سعیدي ،ابوالقاسم ( ۱۳۹۹ ) شیمي معدنې (۱ و ۲ آلي فلزي ) (مېکروطبقه بندي ) کارشناسي ارشد . تهران : مدرسان شریف

حسین اقا بزرګ و منصور عابدینې ، تئوري ۱۳۶۸ ګروه و تقارن درشیمي ، جهاد دانشګاهی

عرفاني ،حسین (۱۳۸۶) بلورشناسی. دانشګاه تهران : موسسه انتشارات وچاپ دانشګاه تهران

# د کچالو په کرونده کې د هرزه بوټو کنټرول

**ميرزامحمد مدثر** (*)

۱، ۲ - د غزني پوهنتون، کرنې پوهنځي، د اګرانومي څانګې استاد

* mirzamodaser9 @gmail.com

**لنډيز**

کچالو چې افغانستان ته د اميرعبدالرحمن خان په دوره کې را انتقال شوي دي اوس د دې هيواد د خلکو د غذا مهمه برخه تشکيلوي او په کابل، ميدان، غزني، باميان، بغلان، بدخشان، لوګر، ننګرهار، لغمان، پکتيا او کنړ ولايتونو کې زيات کرل کيږي. د کچالو زيات توليدات په کروندو کې د بېلا بېلو هرزه بوټو له امله زيانمن کيږي او توليدات يې د پام وړکميږي. په کچالو کې هرزه بوټي په ميخانيکي، کيمياوي، بيولوژيکي او هر اړخيزه مديريت په طريقو سره کنټروليږي، چې تر ټول مهم يې د هرزه بوټو هراړخيزه کنټرول دی. هرزه بوټي چې له اصلي نبات سره د اوبو،غذايي موادو، رڼا او اکسجن په جذب کې سيالي کوي بايد لمړی په وقايوي طريقه سره کنټرول شي(کله چې حيواني سره استفاده کيږي بايد ښه تجزيه شي، نوبتي کرنه بايد مراعات شي، له کرلو څخه وړاندې بايد کرونده له هرزه بوټو څخه پاکه شي)، له هغه وروسته که چيري په کرونده کې هرزه بوټي پيدا شي نو په ميخانيکي توګه هم هرزه بوټي کنټرول کيدای شي، خو کيمياوي کنټرول د کچالو د ناکاره بوټو لپاره اسانه او اقتصادي طريقه ده، چې د Eptc هرزه وژونکې مخکې له کښت څخه د (۴ ـ ٦) ليتره په في هکتار کی دغنم شکله او پلن پاڼو د لمنځه وړلو لپاره استعماليږی. Pendimethalin د غنم شکله او پلن پاڼو د لمنځه وړلو لپاره چې تجارتي نوم يی Stam-up دی په يو هکتار ځمکه کې ۲،۵- ۳ ليتره ورسته له کښت څخه په خاوره کې د ۱۵ سانتي متره په ژور والي سره استعماليږي. Trifloralinچې تجارتي نوم يی Traflan دی په يو هکتار کې ۱،۵- ۲ ليتره يوه هفته مخکې د شنه کيدلو څخه استعماليږي.Metribuzine مخکې له شنه کيدلو د ۰،۷ – ۱،۰ کيلو ګرام په في هکتار ځمکه کې د پلن پاڼوهرزه بوټو د کنټرول لپاره استعماليږي.Parquat چې تجارتي نوم يې Gramaxon دی خو ورځې مخکې د کچالو د شنه کيدلو څخه په في هکتار کې ۲،۵- ۳ ليتره د يو کلنو ګراسونو د له منځه وړلو لپاره استعماليږي.Metribuzin مرکب چې تجارتي نوم يې lexone يا Sencor دی مخکې له ټوکيدنې استعماليږي.

**کيلدي ټکي:** کچالو، هرزه بوټي، کنټرول

## سريزه

د کچالو انګليسي نوم (Potato )، علمي نوم يې (Solanum tuberosum ) دی. د کچالو دپيدايښت اصلي منشه په جنوبي امريکا (بوليا،پيرواوچلي) کې دی، چې په ۱۵۳۷م کال کې د هسپانويانو په واسطه له جنوبي امريکا څخه هسپانيا ته يوړل شو. زموږ ګران هيواد افغانستان ته کچالو نبات د اميرعبدالرحمن خان په وخت کې را انتقال شول، چې تراوسه پورې يې کرنه دوام لري او د کابل، ميدان، غزني، باميان، بغلان، بدخشان،لوګرننګرهار، لغمان، پکتيا او کنړ په ولايتونو کې زيات کرل کيږي. په افغانستان کې هر نفر په کلني ډول ۲۰ کيلوګرامه کچالو په اوسط شکل په مصرف رسوي. د اقتصادي اهميت او مصرف له مخې د نړۍ په کچه د يو ميليارد وګړو له خوا په مصرف رسيږي، دا نبات ٪۲۱ کاربوهايدريت په درلودلو سربيره په زياته اندازه د انرژي کالوري لري، چې د يو کيلو ګرام کچالو څخه په او سط ډول ۸۳۳ کالوري انرژي لاسته راځي. همدارنګه کچالو٪۲۱ پروتين، ٪۰،۳ غوړاو٪۱،۱ کروډ فايبرلري همدارنګه دا نبات د ( VitC  VitB2-VitB1 -VitA) ويتامينونو او ضروري امينو اسيدونو سرچينه هم ګڼل کيږي چې د پورته ياد شويو ويتامينو له ډلي څخه پکې د سي ويټامين اندازه ډيره ده او حتی د پوتاشيم، فاسفورس، او اوسپنې عناصر هم په کچالو کې موجود دي. کچالو د حيواناتو د غذا په حيث هم ځانګړی ځای لري، چې د حيواناتو د چاغيدواو شيدو په زياتوالي کې مثبتې پايلې لري. دصنعت په ډګرکې د کچالو څخه د نشايستوي اوړو، الکول، ګلوکوز او چپسو په جوړونه کې هم ترې کار اخستل کيږي. مهم توليدونکې هيوادونه يې له چين، روسيې، هند، اوکراين او امريکا څخه عبارت دي. د کچالو توليد په نړۍ کې په ۲۰۱۵ م کال کې ۳۷۵ ميلونه ټن او د کښت ساحه يی په همدې کال کې ۱۸،۸۳ ميليونه هکتاره ته رسيده.

### د څېړنې موخې

۱. د کچالو د کروندې د هرزه بوټو پيژندنه
۲. د کچالو په کرونده کې د هرزه بوټو هر اړخيز مديريت.

### د څېړنې کړنلاره

دغه څېړنه چې کتابتوني بڼه لري د يادې موضوع د ښه تحليل او تفسير لپاره هڅه شوې چې مستند او معتبر معلومات را غونډ شي. د موضوع اړوند معلومات له بېلابيلو کتابونو، علمي مقالو او انټرنيټي ويب سايټونو څخه راټول شوي دي، چې د دغه معلوماتو د تحليل او تفسير په واسطه هڅه شوې، تر څو د کچالو په کرونده کې د هرزه بوټو د هراړخيز کنټرول لپاره غوره لارې چارې روښانه شي.

## بحث او مناقشه

**د هرزه بوټیو تعریف :** د لومړي ځل لپاره یوه انکلیسی عالم په نامه د (Jethro Tull) هرزه بوټی د نا غوښتل شوو نباتاتو په حیث معرفی کړل. هرزه بوټی هغه نباتات دي چی په یوه نامناسب ځای کی شنه شوي وی. یا په بل عبارت هرزه بوټي هغه نباتات دي چی د بزګر له خوښې پرته په کرونده کې شنه شوي وي او د رڼا، اوبو او غذایي موادو لپاره د کچالو له بوټو سره سیالي وکړي د هرزه بوټو په نامه یادیږي(شریفی،۱۳۹۹).

**د هرزه بوټو علم (Weeds Science):** هغه علم دی چې د بې ځایه او بې وخته را منځته کیدونکو بوټو د پیژندلو او د هغوی د مخنیوي، کنترول او اداره کولو څخه بحث کوي (زیار، ۱۴۰۰).

**د هرزه بوټو د کنترول هدف**

د لاندې دلایلو په اساس د کچالو په کرونده کې هرزه بوټي باید اداره شي.

۱ـ هرزه بوټي د رڼا، اوبو او غذایي موادو لپاره د کچالو له بوټي سره سیالي کوي.

۲ـ هرزه بوټي د نورو آفتونو لکه نارغۍ ، حشرات، نیماتودو د کوربه په توګه کار کوي .

۳ـ هرزه بوټي د کچالو حاصلات د کمیت او کیفیت له نظره را ټیټ وي.

۴ـ د ځمکې ارزښت کموي یا راټیټوي.

۵ـ د کروندې ځمکه محدودوي.

٦- د حاصلاتو د راټولولو او آبیاری پروسه د ستونزو سره مخ کوي او لګښتونه یې زیاتوي.

٧- د بوجې کولو په وخت کې د اصلي نباتاتو ریښې او نورې برخې زیانمن کیږي.

**هرزه بوټې د ودیزو خواصو له مخې په لاندې ډول سره طبقه بندي کیږي**

**الف: یو کلن هرزه بوټی Annual weeds**

یو کلن ناکاره بوټي بشپړه وده په یو موسم کې تر سره کوي، د یو څو اونیو، یو څو میاشتو، یا زیات تر یو کاله پورې ژوندې وي. په دې دوران کې دوی ګلان تولیدوي او تخمونه جوړوي، او یا د موسم په پای کې خپل ژوند له لاسه ورکوي. د ځانګړي وده ئیز موسم مطابق دوی ته د دوی د *برسیرنو ناکاره بوټو* په فرعي کلاس کې ځای په ځای شوي دي لکه *Cynodon dactylon*، *Agropyron repens*، *Scirpus* spp.، *Cyperus esculentus*، *Allium vineale*، او *Rumex*

*crispus*. د زیاتو څو کلنو ناکاره بوټو د ځمکې لاندې سیستمونه تر ۱ متره پورې ژور موقعیت لري (زیار، ۱۴۰۰).

۱ـ Summer annual weed : د دوبي یو کلن هرزه بوټې په پسرلي او دوبي کې د تخم په وسیله وده کوي او په ژمي کې خپل ژوند پای ته رسوي.

۲ـ Winter annual weeds : دا هرزه بوټي په مني او ژمي کې خپل ژوند ته ادامه ورکوي او راتلونکې کال په دوبي کې تخم تولیدوي او ژوند یې هم پای ته رسیږي. د یو کلنو هرزه بوټو تکثر د دوی د تخمونو په تولید پورې اړه لري دا هرزه بوټي لکه وحشی یولاف، روسي اغزې اونور(شریفی،۱۳۹۹).

**ب: دوه کلن هرزه بوټي Biennial weeds**

دوه کلن هرزه بوټي هغه نباتات دي چې په لومړي کال خپله جسمې وده کوي او په دوهم کال ګل او میوه تولید او له منځه ځي، دا هرزه بوټي په دوه کالونو کې خپل ژوند پای ته رسوي لکه وحشي زردکي(زیار، ۱۴۰۰).

**ج: څو کلن هرزه بوټي Perennial weeds**

ددې ډول هرزه بوټو ژوند له دوو کلونو څخه زیات دی او خپله د ژمي موسم د یو کال څخه تربل کال پورې د ځمکی په سر یا د ځمکې لاندې تیروي. دا هرزه بوټي په ځمکه کې دننه سربیره پر ریښو متحوله ساقي هم لري ددې هرزه بوټو کنترول یوه اندازه ګرانه تماميږی، دا ځکه چې د پورتنۍ برخي په له منځه وړلو سره د ځمکې لاندې برخه وده کوي یا په بل عبارت دا هرزه بوټي د دوه کالونو څخه زیات عمر لري، په لومړي کال جسمي وده کوي او بیا ورپسې نورو کالونو کې ګل او میوې تولیدوي لکه Milk weeds(شریفی،۱۳۹۹).

**د هرزه بوټو خپریدنه**

**۱: طبعي سرچینې Natural Sources**

**الف. د حیواناتو او آلوتونکو په وسیله:**

کورني او وحشي حیوانات او آلوتونکې د ډیرو هرزه بوټو د تخمونو په خپریدو کی مهم رول لري، د اکثرو هرزه بوټو تخمونه د حیواناتو او آلوتونکو د هضمي جهاز څخه تیریږي او د څړ په وخت کې بیرته په کرونده کې خپریږي او په مناسبو شرایطو کې تیغه وهي او راشنه کیږي.

**ب. د باد او اوبو په وسیله:**

د یو شمیر هرزه بوټو د تخمونو فزیکي شکل د هغوی په خپریدو کې د یادونې وړ مرسته کوي. لکه لوخي، نی، لته اغزي، شیرکیا، د پسرلي گل او ځینې نور یې غوره مثالونه دي. ددې ډول هرزه بوټو تخمونه د نریو او پت ډوله ویښتانو پوسیله پوښل شوي وي. جې د باد په وسیله په آسانۍ سره خپریږي.

د لمر گلي کورنۍ (Compositae) میوه چې له دې جملې څخه ژیړ گلی، گل کوشواره، پرکلی، کاهو او یو شمیر اغزي د پراشوټ ډوله جوړښتونو لرونکې دي. او همدارنکه په مستقیم ډول سره هم د ځمکې پرمخ باد د هرزه بوټو تخمونه په حرکت راولي. د یو شمیر هرزه بوټو تخمونه په اوبو کې لامبووهونکې وي، او د سیلابونو، نهرونو او ویالو د اوبو په وسیله د یوه ځای څخه بل نوي ځای ته خپریږي چې له دې جملې د مستکو کورنۍ (Cypraceae) میوه چې د هوایي کڅوړو لرونکې ده د اوبو په سطحه د هغوی په خپریدو کې مرسته کوي.

**۲: مصنوعي سرچینې (Artificial Sources)**

د هرزه بوټو د خپریدو فعال عامل پخپله انسان گڼل شوی دی ځکه چې د کرنې هر محصول چې د یوه ځای څخه بل ځای ته انتقالیږي د هرزه بوټو یوه اندازه تخمونه هم ورسره انتقالیږي چې البته په ډیرې پاملرنې سره د دا ډول خپریدو مخنیوی کیږي.

په کرونده کې د تازه حیواني سري استعمال دهرزه بوټو د تخمونو د خپریدو سبب کیږي خو باید یادونه وکړو چې د (۳-۶) میاشتو د حیواني سري په زیرمه کولو سره د هغوی ټول تخمونه تقریبا له منځه ځي او له دې مودې څخه مخکې باید حیواني سره کروندې ته یونه وړله شي. کرنیز ماشین آلات، قلبه، کمباین او تراکتور هم ښایي د هرزه بوټو تخمونه له یو ځای څخه بل ځای ته یوسی. قلبه یا ماله د هرزه بوټو ساقې او ریښې تر خاورو لاندې کوي او د هغوی د تکثیر سبب کرځي.

**د هرزه بوټو وقایوي کنټرول (Preventional Control of weeds)**

د هرزه بوټو کنټرول د نورو اکثره کرنیزو افتونو په شان په دوو اساسي طریقو وقایوي او معالجوي سره امکان لري، د هرزه بوټو وقایوي کنټرول د معالجوي کنټرول په پرتله د ناچیزه یا کمو مصارفو غوښتنه کوي. چې د وقایوي کنټرول عمده طریقې په لاندې ډول دي.

۱- د تخم د تولید څخه مخنیوی: نږدې د ټولو هرزه بوټو د نسل بقا د تخم په تولید پورې اړه لري نو که چیرې د هرزه بوټو د تخمونو د تولید څخه مخنیوی وشي نو د هغوی تر کنټرول لاندې راتلای شي.

د هرزه بوټو د تخم د تولید څخه د مخنیوي یوه غوره لاره داده چی هغه باید په یوه مناسبه مرحله یعنې مخکې د ګل له مرحلي څخه قطع شي.

۲- د هرزه بوټو د قطع شویو برخو او له حاصل اخیستلو څخه وروسته د نباتې پاتې شونو سوځول هم د هرزه بوټو د تخمونو په کمښت کی مهم رول لوبوي.

۳- د کرنیزتناوب په عملي کولو سره هم د هرزه بوټو تخمونه له منځه ځي .

۴- د هرزه بوټو د تخمونو څخه د آبیارۍ د اوبو پاکول د تخمونو راټولونکو جالو پوسیله. همدارنګه د ویالو او یا د اوبو د سرخلاصو سیستمونو په ځای د پایپونو څخه ګټه اخیستل د هرزه بوټو د تخمونو د خپریدو زمینه راکموي.

۵- مخکی د کښت یا دشنه کیدو څخه د هرزه بوټو وژونکی درمل (Herbicides) استعمال د هرزه بوټو پوره مخنیوی کولای شي.

**د هرزه بوټو معالجوی کنټرول ( Weeds Treating control)**

د هرزه بوټو معالجوي کنټرول د وقایوي کنټرول په پرتله زیاتو لګښتونو ته اړتیا لري، کله چې د وقایوي کنټرول د لاروچارو په عملي کیدو سره د هرزه بوټو مخنیوی ونه شي. نو د معالجوي کنټرول د طریقي عملي کیدو ته اړتیا پیداکیږي تر څو د معالجوی طریقې څخه په ګټې اخیستنې سره د کروندې هرزه بوټي په آسانی سره کنټرول شي.

**د معالجوي کنترول طریقي:**

**۱. میخانیکې طریقه Mechanical Methods**

- د لاس په وسیله د ناکاره بوټو ایستل.
- د بیلچي او کدمن په وسیله د هرزه بوټو پریکول.
- د پرمخ تللو ماشین آلاتو په وسیله د هرزه بوټو له منځه وړل.
- هرزه بوټو تر اوبو لاندې کول (په اوبو کې غرق کول).
- د هرزه بوټو سوځول.
- د هرزه بوټو خفه کول یا ملچ میتود کارول.

**۲. د کرلو او رقابت طریقي**

نوبتي کرنه، د قوي رقابت کوونکو کرنیزو نباتاتو کرل، کرنیزي عملیې، د تخم اندازه ، کرلو وخت او د کرنیز نبات له ډول څخه عبارت دی.

نوبتي کرنه : د وخت په اوږدو کې په یوه ساحه کې په یو او بل پسې د مختلفو نباتاتو کرلو ته وایی، د نوبتي کرنې د عمده هدفونوڅخه یو هم د هرزه بوټو مخنیوی دی.

**د بیولوژیکې کنټرول طریقي د پرازیټونو په ګډون**

د حشرو، نباتی ناروغیو د عاملینو او نورو په وسیله د نباتاتو بیولوژیکې مخنیوی دی چې د ځمکې پر مخ د نباتاتو په ښکاره کیدو سره پیل شوی. خو په عالي او پر مختللي ډول یعنې په مصنوعي طریقو سره د هرزه بوټو بیولوژیکې کنټرول د شلمي پیړۍ په پیل کې د اهمیت وړ وګڼل شو. که چیري د هرزه بوټو بیولوژیکې مخنیوی د طبعی ښکار کوونکو په وسیله په ښه ډول تر سره شی چې دا یو ارزانه او دوامداره کنټرول دی د بیولوژیکې طریقي څخه په پراخو ساحو کې لکه څرځایونه، کرنیرو نباتاتو، ځنګلونو، د میوو باغونو، تفریحي ځایونو، د سړکونو د غاړو، د اوبو د لارو او نورو کې ګټه اخیستل کیږي.

**کیمیاوي کنټرول Chemical methods**

د هرزه بوټو کیمیاوي کنټرول د شلمي پیړۍ په دوران کی ترسره شو. هغه کیمیاوي درمل چې د هرزه بوټو د وژلو یا له منځه وړلو لپاره استعمالیږي د واښو وژونکو په نوم یادیږي. واښه وژونکې د استعمال او په نباتاتو باندې د اغیزو له مخي په لاندې ډولونو ویشل شوي.

- Eptc : هرزه بوټی وژونکی مخکې له کښت څخه د (۴ ـ ۶) لیتره په هکتار کې دغنم ډوله او پلن پاڼو د لمنځه وړلو لپاره (۵ ـ ۸) سانتي متره په ژوروالي سره په خاوره کې کاریږي.
- Pendimethalin: دغنم ډوله او پلن پاڼو د لمنځه وړلو لپاره چې تجارتي نوم یی Stam-up دی په یو هکتار ځمکه کې ۲،۵-۳ لیتره ورسته له کښت څخه په خاوره کې د ۱۵ سانتي متره په په ژور والي سره استعمالیږي.
- Trifloralin : چې تجارتي نوم یی Traflan دی په یو هکتار کې ۱،۵-۲ لیتره یوه هفته مخکې د شنه کیدلو څخه استعمالیږي.
- Metribuzine : مخکې له شنه کیدلو د ۰،۷ – ۱،۰ کیلو ګرام په في هکتار ځمکه کې د هوارو پاڼو لرونکو د کنترول لپاره استعمالیږي.
- Parquat چې تجارتي نوم یی Gramaxon دی څو ورځې مخکې د کچالو د شنه کیدلو څخه په في هکتار کې ۲،۵-۳ لیتره د یو کلنو ګراسونو د له منځه وړلو لپاره استعمالیږي.
- Metribuzin مرکب چې تجارتي نوم یی lexone او Sencor مخکې له جوانه وهلواستعمالیږي.

❖ د DNBP هرزه وژونکی هغه وخت چې د کچالو اولنی بوټی راښکاره شي استعماليږي او يوکلن هرزه بوټي په اسانی سره کنټرول کوي(شريفی،۱۳۹۹).




۱- شکل: د کچالو په کرونده کې د هرزه بوټو د کيمياوي کنټرول لپاره بېلابېلو هرزه وژونکي

**پايله اخيستنه**

دا چې په افغانستان کې بزګران د کچالو د هرزه بوټو د مشکل سره لاس او ګريوان دي نو ځکه د کچالو د حاصل د کموالې سبب ګرځي او هغه هرزه بوټي چې د کچالو په کرونده کې بزګران ورخڅه په تنګ راغلي د ځينو مهمو محلي نومونه يې له (پياورکی، پنډی، ښورکی، پيروتي، ژيړګلی، تاج خروس ، د جرګ پنجه، ګندمک او کورغ) څخه عبارت دي.

هرزه بوټي هغه نباتات دي چې د بزګر له خوښي پرته په کرونده کې شنه کيږي او د رڼا، اوبو او غذايي موادو لپاره د کچالو له بوټو سره سيالي کوي د هرزه بوټو په نامه ياديږی. هرزه بوټي بايد لمړی په وقايوي طريقه سره کنټرول شي يعني په کرونده کې د تازه حيواني سري استعمال دهرزه بوټو د تخمونو د خپريدو سبب کيږي خو بايد يادونه وکړو چې د (۳-۶) مياشتو پورې د حيواني سري په زيرمه کولو سره د هغوی ټول تخمونه تقريبا له منځه ځي، نوبتي کرنه بايد مرعات شي، مخکې دکښت څخه هرزه بوټی بايد په کرونده کې له منځه يوسو همدارنګه په کرونده کې د هرزه بوټو د تخم له توليد څخه بايد مخنيوی وشي، د هرزه بوټوسوځول هم د هرزه پوټو تخم له منځه وړلای شي. په مخانيکي شکل سره هم کنترو ليږي لکه دلاس، بيل اونورو فلزي وسايلو پواسطه د کچالو د ودې په دوران کې له يوه څخه تر دری يا څلور ځلې پوجې ترسره کيږي دغه عمل په عيني وخت کې خاوره نرموي او د کچالو د ټيوبرونو د ودې امکان زياتوي. کيمياوي کنټرول د کچالو د ناکاره بوټولپاره ښه ، اسانه او اقتصادي طريقه ده.

**مأخذونه**

احمدي، محمد شعیب، شریفي، محمد ظریف. (۱۳۹۹) مبادی کنترول وشناسائی گیاهان هرزه، پوهنتون کابل.

خواجه پور، محمد رضا. (۱۳۹۷) نباتات صنعتي ، د اصفهان د ټکنالوژۍ پوهنتون، ۲۰۱۵، ۲٦۰، ۳۵۹، ۴۱۳ مخونه.

زیار، یوسف خان. (۱۴۰۰) د ناکاره بوټو د اداره کولواساسات او عملي کړنې، پکتیا پوهنتون

شریفي، محمد ظریف، (۱۳۹۸) نباتات صنعتي، کابل پوهنتون.

کریمي، هادي. (۱۳۷۵) نباتات زراعتي د تهران پوهنتون،

Ahmadi, M ,S, and M, Y, Mohsini, ( 1982 ) principlrs Of Weed Seience, Kabul University ,PP, 209-242.

Carpenter, A,T, and ,T,A, Murray. (2013) Rhaponticum repencs Center for Invasive Species and Ecosystem Health at the University of Georgia Available at: httq://Wiki.buwood.org/Rhaponticum repens.

Chirita, R, Grozwal, L, Sarpe, N, Lauer, KF, (2008) control of Sorghum Halepense (I.,) species in Western part of Romania. *CmmunAgric Appl Biol Sei.* 73:950.964.

Cudney, D,W, C, I, Elmore, R, H., Moliner. (2006). Dandelion. Integrated Pest management for horne Gardeners and Landscape professionals University of California Agriculture and Natural Resources. PP. 1-3.

Cudney, D,W., C I., Elrnore, R. H. Moliner. (2007). Berinudagrass Integrated pest management for horne Gardeners and Landscape professionals University of California Agriculture and Natural Resources. PP. 1-4.

DiTomaso, J.M. G.B Kyser. (2013). Quackgrass. Weed Control in Natural Areas in the Western United States Weed Research and information Center, University of California. PP.1-3.

DiTomaso, J.M. G.B Kyser. (2013). Weed Control in Natural Areas in the Western United States Weed Research and information Center, University of California. PP.1-2.

DiTomaso, J.M. G.B Kyser. (2013). Rumex crispus l. ( curly dock), Weed Weed Control in Natural Areas in the Western United States Weed Research and information Center, University of California.PP.1-4.

Fernandez, O. N. (2003). Stablishment of Cynodon dactylon from stolon And Rhizome Fragments European Weed Research Society, 43:130-138.

Gale, (2004). Weed of the Week: Ribwort. (plantago lanceolatal.)

Availableat: https://www.pitchare.com/magazine/weed-of-the Week-plantago-lanceolata-ribwort-plantain.html.

# له ۱۳۸۷ تر ۱۳۹۷ کلونو پورې د افغانستان د پرمختيايي بودجې د نه مصرف دلايل

وحيدالله امين[۱(*)] او حميدالله نوري[۲]

۱، ۲ - د غزني پوهنتون، اقتصاد پوهنځي، د مالي او بانکي څانګې استادان

* Waheed.amin.2014@gmail.com

**لنډيز**

د پرمختيايي بودجې د اهميت په نظر کې نيولو او په اقتصادي وده او پرمختيا کې د هغې رول ته په کتو سره د افغانستان دولت په ۱۳۸۷ څخه تر ۱۳۹۷ کلونو کې پرمختيايي بودجه په کامله توګه په مصرف نه ده رسولې، چې په دغه مقاله کې د پرمختيايي بودجې د نه مصرف او لږ مصرف په دلايلو باندې بحث شويدي. د څېړنې موخه د هغې عواملو پېژندنه ده چې د نوموړې بودجې په کم مصرف باندې اغيز لرونکي دي. په دغه مقاله کې له کتابتوني روش څخه ګټه اخيستل شوې او توصيفي بڼه لري. د څېړنې موندنې ښيي چې؛ د بودجې جوړونې مرکزي کېدل، په حکومت کې د بروکراسي شتون، د ملکي خدمتونو د کارمندانو ټيټ ظرفيت او د بودجې ناوخته تصويب د نوموړې بودجې د کم مصرف دلايل بلل شويدي. له دې څخه پرته د بودجې د تصويب ځنډيدل او د ماليې وزارت له لورې د حوالو تر سره کيدل له ۳۰ زياتې کاري ورځې په بر کې نيسي. د دې لپاره چې حکومت له پورته دلايلو سره مجادله وکړي، بايد ادارو ته صلاحيت ورکړي، بهرنۍ پانګونې د مالياتي معافيتونو او د اداري پروسو په ساده کولو سره تشويق کړي او اداري او تدارکاتي قوانين او مقررات اصلاح کړي.

**بنسټيزې ګړنې**: بروکراسی، بودجه او پرمختيايي بودجه.

**سريزه**

ملي بودجه د عامه پاليسي د مهمو او اساسي وسايلو څخه ده چې په يوه هيواد کې د عوايدو د ټولولو او د منابعو د ويش ښکارنده ده. همداشان ملي بودجه د خلکو او دولت تر منځ د انعطاف نقطه ده چې اول دولت ماليه ټولوي او وروسته يې د خدماتو د وړاندې کولو له لارې په مصرف رسوي. په اوسني عصر کې د معاصرې دنيا له اساسي او مهمو پديدو څخه يوه يې پرمختيايي بودجه

ده چې په اقتصادي پرمختیا، د تولنیزې سوکالي په تامین او ټولنیزه پرمختیا کې مهم او نه هیریدونکی رول لوبوي او د ملي او نړیوال اقتصاد مهمه برخه جوړوي.

که څه هم چې د څېړنیزو ارګانونو له لوري د پرمختیایي بودجې د لږ مصرف په باره کې مختلفې نظریې شتون لري؛ د مثال په توګه، د افغانستان د روڼتیا ناظرین(۲۰۱۷)، عقیده لري چې په بودجه جوړونه کې د خلکو د استازو مداخله، د کارکوونکو ټیټ ظرفیت د بودجې د نه مصرف کیدلو د اساسي عواملو په ډول معرفي شویدي. مګر د بل طرفه کلیستوس او کلینتون(۲۰۱۶) د انکشافي بودجې د نه مصرفېدو په باره کې د نظارت او ارزونې په رول باندې تاکید لري. سره له دې چې په ۱۳۹۷ کال کې ۹۳ سلنه پرمختیایي بودجه مصرف شوېده، مګر له ۱۳۸۷ تر ۱۳۹۷ کلونو د هغې ۵۳,۳ سلنه مصرف بیانوي او پاتې ۴۶,۹۷ سلنه د ملي پروژو د نه تطبیق کیدو ښکارنده ده.

ټول اقتصادي فعالیتونه په ځانګړي ډول هغه چې د صنعت او خدماتو په برخه کې تر سره کیږي د پرمختیایي بودجې سره اړیکه لري او د مناسبې پرمختیایي بودجې پرته اقتصادي وده او حرکت ناممکن دي. د پرمختیایي بودجې لږ مصرف د ډیرو دولتي او نړیوالو سازمانونو د توجه وړ موضوع ګرځیدله ده.

## د څېړنې موخې

۱. د نوموړې څېړنې مهمه او اساسي موخه د پرمختیایي بودجې په نه مصرف باندې د اغیز لرونکو عواملو پیژندنه ده.
۲. همدارنګه د دغه ستونزې لپاره د حل لارو پیدا کول د څېړنې بله موخه ده، تر څو پرمختیایي بودجه په ښه ډول مصرف او د منابعو د ضایع کیدو مخه ونیول شي.

## د څېړنې پوښتنې

**۱.** له ۱۳۸۷ څخه تر ۱۳۹۷ کلونو پورې د افغانستان د پرمختیایي بودجې د نه مصرف عوامل کوم دي؟
**۲.** د پرمختیایی بودجې د بشپړ مصرف لپاره معقولې حل لارې کومې دي دي تر څو د سرچینو له ضایع کیدو څخه مخنیوي وشي؟

## د څېړنې مخینه

کومې څېړنې چې د پرمختیایي بودجې د نه مصرف په باره کې تر سره شوې دي یو یې د توتاخیل(۲۰۱۱) له لوري تر سره شوې څېړنه چې د هغه له نظره د غیر موثرو پالیسیو جوړونه، د

اداراتو تر منځ نه همغږي، په دولتي اداراتو کې زيات تغيرات، رشوت او ناامنی د بهرنيو مرستو او د پرمختيايي بودجې د نه مصرف او غير موثرې استفادې د عواملو په توګه معرفی کړيدي.

په پلان جوړونه کې ستونزې د پرمختيايي بودجې د لږ مصرف د عامل په حيث معرفي شويدي(بنديرا او بلوم، ۲۰۱۶). غير واقعی بودجه جوړونه، د يوه کال څخه بل کال ته د غتو او زياتو مبالغو او پيسو انتقال، په مختلفو ځايونو کې د پانګونو غير مصئون وضعيت د بودجې د نه او موثر مصرف د دلايلو په توګه په ګوته شويدی(افضلی او تيموري، ۲۰۱۷). د عظيم (۲۰۱۹) له لوري تر سره شوې څېړنه بيانوي چې د پرمختيايي بودجې د سم او په وخت د نه مصرف عوامل؛ ناامنی، د پروژو ضعيفه ارزونه او نظارت، د وخت نا سم مديريت دي.

## د څېړنې روش

دا څېړنه د موخې له اړخه تطبيقي، د اطلاعاتو راټولولو د نوعيت له اړخه ريويو يا کتابتوني او د ماهيت له مخې بيا توصيفي بڼه لري.

په ټوليز ډول د دغه مقالې د اوليه پيژندنې په پار، کې له اسنادي روش او انټرنيټي او عملي پلټنې څخه ګټه اخيستل شوېده. د استفادې وړ وسايل؛ معتبر علمي آثار، مکتوب اسناد، د اعتبار وړ ويب سايټونه دي. په احصائيوي جامعه کې ټولې دولتي اداري چې پرمختيايي بودجه تطبيقوي، شامليږي.

## د څېړنې موندنې

د افغانستان دولت له ۱۳۸۷ تر ۱۳۹۷ کلونو پورې د ملي پرمختيا ستراتيژۍ په نظر کې نيولو سره موخو ته د رسيدو په پار بودجه ترتيب او مصرف کړېده.




۱ انځور: له ۱۳۸۷ تر ۱۳۹۷ کلونو پورې د دولت عادی او پرمختيايي بودجه ارقام په ميليارد افغانی




۲ انځور: له ۱۳۸۷-۱۳۹۷ مالي کلونو پورې د ملي بودجې د تمویل منابع

سرچینه: د ۱۳۸۷ څخه تر ۱۳۹۷ کلونو پورې تصویب شوې بودجې

لکه څرنګه چې په ۲ انځور کې لیدل کیږي، له ۱۳۸۷ تر ۱۳۹۱ کلونو پورې د ملي بودجې په تمویل کې د بهرنیو مرستو سلنه کمه وه، په داسې حال کې چې له ۱۳۹۲ تر ۱۳۹۴ مالي کال پورې د بودجې زیاته برخه د بهرنیو مرستو له طریقه تمویل شوېده. د یادولو وړ ده چې له ۱۳۹۴ کال وروسته بهرنۍ مرستې کمې شوې چې د ملي بودجې د تمویل ۵۲,٦ سلنه جوړوي او داخلي عواید زیات شویدي.




۳ انځور: له ۱۳۸۷ تر ۱۳۹۷ کلونو پورې د پرمختیایي بودجې د مصرف سلنه

سرچینه: د مالیې وزارت د AFMIS سیستم

څرنګه چې په ۳ انځور کې لیدل کیږی، په ۱۳۸۹ ل.ل کال د پرمختیایي بودجه د مصرف اندازه تر ټولو کمې یعنې ۳۹ سلنه او په ۱۳۹۷ کې یې د مصرف سلنه تر ټولو زیاته یعنې ۹۳ ته رسیږي. دا چې په ۱۳۹۷ کال کې د پرمختیایي بودجې د مصرف سلنه زیاته شوې دلیل یې د تیر کال په نسبت

د هغې ۱۷,۷۲ سلنه کمښت او د ۱۳۹۵ کال په نسبت ۳۲,۶۲ سلنه کموالي دي. له د څخه اضافه د ماليې وزارت (۵۰۹۸۹۶۸۱۰۸) افغانۍ د اړوند اداري له موافقې او د ولسي جرګې د منظورۍ پرته د اختياري پرمختيايي بودجې څخه کمې او د نورو ادارو په بودجه يې اضافه کړيدي(د ۱۳۹۷ مالي کال قطعيه حساب: ۹۳).




۴ انځور: له ۱۳۸۷ تر ۱۳۹۷ کلونو پورې د پرمختيايي بودجې د نوعيت په اساس د مصرف سلنه

سرچينه: د ماليې وزارت د AFMIS سيستم

له ۴ انځور څخه نتيجه تر لاسه کيږي چې له ۱۳۸۷ تر ۱۳۹۴ کلونو پورې د غير اختياري بودجې د مصرف سلنه نسبت اختياري ته زياته ده، مګر تر ۱۳۹۱ کال پورې يې د مصرف سلنه ۹۴ سلنه او په ۱۳۹۲ او ۱۳۹۳ کلونو کې دغه توپير تر ۳۹ سلنو پورې رسيدلې دي.

کله چې په ۱۳۹۳ کال کې د اختياري پرمختيايي بودجې ۲۰ سلنه د حکومت لخوا مصرف شوه، د مختلفو وزارت خونو له لورى د بودجې په مصرف کې اصلاحات راغلل تر څو دغه فاصله کمه او دولت د خپلې اختياري بودجې په مصرف باندې قادر کړي، چې په پايله کې د اول ځل لپاره په ۱۳۹۴ مالي کال کې د اختياري پرمختيايي بودجې د مصرف اندازه ٦ سلنه زياته شوه.

## د پرمختيايي بودجې په مصرف باندې د بودجې د ترتيب او اجرا د پړاوونو د مرکزي کيدو د اغيزو تحليل او ارزونه

د محلي حکومتولي نظام لمنه پراخه ده، سره له دې چې په هيواد کې عامه چوپړتياوې د محلي اداري واحدونو له لوري وړاندې کيږي، مګر د دغه چوپړتياوو اړوند کليدي تصميم نيونه د عمومي اړيکې د ماډل او مراتبو د سلسلې په اساس د مرکزي حکومت له لوري نيول کيږي.

د بودجې ترتيب او اجرا مرکزي کيدل د دې لامل شول چې د پرمختيايي بودجې مديريت په مرکز کې محدود شي او دوهمي واحدونه په مستقل ډول د خپلې بودجې د ترتيب او اجراء توانايي د لاسه ورکوي.

**په دولتي ادارو کې د پرمختيايي بودجې په مصرف باندې د بروکراسي د اغيزو تحليل او ارزونه**

بروکراسي د تدارکاتي پروسې د اوږدېدو لامل کيږي، لکه څرنګه چې د تدارکاتو د طرزالعمل مطابق د ارزونې حداکثر وخت ۳۰ کاري ورځې او د يو ځل لپاره د تعديل وړ دي. د يادونې وړ ده چې د ماليې وزارت مالي او تکراري پروسې د زياتو کاغذ پرانيو لامل کيږي، لکه د يوې حوالې د اجرا په پار اداري د لاندې مراحلو په طی کولو باندې مکلفې دي؛ ۱ـ د مالي پلان ترتيب او په ماليې وزارت کې يې طی مراحل ، ۲ـ د تخصيص ترتيب او د ماليې وزارت کې يې طی مراحل ، ۳ـ د حوالې جوړول او په وزارت کې يې طی مراحل او ۴ـ که حواله ولايتي وي، د ولايت په سطحه هم د حوالې ترتيب اړين دي. د پورتنيو پړاوونو په نظر کې نيولو سره ليدل کيږي، چې بروکراسي او د پروسو نه ديجيټلي کيدل د پرمختيايي بودجې د نه مصرف يو مهم او اساسي لامل دي.

**د پرمختيايي بودجې په مصرف باندې د ملکي خدمتونو د کار کوونکو د ټيټ ظرفيت د اغېزو تحليل او ارزونه**

د کارکوونکو ټيټ ضرفيت ستونزې ټول حکومت نيولي وو او حد اقل دوو وزارتونو په علني توګه دغه موضوع قبوله کړيده، چې د هغې کارکوونکي موخو ته د رسيدلو وړتيا نه لرله. په ۲۰۱۵ ز. کال کې، د معدن او پطروليم وزارت، دغه موضوع د راپور په وړاندې کولو سره واضح کړه چې، کارکوونکي يې په جيوژيکي سروې او د معدنونو د تدارکاتي پروسې د مخته بيولو او د خصوصي کمپنيو د نظارت وړتيا او توانايي نه لرله[1].

د ادارو د کارکوونکو تدارکاتي ظرفيت ټيټوالي د دې لامل شو، چې د تدارکاتو ملي اداره تدارکاتي آسانتياوې منځته راوړي او د داوطلبي د اسنادو په تهيه کې له هغوی سره مرسته وکړي چې دغه کار په خپله د تدارکاتي پروسو د اوږديدو لامل شو.

**مناقشه**

نوموړې مقاله په اقتصادي وده او نړيوالو مرستو کې زياتوالي د پرمختيايي بودجې د مصرف اهميت ته په کتو سره ليکل شوېده، د پرمختيايي بودجې په لږ مصرف باندې مستقل او اغيز لرونکي متغيرين؛ د بودجې د ترتيب او اجر مرکزي کيدل، په دولتي ادارو کې د بروکراسي شتون، د ملکي خدمتونو د کارکوونکو ټيټ ظرفيت او د بودجې ناوخته تصويب دي. د پرمختيايي بودجې د لږ مصرف علت، د بودجې د ترتيب او اجرا پړاوونو مرکزي کيدل دي، چې اداري د حوالو د اجراء په

[1] Radio Azadi, "Chera wezara madan wa petroleum proja haye buzurg ra amali karda nametawanad," Radio Azadi, http://da.azadiradio.com/a/27245062.html (accessed on 31 December).

منظور مکلفې دي تکراري کارونه تر سره کړي او اکثراً په ولایتونو کې د حوالو اجرا په ۳۰ کاري ورځو کې نه شي تر سره کیداي. چې اکثره ادارې د بودجې د نه مصرف کیدو دلیل؛ په حواله جاتو او تخصیص کې تاخیر او بعضې یې ولایاتو ته د اړوندو اسنادو نه رسیدل د علت په ډول معرفي کوي. بل علت په حکومتي ادارو کې د بروکراسي شتون دي، لکه څرنګه چې دولتي کارمندان مکلف دي شته کړنلارې تطبیق او د رسمي مکتوبونو نه په کتنې خپل موارادت تر سره کړي.

همدا شان بروکراسي د تدارکاتي پروسو د اوږدیدو لامل شوېده. لکه چې د تدارکاتو د طرزالعمل مطابق د ارزونې حداکثر وخت ۳۰ کاري ورځې ټاکلي او لږ تر لږه د یو بل ځل لپاره د تعدیل وړ دي. په داسې حال کې؛ چې په عمل کې د ارزونې موده زیات وخت نیسي او دلیل یې هم په وخت باندې د ارزونې هیئت ته د اړوندو ادارو له لوري د استعلامونو نه ځوابول دي. همداشان د پرمختیایي بودجې د لږ مصرف بل لامل د کارکوونکو د ظرفیت ټیټوالي دي، چې نه شي کولای په خپل وخت باندې کاري پلان ترتیب، اجرا او کنترول کړي.

د څېړنو موندنو ته په کتو، د تدارکاتي پروسو اوږدیدل، د بودجې د ترتیب او اجرا مرکزي کېدل، په حکومت کې د بروکراسي شتون، د ملکي خدمتونو د کارکوونکي ټیټ ظرفیت او د بودجې ناوخته تصویب د پرمختیایي بودجې په مصرف باندې مثبت او معنا لرونکي اغیز لري. څرنګه چې د افغانستان ملي بودجه تر ډیره د مختلفو دونرانو له لوري تمویل کیده او د بودجې په جوړیدو کې مختلفې کړنلارې استفاده کیدې، نوموړې موضوع هم د دې ایجاب کوي چې د پرمختیایي بودجې په مصرف باندې د مختلفو کړنلارو اغیزې هم په پرتلیز ډول مطالعه او وڅېړل شي.

**پایله اخېستنه**

په اقتصاد کې د دولت اقتصادي رول د لوي مصرف کوونکي په حیث د زیات اهمیت درلودونکی دي. معتبرو علمي څېړنې ښیي چې د دولت د مصارفو مبتکرانه او هوښیارانه ګټنه، د تولید په زیاتوالي، د ګمارنې په وده، په تولیدي پروسه کې د نوښت او خلاقیت په زیاتیدنه او د عاید په عادلانه ویش کې موثر او د پام وړ رول لري. که څه هم دولت د پرمختیایي بودجې د مصرف په برخه کې زیاته هڅه کړېده، مګر تر اوسه په کامله توګه د هغې په مصرف باندې نه دي توانیدلی. چې په یادو لسو کلونو کې د پرمختیایي بودجې د مصرف سلنه په اوسط ډول ۵۳,۰۳ ته رسیږي. تر ټولو زیاته پرمختیایي بودجه په ۱۳۹۷ کال کې( ٪۹۳ ) مصرف شوېده، په داسې حال کې چې په ۱۳۸۹ کال کې دغه اندازه ٪۳۹ وه. له دې سره سره کولای شو د پورته څېړنې پایلې په لاندې توګه را لنډې کړو؛

۱. مالیې وزارت د دې لپاره، چې د پرمختیایي بودجې په مصرف باندې کلي کنټرول ولري، د بودجې اجرائیوي صلاحیتونه یې مرکزي کړي او مرکزي او ولایتي ادارې د خپلو حوالو د اجرا کیدو واک په مستقل ډول نه لري.

۲. د پرمختیایي بودجې په اجرا کې د مالیې وزارت د دوهمي واحدونو صلاحیتونه هم خلکو او شرکتي حسابونو ته د فزیکي پیسو په لیږلو کې محدود شویدي.

۳. د دولتی چارو د تنظیم په برخه کې د آنلاین سیستم نه شتون هم یو له هغو ستونزو څخه دی چې ټولې پروسې یې له مشکلاتو سره مخ کړیدي.

**اخځلیکونه**


۱. اداره عالی تفتیش، کمیسیون بازرسی حساب قطعه دولت. گزارش بررسی حساب قطعیه سالهای ۱۳۸۷ الی ۱۳۹۷، کابل

۲. امیر خانی، طیبه، آذر، عادل. (۱۳۹۱)، بودجه ریزی عمومی: نهاد های بودجه ریزی و بودجه محلی، انتشارات سمت، تهران

۳. ټینګار، سید محمد. (۱۳۹۴). تیوری بودجه عامه. انتشارات یوسف زاد، کابل.

۴. حقایقی، عبدالله. (۱۳۸۰). سیاست بودجه. مطبعه بهیر، کابل

۵. خطاب، محمد حسن.(۱۳۹۷). چرا تدارکات مهم است؟، روزنامه هشت صبح، کابل

۶. شمعی، محمد. (۱۳۹۲). حقوق قراردادهای اداری، انشارات جنگل، تهران

۷. عارف، عبدالقیوم. (۱۳۸۷). مبادی علم مالی. مطبعه خصوصی تمیم، کابل.

۸. عارف، عبدالقیوم. (۱۳۹۷). بودجه عامه. انتشارات یوسف زاد، کابل.

۹. وزارت مالیه، ریاست عمومی بودجه. بودجه ملی سالهای ۱۳۸۷ الی ۱۳۹۷، کابل

10. Afzali, Sayed Ikram & Timory, Mohammad Naser. (2017). The Game of Numbers Analysis of the National Budget 2018 [Electronic version]. Integrity Watch Afghanistan.
11. Ashraf Wat & others. (2007). An Assessment of Sub-National Governance in Afghanistan [Electronic Version]. Kardan University.
12. Callistus, T. & Clinton, A. (2016). Evaluating Barriers to Effective Implementation of Project Monitoring and Evaluation in the Ghanaian construction industry [ Electronic Version]. SSRN Journal.
13. Equality for Peace and Democracy. (2016). 1396 Draft National Budget Review. Kabul
14. Totakhail, M. L. (2011). Foreign Aid and Economic Development in Afghanistan. University of Erfurt. Germany.

# د خدمت کوونکې او بدلون پلوه رهبریو پرتلیزه برسي

**احسان الله سعید[۱(*)] او غلام مجتبی امین[۲]**

۱- د غزني پوهنتون، اقتصاد پوهنځي، د منجمنټ او تشبثاتو څانګې استاد

۲- د سلطان محمود غزنوي د لوړو زده کړو موسسي، اقتصاد پوهنځي، د منجمنټ او تشبثاتو څانګې استاد

* ehsanullah.saeed@gmail.com

**لنډیز**

رهبري د ښایست په شان ده، چې نشو کولای تعریف یې کړو، مګر د اغېزو لیدو پر مهال یې انسان پوهېږي چې شتون لري. د مدیریت برخې نظرخاوندان په دې باور دي چې، رهبري د سازمانونو او ټولنو د بریا سبب کېږي. د نننۍ نړۍ پیاوړي سازمانونه هېڅ داسې کوم ګام نه پورته کوي، چې د موخو په لور خوځښت یې ټکنی کوي. د رهبرۍ په برخه کې مختلف ډوله مېتودونه شتون لري، چې دوه تازه او مهم هغه یې خدمت کوونکې رهبري او بدلون پلوه رهبري دي. سازمانونه کوښښ کوي د رهبرۍ هغه ډول وټاکي، کوم چې د هغوی له موخو سره جوړ راځي او په همدې برخه کې کافي وخت، لګښتونه او انرژي لګوي. رهبران د کارونو د اغېزمنتیا کچه لوړوي، سیستمونو ته بدلون ورکوي او تر دې ور ها خوا، رهبران لوی لوی توپیرونه رامنځته کوي او کولای شي د ټاکل شوي وخت په د ننه کې موخې ترلاسه او د خپل صنعت لپاره ګټور واقع شي. په ریویو (مروري) بڼه بشپړه شوې دې مقاله کې لومړی د رهبرۍ په تر ټولو مشهورو تعریفونو، رهبرۍ مېتودونو او تیوریګانو باندې بحث شوی دی او وروسته بیا ټول تمرکز د خدمت کوونکې او بدلون پلوه رهبریو د توپیر او ورته والي پر ټکو شوی دی، چې همدا د څېړنې اصلي موخه جوړوي. له پایلو جوتېږي چې د رهبرۍ دواړه ډولونه په ګډه سره په ظرفیت لوړونه، پیروانو اړتیاوو پېژندنه او پوره کولو، متقابل درناوي او باور، انسان دوستی، کار دوستی، اورېدنې، ذهني ترغیب، الهام بخښونکې انګېزه، فردي کتنو، واک لېږد او رښتینولۍ باندې ټینګار لري او خدمت کوونکې رهبري بیا د بدلون پلوه رهبرۍ سره د شته وضعیت تغیرولو کې همغږې نه ده او سکون خوښوي.

**بنسټیزې ګړنې**: اشتراک ټکي، افتراق ټکي. بدلون پلوه رهبري، خدمت کوونکې رهبري، رهبرۍ میتودونه.

**سریزه**

رهبري ګړنه چې په پخوانیو لیکنو کې، پر وګړو نفوذ او له وړاندې څخه ټاکل شوو موخو پر لور د هغوی خوځولو په معنی سره کارېدله، په ۱۳۰۰ق. م زماني مقطع پورې تړاو لري (علوي، ۱۳۷۶،

۲٦٥). له ليکنو څخه ښکاري چې د مديريت زياتره پوهان پر دې ټکي يوه خوله دي چې، رهبري په يو ټاکل شوي موقعيت کې د ټاکل شوې موخې ترلاسه کولو په پار، پر وګړي يا ډله باندې کاري نفوذ درلودل دی. له دې ښکاري چې رهبري د (رهبر، پيرو او موقعيت) درې ګونو متحولينو تابع ده؛ يعنې {L=f(L,F,S[۱])}، نو کولای شو و وايو چې رهبري د نورو وګړو د مرستې په پايله کې د ټاکل شوو موخو ترلاسه کول دي (هرسی او بلانچارد، ۱۹۹۷. ۱۷۱).

د رهبرۍ اهميت دومره زيات دی چې د مديريت برخې ځينې پوهان، د مديرانو د بريا او اغېز اندازه د هغوی د رهبرۍ په اندازه پورې تړي. رهبري د تاريخ په اوږدو کې د بشري ټولنې يو رکن وو. کله چې رهبري د يوې کړنې په توګه په پام کې نيول کېږي، نو د مديريت يوه مهمه برخه جوړوي او د هغه شتون د يو شمېر مهارتونو په عملي کولو پورې تړاو لري، چې دا مهارتونه د ځانګړو موخو ترلاسه کولو لپاره د رهبرۍ طريقو په نوم سره يادېږي (سالارزی او همکاران، ۱۳۹۴، ۱۴).

په نننۍ نړۍ کې پراخ او ټول ګډونه تغيرات، د رهبرۍ د يوې داسې متفاوتې او نوې طريقې ايجاب کوي چې له سازمانونو سره د هغوی د موخو په ترلاسه کولو او سازماني کلتور لوړوالي کې مرسته وکړي. رهبري د هر سازمان يوه له اصلي پروسو څخه ګڼل کېږي او د سازمان بريا د هغه د مديرانو د رهبرۍ په طريقه پورې تړاو لري (بختياری او زردشتيان، ۱۳۹۵، ۲۴).

**د څېړنې موخه**

د خدمت کوونکې او بدلون پلوه رهبريو د اشتراک او افتراق ټکو پېژندنه.

**د څېړنې مېتود**

دا څېړنه په ټوله کې کيفي بڼه لري او د موادو راټولولو له اړخه بيا مروري څېړنې ته شاملېږي؛ معلومات يې د کتابتوني مېتود څخه په ګټنې سره ترلاسه شوي دي او د تفسير لپاره يې له تحليلي - استنباطي مېتود څخه ګټه پورته شوې ده.

**د څېړنې نظري بنسټونه**

د ملي رهبرۍ بنسټ په توګه، وارن بنيس په دې اند دی چې، بايد هېر نه کړو چې د رهبرۍ موضوع پراخه، بې نظمه، ښوېيدونکې او تر دې ور ها خوا، په نهيلي کوونکې توګه د اهميت وړ ده. له دې نګونې سره سره، د رهبرۍ په اړه د يو ټول منلي تعريف په اړه لا اوس هم داسې مختلف ليدلوري او تعبيرونه شتون لري چې، د دې ګړنې په تعريف کې د مفهومي پيل ټکي موندلو لپاره همغږي

---

۱ – Leadership, Follower and Situation

رامنځته کوي (شاقلي او همکاران، ۱۳۹۹، ۱۵). رهبري د سازماني موخو د تحقق په برخه کې په نورو وګړو باندې نفوذ او له یو بل سره د مرستې کولو په پار د هغوی هڅولو پروسې ته ویل کېږي (ساداتی، ۲۰۱۳، ٦۱). رهبري د مشروع نفوذ یو ډول پروسه ده چې پر مټ یې د یو وګړي کړنه، د ټاکل شوو موخو په مسیر کې د نورو وګړو د چلند او نظریاتو د تغیر سبب کېږي. په بل عبارت، رهبري د وګړو تر منځ متقابل عمل دی چې له لارې یې یو کس خپل معلومات په داسې طریقې سره عرضه کوي، چې د نورو وګړو له لوري ومنل شي او په پایله کې د ګټو لوړوالي سبب کېږی (موسی خانی او محمدنیا، ۱۳۸۵، ۱٦۴).

زیاتره زده کړه ییز بنسټونه، د رهبرۍ سلاکاران او کارمندان په دې باور دي چې مدیریت او رهبري له یو بل څخه جدا دي او وګړي اړ دي یا مدیر و اوسي او یا هم رهبر؛ ځکه یو څوک یوازې په خپل لېوالتیا وړ رول کې اغېزمن ثابتېدای شي. د نیناېر په اند، د سازمانونو لوړې کچې مسئولین تر ډېره د سازمان د پایښت او ودې په مسائلو کې ښکېل دي او تر ډېره د رهبر رول لوبوي؛ په داسې حال کې چې د ټیټې کچې مسئولینو مسئولیتونه او چارې له دوی سره ښکاره توپیر لري.

له بل اړخه، اوسمهال زیاتره متخصصین او کارمندان په دې باور دي چې د مدیریت او رهبرۍ تر منځ توپیر ممکن نه دی او د مدیریتي یا جامع رهبرۍ مهتود تر ډېره په ننني سازمانونو کې د مدیرانو د رول پر اړتیاوو باندې ټینګار لري. د مدیریت ډګر وتلي څېړه هنري مینتزبرګ په خپل لیکلي اثر، (آسانه مدیریت) کې د یاد نظر پلوي کړې ده؛ یعنې د مدیریت او رهبرۍ تر منځ توپیر نظر یې ننګولی دی. د نوموړي په اند، کولای شو مدیریت او رهبري په مفهومي اړخ کې له یو بل څخه بېل کړو، مګر په عمل کې د دې دوو مفاهیمو بېلول آسانه کار نه دی؛ ځکه په دې سره د سازمانونو په ورځني ژوند کې د دې دوو مفاهیمو معنی ورکېږي.

د بشریت په ذهن کې د مدیریت مفهوم لومړني ټکانونه په (۱۸۵۰- ۱۸٦۰) کلونو، یا صنعتي انقلاب په پیل پورې تړاو لري. له هماغه وخت څخه نیولې بیا د ۱۹۸۰مې لسیزې تر پایه پورې د مدیریت مختلف ډولونه او په اړه یې مختلفې نظریې مطرح شوې دي. هغه وخت قدرت، وړتیا او د وګړو د مدیریت توانایي د مدیریت بنسټونه ګڼل کېدل. هماغه وخت سازمانونه د هغوی د چلندونو او جوړښت له مخې تر سختو نیوکو لاندې راغلل او د دې نیوکو شدت د مدیریت سنتي مهتود وو، چې په دې سره رهبري مفهوم رامنځته شو. مدیریت او رهبري دواړه ځینې په وګړو پورې منحصرو کړنو تابع دي او ځینې ورته والي هم لري. مدیر او رهبر دواړه اړ دي ترڅو د ټاکل شوو موخو ترلاسه کولو لپاره په نورو وګړو باندې نفوذ ولري. مدیر کوښښ کوي کاري چاپېریال له تغیر پرته خوندي

وساتي؛ په داسې حال کې چې رهبران شته وضعيت ننګوي او د نوو مېتودونو ازمويښې کوښښ کوي. دوی په خپل دې کار سره ثابتوي چې د اوږدمهاله موخو په لټه کې دي (الغتانی، ۲۰۱۴، ۷۱).

پروفيسور رابيندرا کاننګو د مديريت او رهبرۍ توپير په اړه نسبتاً بشپړ مطالعات ترسره کړي دي.

**۱- جدول: د مديريت او رهبرۍ توپير**

| رهبري | مديريت |
|---|---|
| د اوږدمهاله موخو، لکه ستراتيژيګانو او تکتيکونو تعريف | په ورځنيو مسائلو کې ښکېلتيا، لکه سرچينو تخصيص |
| هدايتي رويه | نظارتي رويه |
| پوښتي چې څه شی او ولې بايد معياري شرايط تغير وکړي | پوښتي چې څرنګه او څه وخت بايد معياري شرايط تغير وکړي |
| نوي لرليدونه رامنځته او هغه د سازمان لپاره تعريفوي | د شته کلتور په د ننه کې په سازمان کې کار کوي |
| په نورو کې د تغير رامنځته کولو په برخه کې کار کول | د معمولي چارو په برخه کې د نورو وګړو کنټرول |
| د وړتيا لوړونې ستراتيژيګانو څخه ګټنه | په کنټرولي ستراتيژيګانو باندې تکيه |
| د تغيراتو رامنځته کول او شته وضعيت ننګول | ثبات رامنځته کوونکی او د شته وضعيت ساتل |

(کاننګو، ۱۹۸۸، ۳۹).

که په يوه جمله کې د مدير او رهبر توپير بيان کړو، نو ويلای شو چې، مدير کار په سمه توګه ترسره کوي او رهبر سم کارونه ترسره کوي. د بنيس په اند، په ۲۱مه پېړۍ کې د ژوندي پاتې کېدلو لپاره ځوان نسل رهبرانو ته اړتيا ليدل کېږي. د کاتر په اند، رهبري له مديريت څخه توپير لري، مګر د هغو دلايلو له مخې نه چې وګړي يې فکر کوي. رهبري لزوماً له مديريت څخه غوره يا د هغه ځای نيوونکې نه ده، بلکې مديريت او رهبري يو له بل څخه متفاوت او بشپړوونکي مفاهيم دي (شاقلي او همکاران، ۱۳۹۹، ۲۶).

## ۱. د رهبرۍ بنسټيز عنصرونه

انګېزه، قدرت، نفوذ او اړيکې د يوې اغېزمنې رهبرۍ څلور عنصرونه دي، چې رهبري تر اغېزو لاندې راولي.

### ۱) انګېزه

ټول نظرخاوندان په دې باور دي چې انسان د ارزښتونو په رامنځته کولو کې تر ټولو مهم او په عين وخت کې پېچلی عامل دی. کولای شو زياتې داسې بېلګې يادې کړو چې د نورو سرچينو نشتون په صورت کې انسانانو په يوازېتوب سره د موخو په ترلاسه کولو کې مهم رول لوبولی دی. په زړورتيا سره ويلای شو چې، د مديريت جوهر، د هغو انسانانو رهبري او لارښونه ده چې د يوې ګډې موخې

ترلاسه کولو لپاره راټول شوي دي او دا ټول د هغوی د انګېزې له امله دي. څېړنې ښيي چې د انسان ٪۶۰ وړتياوې د هغه په انګېزې پورې تړاو لري. انګېزه يوه پېچلې مسئله ده؛ ځکه انسان پېچلی دی. کله چې يو رهبر پر يو وګړي يا يوه ډله وګړو باندې د خپل نفوذ خوررولو کوښښ کوي، له دې پوښتنې سره مخ کېږي چې، څرنګه کولای شي يو نه ليدونکی شی مديريت کړي؟ دې پوښتنې ته د رهبر ځواب د سازمانونو د کارکوونکو د اشتياق، ژمنتيا او کړنو د يوې لويې برخې ټاکونکی دی. د مرئوسانو مناسبه انګېزه، د بريا تر ٪۵۰ زياتې لارې لنډول دي او په دې لاره کې بې پروايي هر اغېزمن پلان، له پيله له رکود سره مخ کوي (وکيلی، ۱۳۸۲، ۷).

انګېزه د پيروانو د ننګونې سبب کېږي؛ يعنې هغوی د موخو په ټاکلو کې شريک او ژمن ګرځوي. رهبران، کارکوونکي هڅوي چې خپلو موخو ته ورسېږي او په دې سره هغوی د خپلې راتلونکې په اړه ډاډ ترلاسه کوي. مديران د انګېزې په رامنځته کولو سره د ټيمي کار کولو روحيه ژوندی کوي، ترڅو له دې لارې د عوايدو لوړوالي او بازار ودې موخې ترلاسه کړي (موريان او ميلر، ۲۰۱۱).

**۲) نفوذ**

نفوذ د يو شخص د چلند د تغير يا اغېزمنولو پروسه ده. ځينې وختونه وګړي دا موضوع چې، ولې وګړي په خپله خوښه يو کار ترسره کوي؟ له دې موضوع سره يوځای کوي چې، ولې وګړي هغه چارې ترسره کوي چې مونږ يې د ترسره کولو لېوالتيا لرو؟ بايد هېره نه کړو چې لومړی مورد، انګېزه او دوهم هغه نفوذ ګڼل کېږی. پر دې بنسټ، نفوذ له انګېزې سره ښکاره تړاو لري. په ټوله کې، کولای شو په نورو کسانو باندې د نفوذ موډلونه په څلورو ډلو باندې و وېشو، چې عبارت دي له: د قدرت او اختيار له لارې نفوذ، د تهديد او زور له لارې نفوذ، د مهارت او استادۍ له لارې نفوذ او مرستې له لارې نفوذ (بينسن او کاسن، ۱۹۸۴، ۷۸).

**۳) قدرت**

د رهبرۍ او قدرت مفاهيم، د مديريت اړوندو افکارو د بشپړتيا تاريخ په اوږدو کې د نشاط، مشاجرې او کله نا کله هم د ګډوډۍ لامل شوي دي. قدرت له رهبرۍ سره نه شلېدونکې او نږدې اړيکه لري؛ ځکه قدرت د پيروانو پر چلند باندې د نفوذ خوررولو يوه وسيله ده. پر دې بنسټ، رهبران بايد د رهبرۍ چلند يوازې پر وګړو باندې د نفوذ څرنګوالي درک لپاره استفاده نه کړي، بلکې بايد له قدرت څخه ګټنه او مالکيت هم په پام کې ولري (هرسی او بلانچارډ، ۱۹۹۷، ۱).

د مديريت په مباحثو کې د قدرت ګړنې له پراخې ګټنې سره سره، لا هم د دې مفهوم د تعريف په اړه ضد او نقيض ليدلوري شتون لري. قدرت د پام وړ اغېزو رامنځته کول دي، قدرت د زور عملي

کولو وړتيا ده، قدرت په مطلوب شکل سره د نورو کنټرول دی، قدرت د نفوذ وړتيا ده او بالآخره قدرت هغه حداکثر ځواک دی چې A يې په B کې القا کولای شي منفي هغه حداکثر ځواک چې B يې په مخالف لوري استعمالولای شي. د دې ټولو بحثونو په پای کې ويلای شو چې، رهبري د يوې ټاکل شوې موخې ترلاسه کولو لپاره، په يو ځانګړي موقعيت کې د يو وګړي يا يوې ډلې وګړو د نفوذ بهير دی؛ په داسې حال کې چې قدرت د نفوذ وړتيا ده (موسی خانی او محمدنيا، ۱۳۸۵، ۱٦۹).

**۴) اړيکې**

کولای شو د سازماني اړيکو او رهبرۍ تر منځ اړيکو، رهبرۍ مېتودونو ماهيت، په سازمان کې موقعيتي متغيراتو سره د رهبرۍ مېتودونو تعامل او پېروانو ځانګړتياوو ته په پام سره د رهبرۍ لپاره لاندې تعريف وړاندې کړو:

رهبري د يو شخص يا سازمان د موخې/ موخو تحقق لپاره د اړيکو پروسې له لارې په يو يا څو موقعيتونو کې د وګړو تر منځ عملي شوې اغېزې دي. له دې تعريف څخه ښکاري چې له اړيکو څخه پرته رهبري شتون نه لري. د سازمانونو د رهبرانو د ارتباطي دندو په پام کې نيولو سره ويلای شو چې، د رهبر دنده د لاندې دوو موخو لپاره د وګړي يا يوې ډلې وګړو تر اغېز لاندې راوستل دي:

۱. د وګړي/ ډلې د موخو ترلاسه کول؛
۲. د وګړي/ ډلې ساتنه او لوړوالی (فرهنګی او همکاران، ۱۳۸۳، ۱۷۵).

**۲. د رهبرۍ تيوريګانې**

له ۱۹۵۰ ميلادي کال څخه د مخه تر نن پورې د رهبرۍ تيوريګانو زياتې لوړې او ژورې تر شا پرېښې دي. په واقعيت کې د رهبرۍ د تيوريګانو بشپړتيا لاندې څلورو ډلو ته شاملېږي:

۱. د رهبرۍ د مشخصو ځانګړتياوو تيوري؛
۲. د چلند مېتودونو تيوري؛
۳. اقتضايي تيوري؛
۴. د رهبرۍ نوې تيوريګانې (چراغمکانی، ۱۳۹۱، ۱۳).

**۱. د رهبرۍ د مشخصو ځانګړتياوو تيوري**

هغه پوښتنه چې د زياترو وګړو په ذهنونو کې راګرځي دا ده چې، رهبر بايد کومې ځانګړنې ولري، ترڅو له نورو وګړو څخه پرې توپير ومومي؟ د ۲۰مې پېړۍ په لومړيو کې د نظرخاوندانو تر منځ داسې عقيدې شتون درلود چې، اړتيا نشته يو څوک د رهبرۍ منصب لپاره زده کړې ترلاسه کړي.

د دې تیوري له مخې، رهبران په ارثي توګه رهبر زیږېږي، نو رهبري د زده کړې وړ نه ده. په واقعیت کې، ځینې رهبران مشخصې شخصیتي ځانګړتیاوې لري او د همدې ځانګړتیاوو له مخې له نورو وګړو څخه توپیر مومي.

رابرټ لرد د تېرو مطالعاتو بیاځلي تحلیل په پایله کې موندلې ده چې، وګړي د رهبرۍ د داسې موډلونو لرونکي دي چې د اغېزمن یا غیراغېزمن رهبر په پېژندنه باندې اغېزې لري. د رهبرۍ موډل، په رهبرانو پورې ځانګړو شوو چلندونو او ځانګړتیاوو بنودنه ده. ځینې له دې صفتونو څخه ذکاوت، پر ځان باور، مسئولیت منني ته لېوالتیا، د ابهاماتو تحمل، قاطعیت او جذابیت ګڼل کېږي (زالی، ۱۳۸۳، ۱۷۰). ځینې مراجع بیا ذکاوت، ټولنیز بصیرت، له حالاتو سره جوړښت، بریا ته اړتیا، ټولنیز موقعیت ته پاملرنه، مرسته، نورو ته پاملرنه، خبرتیا، ذهني حضور، بریا پلوي، ابتکارات او نوښتونه، زړورتیا، فکري تمرکز، انطباق مننه، شخصي غرور، ټولنیز بلوغ، اعتماد، سم فکر، د خبرو کولو مهارتونه، له شخړو ځان ساتنه، استقامت، پر ځان باور، د ټولنې په اړه اندېښنه، محبوبیت، رښتینولي، څواک، جسمي روغتیا، هدف پلوي، د تجزیي او تحلیل توان، عاجزي، سمې پرېکړې، فعال والی، د نورو وګړو هڅونه، جسمي بنیه، منظم والی او داسې نور د رهبر شخصیتي ځانګړتیاوې یا هم ښلوونکې نښې ګڼي (هرسی او بلانچارډ، ۱۹۹۷، ۴۲۱).

پورتنۍ تیوري د ځینو نیمګړتیاوو درلودلو له وجې تر سختو نیوکو لاندې راغله او خپل اعتبار یې له لاسه ورکړ. ځینې له دې نیمګړتیاوو څخه په لاندې ډول دي:

- د رهبرۍ ښکارندې په بشپړتیا کې د پیروانو ونډې ته نه پاملرنه؛
- د رهبر د کړنو په اغېزمنتیا کې د چاپېریالي شرایطو پر اغېز د سترګو پټول؛
- په پیروانو باندې د رهبر د نفوذ څرنګوالي د بیان لپاره د کوم مېتود نشتون؛
- د سازمان د خاصو اقتضاآتو او رهبر د اړتیا وړ ځانګړتیاوو تر منځ د روښانه اړیکې نشتون (سنجقی، ۱۳۸۰، ۲۸۵).

**۲. د چلند مېتودونو تیوري**

د رهبرۍ په توصیف کې د مشخصو ځانګړتیاوو تیوري اړوند مختلفو نیمګړتیاوو په ښکاره کېدو سره، په تدریجي توګه د څېړونکو پاملرنه د چلند مېتودونو تیوري په لور واوښته. په بل عبارت، د څېړونکو پاملرنه د رهبر له شخصیت څخه، د هغه د چلند په لور واوښته. د دې تیوري له مخې، ځینې ځانګړي چلندونه، اغېزمن رهبر له غیراغېزمن هغه څخه بېلوي. په دې مېتود کې باور دا دی چې رهبر جوړېږي، نه دا چې رهبر، رهبر زیږېږي (زالی، ۱۳۸۳، ۱۷۲).

د رهبرۍ اړوند چلند تيوري لاندې څېړنو ته شامليږي:

لومړی) د اوهايو ايالتي پوهنتون مطالعات؛

دوهم) د ميشيګان پوهنتون مطالعات؛

درېيم) د کرټ لوين په واسطه ډلې خوځښت مطالعات؛

څلورم) د ليکرت په واسطه مديريت څلورګوني نظامونه؛

پنځم) د بليک او موتن په واسطه د مديريت جال.

**لومړی) د اوهايو مطالعات**

د اوهايو پوهنتون څېړونکو رهبري د يو داسې وګړي د چلند په توګه بررسي کړه چې، د يوې ډلې وګړو د چارو لارښوونې په حال کې وو. هغوی په ابتکاري جوړښت او مراعات دوو اړخونو کې د رهبر چلند مطالعه کړ. ابتکاري جوړښت، د رهبر او پيروانو تر منځ اړيکې مشخصولو او دقيقو سازماني موډلونو او مېتودونو په رامنځته کولو کې، د رهبر کوښښ په برخو کې د رهبر چلند ته اشاره لري. مراعات بيا د رهبر او پيروانو تر منځ اړيکو کې د درنښت او نرمۍ، متقابل باور او دوستۍ اړوند چلند ته اشاره کوي. د اوهايو پوهنتون څېړونکو ومونده چې ابتکاري جوړښت او مراعات دوه جدا او مشخص اړخونه دي او په يو اړخ کې ضعف، حتماً په بل هغه کې د قوت په معنی نه دی، بلکې د يو رهبر چلند د يادو دوو ځانګړتياوو په مختلفو ترکيبونو سره بيانېدلای شي (چراغمکانی، ۱۳۹۱، ۱۶).

**دوهم) د ميشيګان مطالعات**

د دې څېړنو پر بنسټ، د رهبر هغه چلند مشخص شوی دی چې د کړنو له اغېزمنتيا سره اړيکه لري. د ميشيګان په مطالعاتو کې د رهبر د چلند دوه اړخونه، چې له توليد پلوۍ او انسان پلوۍ څخه عبارت دي، تر بحث لاندې نيول شوي دي. انسان پلوه رهبر، د وګړو په خپلمنځي اړيکو، کارمندانو اړتياوو او د کارمندانو تر منځ مختلفو فردي خصوصياتو منلو باندې ټينګار لري؛ په داسې حال کې چې توليد/کار پلوه رهبر، د کار په تکنيکي او عملي اړخونو باندې ټينګار لري او تر ډېره د ډله ييزو دندو ترسراوي ته پاملرنه کوي (فيډلر او چمر، ۱۹۸۵، ۲۲).

**درېيم) د کرت لوين مطالعات**

کرت لوين خپلې څېړنې، د ماسک جوړونې په يوه کارخونه کې بوختو دوو نسبتاً کم عمره ډلو وګړو باندې ترسره کړې. لوين د رهبرۍ د خودکامه او آزادمنشانه دوو مېتودونو پرتلې په موخه څېړنې

ترسره کړې. لوين د يادو کسانو د رهبرۍ او اداري لپاره (خودکامه، آزادمنشانه او نه لاسوهنې) درې ډوله رهبري وټاکله. تر آزادمنشه رهبرۍ لاندې ډلې وګړو له يو بل سره مرسته کوله او صميميت يې درلود او حتی د چارسمبالي نشتون په صورت کې يې هم پر ځان کنټرول درلود. تر نه لاسوهنې رهبرۍ لاندې ډلې وګړي، په ډله ييز کار کې بريالي وو او په فردي کار کې خوښ نه وو او نهيلي، د ضعف احساس، د مرستې نه کول او داسې نورو ستونزو شتون درلود. تر خودکامه رهبرۍ لاندې ډلې په لاندې توګه دوه ګونی غبرګون ښود:

الف) يوې ډلې وګړو د سرغړونې له لارې د رهبر پاملرنه اړوله او تل يې د خپلو همکارانو نيمګړتياوې بيانولې؛

ب) بله ډله وګړي د چارو پر وړاندې بې توپيره پاتې وو.

لوين د نه لاسوهنې رهبرۍ په پرتله، په خودکامه رهبرۍ مېتود کې، په کاري چاپېريال کې د وګړو د دښمنۍ او خصومت اندازه ۳۰ برابره او يو د بل پر وړاندې د هغوی تېرۍ/ يرغل ۸ برابره ارزيابي کړ (چراغمکانی، ۱۳۹۱، ۱۷).

**څلورم) د مديريت څلور ګوني نظامونه**

پروفيسور رنسس ليکرت او د هغه همکارانو په ۷۰يمه ميلادي لسيزه کې د امريکا په ميشيګان پوهنتون کې، د درېيو لسيزو په جريان کې د رهبرۍ مېتودونه بررسي کړل. ليکرت په دې څېړنو کې داسې افکار او نظريات وموندل چې د رهبرۍ چلند په درک کې ډېر مهم وو. نوموړي د يوې علمي بررسۍ په موخه د مفاهيمو د بيان مېتود لپاره، د مديريت څلور نظامونه (آمرانه نظام، خيرغوښتونکی- آمرانه نظام، مشورتي نظام او مشارکتي- ډله ييز نظام) وړانديز کړل (فيډلر، ۱۹۷۰، ٦).

**پنځم) د مديريت جال**

رابرټ بليک او جين سريګليکس د رهبرۍ جال تر عنوان لاندې، د رهبرۍ د مېتودونو په اړه يو دوه اړخيز ليد ته پراختيا ورکړه. د رهبرۍ جال، د وګړو لپاره اندېښمن يا انسان پلوه او د توليد لپاره اندېښمن يا توليدپلوه دوه بنسټونه درلودل، چې اصلاً د اوهايو مطالعاتو د اړخونو انعکاس وو. د دې تيوري له مخې، د رهبرۍ يو مېتود، د رهبرۍ د نورو مېتودونو په پرتله ښه والی لري. له جال څخه موخه د رهبرۍ د مېتودونو د دوو اړخونو تقاطع ده. په افقي محور، توليد ته پاملرنه او په عمودي محور، وګړو ته پاملرنه ځای لري.

دوی د محورونو د درجه بندۍ له لارې، له ۱ کم تر ۹ ډېر زيات پورې د رهبرۍ/ مديريت (ضعيف يا نامحسوس مديريت، سپورتي مديريت، قدرت پلوه مديريت، منځي مديريت او ټيمي مديريت) پنځه مېتودونه طرح کړل (فرهنګی او صفرزاده، ۱۳۸٦، ۴۷).

### ۳. اقتضايي تيوري

په دې تيوري کې د کارکوونکو د تياري اندازې په شان عنصرونو په پام کې نيولو سره، د رهبرۍ څلور متفاوت مېتودونه معرفي کېږي. ممکن په دې مېتود کې رهبر د وګړو وړتيا او پلې کېدونکې پروژې ډول ته په پام سره، خپل د رهبرۍ مېتود تغير کړي. په اقتضايي مېتود کې، چې د بلانچارد او هرسي مېتود په نوم سره هم شهرت لري، د پيروانو د ودې يا بلوغ اندازه، د رهبرۍ نوعيت ټاکي.

د دې تيوري منطق دا دی چې، رهبر اړ دی د رهبرۍ اغېزمنتيا لپاره، ځان د رهبرۍ اړتيا وړ مېتود سره جوړ کړي. بريالي رهبران هغه دي چې پوه شي، پيروان يې په هر موقعيت کې د رهبرۍ کوم ډول ته اړتيا لري او وروسته له هماغه موقعيت سره خپل د رهبرۍ مېتود جوړ کړی.

که چېرې د يو ځانګړي کار ترسراوي لپاره د وګړو توان او لېوالتيا، د هغوی تياری (بلوغ) وګڼل شي، نو کولای شو و وايو چې اقتضايي تيوري د کارکوونکو په بلوغ يا تياري باندې ټينګار لري.

کولای شو د اقتضايي رهبرۍ په اړه په لنډو ټکو کې و وايو چې، د ټولو شرايطو لپاره د رهبرۍ واحد مېتود شتون نه لري. دا موډل د رهبرۍ لپاره څلور مېتودونه مشخصوي او د تياري په څلورو کچو کې د پيروانو لپاره د رهبرۍ د تر ټولو غوره مېتود په توګه لاندې موقعيتي معادلات وړاندې کوي:

۱. آمرانه/ دستوري مېتود
۲. اقناعي/ استدلالي مېتود
۳. مشارکتي مېتود
۴. تفويضي مېتود

#### لومړی) آمرانه مېتود

دا مېتود، د ټيټ تياري لرونکو پيروانو لپاره يو غوره مېتود دی. کله چې وګړي بشپړه تياري نه لري، لېوالتيا يې کمه وي او يا په ور سپارل شوو دندو کې د هغوی له تياري څخه معلومات نه وي، نو له دې مېتود څخه ګټه اخيستل کېږي.

#### دوهم) اقناعي مېتود

دا مېتود، د ټيټې يا منځې کچې تياري لرونکو پيروانو لپاره يو غوره مېتود دی. دا مېتود معمولاً د هغو وګړو لپاره کارول کېږي، کوم چې تر منځې کچه ټيټ تياری لري. کله چې پيروان د مسئوليت منلې وړتيا نه لري، مګر د زده کړې لېوالتيا لري او يا کله چې رهبر او پېروان ټول د چارو ترسره کولو لپاره پر ځان بشپړ باور نه لري، نو له دې مېتود څه ګټه اخيستل کېږي.

**درېيم) مشارکتي مېتود**

دا مېتود، د منځي تر لوړې کچې تياري لرونکو پيروانو رهبرۍ لپاره يو غوره مېتود دی. کله چې پيروان د مسئوليت منلې توان لري، مګر لېوالتيا يې کمه وي او يا د چارو په ترسراوي باندې له اندازې زيات بې باوره وي، له دې مېتود څخه ګټه اخيستل کېږي. دا چې پيروان وړتيا لري، معمولاً مشارکتي مېتود، چې رهبر پکې په دوه اړخيزو اړيکو او باور پر بنسټ مرستې باندې ټينګار لري، يو غوره مېتود ګڼل کېږي.

**څلورم) تفويضي مېتود**

که چېرې پيروان متخصصين وي او د چارو په ترسراوي باندې په بشپړ ډول واکمن وي، نو له تفويضي مېتود څخه ګټه پورته کېږي. کله چې پيروان د چارو ترسراوي لپاره توان او لېوالتيا دواړه لري او رهبر او پېروان دواړه اړخونه مسئوليت منلې ته تيار وي، نو دا يو غوره مېتود دی. په دې مېتود کې پيروان کمې اندازې لارښوونې او ملاتړ ته اړتيا لري، نو ځکه په دې صورت کې تفويضي مېتود د بريا ترلاسه کولو امکان لوړوي (ابراهيمي، ۱۳۹۵، ۱۷).

**۴. د رهبرۍ نوې تيوريګانې**

تمه ده په نننۍ سازماني نړۍ کې، د جوړښت تغير او نوې رهبرۍ مېتود ټاکنې له لارې، د خلاقيت او نوښت څپې پياوړې شي؛ هغه څه چې د اوسنۍ نړۍ تر ټولو سخته اړتيا ګڼل کېږي. د همدې اړتيا له مخې په دې وروستيو کې نظرخاوندانو او پوهانو د رهبرۍ برخې په تيوريګانو او مباحثو مخ را ګرځولی دی. په دې برخه کې د رهبرۍ په لاندې مېتودونو باندې بحث لرو:

۱. کارېزماتيک/ فرهمند رهبري
۲. عمل پلوه رهبري
۳. بدلون پلوه رهبري
۴. خدمت کوونکې رهبري

**۱) کارېزماتيک رهبري**

د وېلز په اند، کارېزما ګڼه د رهبر د عقيدو، چلند، ارزښتونو او کړنو په مرسته، د پېروانو په عقيدو، چلند، ارزښتونو او کړنو کې د رهبر د ښکاره او پټ نفوذ عملي کولو وړتيا په معنی ده. د هاوس له انده، کارېزماتيک رهبر بايد پر ځان زيات باور، لوړ واک او نفوذ او پياوړې عقيده درې ځانګړتياوې ولري. کانګر د کارېزماتيک رهبرۍ تيوري ته د دې فرضيې پر بنسټ پراختيا ورکړه چې، کارېزما يوه اسنادي ښکارنده ده. په دې تيوري کې، پيروان د رهبر چلند ګوري او له مخې يې پر هغه باندې

خاص کارېزماتيک ځانګړتياوې مستندوي. کارېزماتيک رهبران قدرت، احترام او د خپلو اخلاقي باورونو په پياوړتيا او سموالي باندې باور ته سخته اړتيا لري. کارېزماتيک رهبران، د پام وړ موخو په لور د پيروانو احساساتو راوستلو پر مټ د هغوی لندمهاله ملاتړ ترلاسه کوي. معمولاً کارېزماتيکې شخصيت په اورينو (ګرمو) خبرو کې څرګندېږي.

**۲) عمل پلوه رهبري**

دا مفهوم د لومړي ځل لپاره د برنز له لوري رامنځته شو. د نوموړي په اند، دا ډول رهبران خپل پيروان هڅوي ترڅو د سازماني موخو ترلاسه کولو لپاره کوښښ وکړي. وروسته د بس له لوري دې مفهوم ته پراختيا وکړل شو او د نوموړي په اند، عمل پلوه رهبران، هغه رهبران دي چې له پيروانو سره راکړه ورکړه لري او هغوی ته د کار او وفادارۍ په بدل کې مادي او معنوي بدلې ورکوي. عمل پلوه رهبران د اقتضايي بدلې له قدرت څخه برخمن دي. دا ډول رهبران د کړنو په بدل کې د بدلو په ورکړې باندې ټينګار لري. بل مهم ټکی دا دی چې، دا ډول رهبران د رهبر او پيرو تر منځ د متقابلې اړيکې پر بنسټ چارې ترسره کوي او د استثنی پر بنسټ فعال مديريت څخه ګټه پورته کوي؛ يعنې له معيارونو، قوانينو او مقرراتو څخه د انحرافاتو اندازه لټوي او کنټرولوي او پر بنسټ يې اصلاحي ګامونه اوچتوي. همدارنګه دوی کله ناکله د استثنی پر بنسټ منفعل مديريت څخه ګټه پورته کوي؛ يعنې يوازې هغه وخت اصلاحي ګامونه اوچتوي، کله چې مرئوسان د سازماني موخو په ترلاسه کولو کې بريالي نه شي. په پای کې ويلای شو چې عمل پلوه رهبران بنسټيز تغيرات نه رامنځته کوي، بلکې تر ډېره جاري او ظاهري چارې ترسره کوي (موسی خانی او محمدنيا، ۱۳۸۵، ۱۸۱).

**۳) بدلون پلوه رهبري**

د سازمانونو نننۍ ستونزې د تېرې ورځې حل لارو پر مټ حل کېدونکې نه دي او د چاپېريال شرايط په دومره اندازه پېچلي، خوځنده او بې باوره دي چې سازمانونه يکې له نوښت پرته خپل اوږد ژوند ته دوام نه شي ورکولای. پر همدې بنسټ، سازمانونه بايد داسې شرايط رامنځته کړي، چې له لارې يې د نوښتونو لپاره لاره هواره شي او د دې چارې ترسره کولو په برخه کې د رهبر پر رول زيات حساب کېږي (واعظي او نور، ۱۳۸۹، ۲۷).

د بدلون پلوه رهبرۍ په مطالعاتو کې بنسټيزې تيوري ګانې په برنارډ باس پورې اړه لري. بدلون پلوه رهبري، د رهبرۍ يو نوی پاراډايم دی او يوې داسې پروسې ته اشاره لري چې وګړي بدلوي او تغيروي او له ارزښتونو، اخلاقي ځانګړتياوو او اوږدمهاله موخو سره تړاو لري. په پيروانو باندې د اغېزمنو محرکاتو ارزونه، د هغوی د اړتياوو پوره کول او د يو پوره وګړي په توګه له پيروانو سره چلند،

د دې ډول رهبرۍ محورونه جوړوي. د باس په اند، بدلون پلوه رهبران د بسیا بصیرت خاوندان دي او نور وګړي د ځانګړو چارو ترسراوي لپاره ننګوي او هڅوي (ډارتي او ډانیالچنک، ۱۹۹۶، ۱۸۶).

تر ۱۹۸۰یمې میلادي لسیزې پورې د رهبرۍ اړوندې څېړنې، زده کړې او تیوریګانې پر دې ټکي ولاړې وې چې، رهبري د رهبر او پیروانو تر منځ یو ډول تبادله ده، مګر د کار بازار د شرایطو په تغیر سره داسې رهبرانو ته اړتیا احساس شوه چې په کمه پیمانه تبادله پلوه، مګر په زیاته پیمانه بدلون پلوه وي، ترڅو وکولای شي خپل مؤثریت وساتي (باس، ۱۹۹۹، ۱۸۶).

بدلون پلوه رهبري د رهبر او پیروانو تر منځ یوه دوه اړخیزه پروسه ده چې پکې دواړه لوري د تغیراتو رامنځته کولو او یوې ټولګې موخو ترلاسه کولو لپاره هڅول کېږي. په بل عبارت، بدلون پلوه رهبري، په موجوده وضعیت یا ټولیزه توګه سازمان په کړنو کې د ناپیوسته بدلون او تغیر راوړلو لپاره، په وګړو یا ډلو کې د باخبره نفوذ پروسې ته ویل کېږي. دا رهبري هغه وخت تحقق مومي، کله چې رهبران خپل پیروان تر فردي ګټو لوړ فکر کولو ته وهڅوي، هغوی له موخو او مأموریت څخه خبر کړي او کار کولو ته یې لېوالتیا لوړه کړي. آرماني نفوذ، ذهني ترغیب، الهام بخښونکې هڅونه او فردي ملاحظات د دې ډول رهبرۍ د تحقق بنسټونه ګڼل کېږي (زماني او چناري، ۱۳۹۸، ۷۶).

د برنز په اند، رهبران په دوو ډلو باندې وېشل کېږي. لومړی، تبادلوي رهبران او دوهم، بدلون پلوه رهبران. تبادلوي رهبران د سازماني موخو ترلاسه کولو په بدل کې نورو وګړو ته په ځانګړو مادي او معنوي بدلو قائل دي او د شته چوکاټ په د ننه کې چارې ترسره کوي، د موخو په تحقق کې وظیفوي رول لوبوي، د یادو مبادلاتو پر بنسټ دندو ترسراوي انګېزه پیاوړې کوي او د تغیر او خلاقیت په پرتله، اغېزمنتیا او د وړاندوینې وړتیا ته ترجیح ورکوي. مشروطې بدلې، د فعاله استثنی پر بنسټ مدیریت او د منفعلې استثنی پر بنسټ مدیریت، د دې ډول رهبرۍ د پېژندنې درې عوامل ګڼل کېږي. بدلون پلوه رهبري یوه داسې پروسه ده چې له لارې یې رهبر او پیروان دواړه، د کاري اخلاقو او انګېزې لوړوالي کوښښ کوي. یوازې بدلون پلوه رهبران کولای شي چې د نوو رامنځته شوو سازمانونو لپاره اړین تګلوري ومومي؛ ځکه هغوی د بدلونونو سرچینه ګڼل کېږي، په سازمان باندې واکمنو تغیراتو څخه بشپړ معلومات لري او په واقعیت کې د تغیراتو پر څپه سپاره دي (سعید او همکاران، ۱۳۹۲، ۷۷).

بدلون پلوه رهبري له عمل پلوه رهبرۍ سره بنسټیز توپیر لري او دا توپیر تر ډېره په پرمختیا باندې راچورلي. پر دې سربېره، بدلون پلوه رهبري په پیروانو باندې د عمل پلوه رهبرۍ اغېزو ته ښه والی وربخښي. بدلون پلوه رهبران د سازماني مأموریت او لرلید تحقق په موخه د پیروانو موخو ته بدلون او تغیر ورکوي.

بدلون پلوه رهبري د پام وړ پایلو ترلاسه کولو لپاره په لاندې څلورو عواملو تکیه لري:

۱. آرماني نفوذ
۲. الهام بخښونکې انګېزه
۳. ذهني ترغیب
۴. فردي کتنې

۱) **آرماني نفوذ**: آرماني نفوذ د آرماني صفتونو او آرماني چلند ترکیب دی. آرماني صفتونه د پیروانو په ذهن کې د مطلوبو رهبرانو د نفوذ قدرت، پر ځان باور، رښتینولۍ، پر نورو باور او دېته ورته ځانګړتیاوو یو انځور دی. د همدې ځانګړتیاوو له مخې یادو رهبرانو ته د درنښت وړ، دنده پېژندونکي او باور وړ کلمات کارول کېږي.

آرماني چلند، د رهبرانو باورونو، ارزښتونو، چلند، اخلاقي کتنو او شخصي کړنو ته اشاره لري. یو بدلون پلوه رهبر په خپل لوبوونکي رول کې د خپلو پیروانو راتلونکی انځوروي. په اصل کې دا ډول رهبران د خپلو پیروانو لپاره یو موډل جوړېږي، چې له مخې یې هغوی خپل چلند تغیروي. بدلون پلوه رهبري د صبر او شکیبایۍ یو بستر دی او رهبر په خطر قبلونه کې له پیروانو سره شریک وي.

۲) **الهام بخښونکې انګېزه**: بدلون پلوه رهبر لیدلوري له یو بل سره تړي، په پېچلو کارونو کې د پیروانو ملا تړي، مهمې موخې په ساده او پوهېدو وړ الفاظو سره بیانوي او د ممکنه ستونزه زیرووونکو چارو علتونه بیانوي. د دې ټولو چارو ترسراوی له لوړې ټیمي روحیې سره تړاو لري، چې د پیروانو د لېوالتیا پارونې او ډلې تر منځ خوشبینۍ رامنځته کولو له لارې شونتیا مومي.

۳) **ذهني ترغیب**: بدلون پلوه رهبري د خلاقیت د ودې یو غوره بستر دی، چې له لارې یې خلاق تخریب صورت نیسي. بدلون پلوه رهبران د خپل خلاقیت ځواک تر سیوري لاندې د خپلو پیروانو خلاقیت ته د عمل له لارې وده وکوي او په دې لارې سره هغوی هم د نوښتونو رامنځته کولو اتلان جوړېږي. د نوموړو رهبرانو په ذهني قالبونو کې، (نه کېږي) کلمه ځای نه لري او د چارو ناکامۍ پړه کله هم په پیروانو نه اچوي.

۴) **فردي کتنې**: بدلون پلوه رهبر تل د خپلو پیروانو د اړتیاوو پېژندلو او پوره کولو په فکر کې وي. هغه د یو چارسمبالي رول لوبوي او خپلو پیروانو ته د پرمختیا او ستونزو حل تګلورې ښيي. هغه خپلو پیروانو ته مسئولیتونه لېږدوي او د غوره ترسره کولو لپاره یې کافي صلاحیتونه ورکوي، ترڅو هغوی له یادو چارو زده کړې وکړي (چراغمکانی، ۱۳۹۱، ۲۹).

په لنډه توګه، بدلون پلوه رهبران لرليد په روښانه او پوهېدو وړ توګه توضيح کوي او د دې لرليد ترلاسه کولو لارې چارې بيانوي، د باور او ډاډ پر بنسټ د هيلو په واکمنه فضا کې چارې ترسره کوي، په پيروانو کې باور او ډاډ رامنځته کوي، د موخو ترلاسه کولو په پار د پيروانو وړتياوې لوړوي، د پيروانو د کړنو ښه والي او ژمنتيا زياتوالي سبب ګرځي، د شخصي موخو پر ځای سازماني موخو ته لومړيتوب ورکوي او کولای شي يو پرانيستي، انعطاف قبلوونکی او غيرمعمول چاپېريال رامنځته کړي (يکل، ۲۰۰۲، ۱۴۳).

**۴) خدمت کوونکې رهبري**

د خدمت کوونکې رهبرۍ ګړنه په ۱۹۷۰م. کال کې د رابرت ګرين ليف له لوري، په (د رهبر په نقش کې خدمت کوونکی) نومې مقاله کې رامنځته شوه. د رهبرۍ دا مېتود د تيوريکي او ازمويښتي اړخونو په پرتله تر ډېره فلسفي اړخ لري او تر ډېره د تغير رامنځته کولو لپاره د يو اوږدمهاله مېتود په نوم سره پېژندل کېږي. دا مفهوم په اصل کې د کارېزماتيک رهبرۍ تيوري څخه اخيستل شوی دی او د زياتره نظرخاوندانو په اند، دلته رهبر د رهبريت په پرتله خدمت کولو ته لومړيتوب ورکوي (غفاري او همکاران، ۱۴۰۰، ۲۲۸). دا ډول رهبري اخلاقي چلند، پيرو محورۍ، نورو ته خدمت، پرېکړو کې د صلاحيت وېش، کاري چاپېريال کې د روحيې لوړوالی او اړيکو له لارې نورو وګړو سره مرستې باندې ولاړه ده. خدمت کوونکې رهبري په اصل کې يو ډول اصيله رهبري ده، چې په خدمت کولو او معنوي بنسټونو باندې ټينګار لري او تر ډېره د ځان او نورو د معنويت لوړوالي کوښښ کوي. د خدمت کوونکي رهبر نهايي موخه، د سازمان ښه والی دی. د خدمت کوونکې رهبرۍ کليدي ښېګڼه دا ده چې کولای شي د سازمان په اخلاقي فضا او کورني کاري چاپېريال دواړو کې سمون راولي (رحيميان او همکاران، ۱۳۹۵، ۱۱۵).

د خدمت کوونکې رهبرۍ نوم، د رهبرۍ په يو عاجزانه موډل باندې اطلاق کېږي. خدمت کوونکي رهبران د اخلاقي اصولو پر بنسټ لارښوونې ترلاسه کوي او دا لارښوونې په تدريجي بڼه پيروانو ته لېږد مومي. په دې ډول رهبرۍ کې د رهبر او پيروانو تر منځ د باور کافي فضا شتون لري؛ يعنې پيروان بشپړ ډاډ لري چې رهبر کله هم خپلې غوښتنې د دوی تر اړتياوو او لېوالتيا لوړې نه ګڼي، بلکې د هغوی درناوی او پرمختيا يې د لومړيتوبونو په سر کې ځای لري. د ټاون سنډ په اند، خدمت کوونکې رهبري بايد په پيل کې تر واک او اقتدار زيات، د پيروانو د اړتياوو پېژندلو ته لومړيتوب ورکړي، پر فشار ډېر ټينګار و نه کړي او له پيروانو سره داسې چلند وکړي چې د نوموړې رهبرۍ ځانګړنې زده کړي (مجيديان فرد او رحيميان، ۱۳۹۵، ۱۴).

ګرين ليف، د خدمت کوونکې رهبرۍ رامنځته کېدو فلسفه، نورو ته پاملرنه او د خدمت کولو لپاره د هغوی د وړتياوو لوړاوی ګڼي. د نوموړي په اند، خدمت کوونکي رهبران هغه دي چې لومړيتوب

يې نورو ته خدمت کول دي او شخصي ګټې تر جمعي هغو قربانوي، ترڅو د هغوی درايت او صلاحيت لوړ او په راتلونکي کې خپله يو خدمت کوونکی رهبر جوړ شي. د خدمت کوونکې رهبرۍ پروسه په يو طبيعي احساس سره پيلېږي، چې په هغه کې يو وګړی غواړي لومړی خدمت وکړي او وروسته د يوې هوښيارانه پرېکړې له لارې رهبر کېدل، خپله موخه ټاکي. د ګرين ليف په اند، د خدمت کوونکې رهبرۍ شتون ازمويلو لپاره بسنه کوي پوښتنې وکړو چې، آيا د هغو کسانو په شخصيتي وده کې بدلون راغلی دی او کنه، کومو ته چې خدمتونه وړاندې کېږي؟ آيا هغوی خپلواک او هوښيار شوي دي؟ آيا هغوی خدمت کوونکي رهبران جوړېدای شي؟ آيا هغوی ګټه کړې ده او که يوازې له تاوان خوندي پاتې شوي دی؟

دفت د خدمت کوونکې رهبرۍ لپاره لاندې څلور اخلاقي قاعدې وړاندې کړې دي:

۱. د ځان تر خدمت وړاندې، د نورو وګړو خدمت کول؛
۲. د نورو وګړو د غوښتنو اورېدل او د هغو منل؛
۳. په نورو وګړو کې د باور رامنځته کول؛
۴. د روحي او رواني تغذيې له لارې د نورو وګړو وده (عباسی، ۱۳۹۶، ۴).

خدمت کوونکي رهبران باور لري چې د سازمان موخې هغه وخت ترلاسه کېدای شي، کله چې په سازمان کې د شته بشري سرچينو د موخو ترلاسه کولو لپاره يو مناسب چاپېريال او فضا شتون ولري. د لاب له نظره، خدمت کوونکې رهبري د لاندې شپږو عناصرو له لارې اندازه کېږي:

۱. پيروانو / وګړو ته ارزښت ورکول؛
۲. د پيروانو / وګړو پرمختيا؛
۳. د دوستانه اړيکو رامنځته کول او پالل؛
۴. د ټولنې او انجمن جوړول؛
۵. د رهبرۍ لپاره زمينه برابرول؛
٦. په رهبرۍ کې ونډه اخيستل (زبردست او همکاران، ۱۳۹۷، ۴).

د خدمت کوونکي رهبر لپاره تر ټولو مهم عامل، د پيروانو په منځ کې باور جوړونه ده. دا باور جوړونه له لاندې لارو څخه امکان پيدا کوي:

۱. پيروانو ته د رښتيني واک ورکړه؛
۲. پر پيروانو باندې د سختو چارو ترسره کول؛
۳. د رهبر ژمنتيا؛
۴. د رهبرۍ مهارتونو پراختيا او د خطر کنټرول؛
۵. د مديريت يو غوره مېتود ټاکنه.

د ناير په اند، ترڅو چې قدرت د رهبرۍ اغېزمن عامل وي، د رهبرۍ په لوړو معيارونو سره عمل نه شو کولای، نو بايد خدمت کولو ته د رهبرۍ په هسته کې ځای ورکړل شي، ترڅو ټولنه د پرمختګ پر لور وخوځېږي.

کولای شو د خدمت کوونکې رهبرۍ د ګټنې له لاندې مواردو څخه ياده وکړو:

۱. د خدمت کوونکې رهبرۍ د موډل جوړونې او فلسفې اړخ؛
۲. د باور جوړونې لپاره يو بنسټيز رول؛
۳. د ارتباطي رهبرۍ زده کړه؛
۴. د عملي زده کړو وسيله؛
۵. د زده کړې متنوع پروګرامونو پلي کول؛
۶. د اشخاصو معنوي وده (عباسی، ۱۳۹۶، ۷).

**پايله**

که چېرې د بدلون پلوه او خدمت کوونکې رهبريو په اړه پورتنيو يادو شوو ټکو ته پاملرنه وکړو، نو په ټوله کې کارېزمايي اغېزې، الهام بخښونکې هڅونه، ذهني ترغيب، فردي کتنې، بصيرت، د باور رامنځته کولو وړتيا، متقابل درناوی، له نورو وګړو سره مرسته، د نيمګړتياوو حداقل کول، نمونه اوسېدل، د موخو په ترلاسه کولو باندې ټينګار، لېوالتيا له مخې کار ترسره کول، چارو ترسره کولو پر مهال ښوونه، عقلاني پرېکړې، د ستونزو حل، انسان پلوي، کار پلوي، غوږ نيول، ظرفيت لوړونه، خدمت پلوي، رښتينولی، انساني کرامت، سياليز مزيت، چارو کې مخکښ والی، صلاحيت ورکړه، مسئوليت منبه، ليدو وړتيا، نفوذ ځواک او په رهبر جوړېدنه باور ټکې ترې په ښکاره يا ضمني توګه را ايستلای شو. په دې ټکو کې په زياترو هغو يې د رهبرۍ د دواړو ډولونو اتفاق شون لري، مګر په کمو مواردو کې جزوي توپيرونه هم تر سترګو کېږي.

بدلون پلوه رهبري اخلاقي ځانګړتياوو، اوږدمهاله موخو، د پيروانو اړتياوو پېژندنې او پوره کولو او د پيروانو ظرفيت جوړونې سره اړيکه لري. دا رهبري خپلو پيروانو ته دا لارښوونه کوي ترڅو له نفوذ څخه په الهام اخيستو سره د سازماني موخو په تحقق کې مرسته وکړي، له کار کولو څخه زده کړې او متقابل درناوی ولري، د سازماني موخو په تحقق کې يو بل ته اوږې ورکړي او د چارو په ترسراوي کې رښتيني و اوسي. انسان پلوي، ذهني ترغيب، الهام بخښونکې انګېزه او کارېزماتيکې اغېزې د دې ډول رهبري جوړوونکي عنصرونه دي. بدلون پلوه رهبري په باخبره نفوذ، بصيرت، پيروانو او سازمان ارتقا، مرستې، اخلاقو او معنوياتو، روزنې او ځان جوړونې، سازماني مقاصدو لومړيتوب، کار سره مينې، د کړنو کيفيت لوړوالي، باور، وفا، ليدنې او اورېدنې انعکاسوونکې ده.

خدمت کوونکې رهبري بيا د پيروانو اړتياوو پېژندلو او پوره کولو، د هغوی پرمختيا، مخکښ والي، غوږ نيونې، د پيروانو ملاتړ، د سازماني موخو تحقق لومړيتوب، متقابل باور، مرستې کولو روحيه، ټيمي کار، اخلاقي زمنتيا او متقابل درناوي او اهميت ورکولو باندې ټينګار لري. همدارنګه اخلاقي چلند، مرستې روحيه، اړيکې، معنويات، سازماني بريا، انسان پلوي، توليد پلوي، پرېکړو کې ګډون، هوښيارانه پرېکړې، ښوونه او کار سره مينه د خدمت کوونکې رهبرۍ کليدي ټکي ګڼل کېږي.

د پورته او دېته ورته مختلفو څېړنو په مطالعې سره موندلای او ثابتولای شو چې بدلون پلوه او خدمت پلوه دواړه ډوله رهبرۍ د سازماني موخو تحقق، پيروانو اړتياوو پېژندنې او پوره کولو، اخلاقي موازينو رعايت، بصيرت، متقابل باور، پيروانو ظرفيت جوړونې، واک لېږد، اورېدنې، روزنې، ذهني ترغيب، الهام بخښونکې انګېزې، نيمګړتياوو حداقل کولو، انسان پلوۍ، کار پلوۍ او ګڼ شمېر نورو ملحوظاتو له مخې سره بشپړ ورته والی لري او د تر ټولو لوی توپير په اړه يې ليکلای شو چې بدلون پلوه رهبري له موجوده وضعيت څخه خوښه نه ښکاري او خلاقيت يې د چارو هرم په راس کې ځای لري؛ په داسې حال کې چې په خدمت کوونکې رهبرۍ کې دا انګېزه نه تر سترګو کېږي.

**اخځونه**


۱. ابراهيمی، نازلی. (۱۳۹۵). انواع رهبري. تهران، انتشارات آها.
۲. بختياری، ساکو او زردشتيان شيرين. (۱۳۹۵). نقش ميانجی تفکر استراتيژيک در رابطه بين سبک های رهبری و فرهنگ سازمانی در ادارات ورزش و جوانان استان کردستان. مطالعات مديريت رفتار سازمانی در ورزش. ۱۲مه ګڼه.
۳. رحيميان، حميد، عباس پور، عباس او صرافان، فائزه. (۱۳۹۵). نقش رهبری خدمتگذار در ميزان اثربخشی سازمانی مدارس. پژوهش های رهبری و مديريت آموزشی فصلنامه. ۱۰مه ګڼه.
۴. زالی، محمدرضا. (۱۳۸۳). رهبری تحول آفرين. فصلنامه مصباح. ۵۲مه ګڼه.
۵. زبردست، محمدامجد، عزيزی، سيدکريم او شريعتی، اميد. (۱۳۹۷). جو سازمانی به عنوان ميانجی بين رهبری خدمتگزار مديران مدارس و رفتار شهروندان سازمانی. فصلنامه علمی- پژوهشی مديريت مدرسه. ۱ ګڼه.
٦. زمانی، عليرضا او چناری، عليرضا. (۱۳۹۸). ارائه الګوی ساختاری نوآوری بر اساس سبک رهبری تحول ګرا و عمل ګرا. فصلنامه علمی- پژوهشی علوم اجتماعی دانشګاه آزاد اسلامی واحد شوشتر. ۲مه ګڼه.

۷. سالارزی، حبیب الله، دینارزهی، ارسلان او رئیسی حامد. (۱۳۹۴). بررسی رابطه بین سبک رهبری تحولی و تبادلی با سلامت سازمانی از دیدگاه مدیران دانشگاه شهید بهشتی. مجله فرهنگ و توسعه اقتصادی. ۱ گڼه.

۸. سعید، جعفری نیا، منصور، منشدی او کاظم، جعفری. (۱۳۹۲). بررسی رابطه بین سبک رهبری تحول آفرین و بهبود عملکرد آموزش دهنده. فصلنامه علمی- ترویجی مطالعات منابع انسانی. ٦مه گڼه.

۹. سنجقی، محمدابراهیم. (۱۳۸۰). تحلیلی بر ماهیت و ابعاد نظریه رهبری تحول آفرین. فصلنامه علوم انسانی. ۳۷مه گڼه.

۱۰. شاقلي، ريحانه، مؤيدي، علی اکبر او اسدزاده فرشته. (۱۳۹۹). رهبری در سازمان های آموزشی. تهران، سازمان تحقیقات، آموزش و ترویج کشاورزی، معاونت آموزش و ترویج کشاورزی، نشر آموزش کشاورزی.

۱۱. عباسی، محمدعلی. (۱۳۹٦). رهبری خدمتگذار. فصلنامه مدیریت و توسعه رهبری . ۲مه گڼه.

۱۲. علوی، سیدامین. (۱۳۷٦). روانشناسی مدیریت و سازمان. تهران، انتشارات مرکز آموزش مدیریت دولتی.

۱۳. غفاري، ميثم، قربانی قلجو، رحیم او سردار، سهیلا. (۱۴۰۰). بررسی رابطه رهبری خدمت گذار و تعهد سازمانی کارکنان در شهرداری منطقه یک شهر تهران. فصلنامه مطالعات مدیریت و حسابداری. ۱ گڼه.

۱۴. فرهنگی، علی اکبر او صفرزاده، حسین. (۱۳۸٦). روش های تحقیق در علوم انسانی. تهران، انتشارات پویا.

۱۵. فرهنگی، علی اکبر، صفرزاده، حسین او خادمی، مهدی. (۱۳۸۳). نظریه های ارتباطات سازمانی. تهران، انتشارات رسا.

۱٦. مجیدیان فرد، محمدباقر او رحیمیان حمید. (۱۳۹۵). بررسی رابطه بین سبک رهبری خدمتگزای با تعهد سازمانی کارکنان. نشریه مطالعات آموزشی نما. ۱ گڼه.

۱۷. موسی خانی، مرتضی او محمدنیا، علی. (۱۳۸۵). ارائه و تبیین شاخص های انتخاب مدل رهبری نوین و نحوه یکپارچه سازی آن در سازمانها. فرهنگ مدیریت. ۱۴مه گڼه.

۱۸. واعظي، مظفرالدين، چوپانی، حيدر او منشالنج، ليلا. (۱۳۸۹). بررسی عوامل مؤثر بر نوآوری سازمانی. سومين کنفرانس ملی خلاقيت شناسی. تهران، خانه معلم.

۱۹. وکيلی، فريبا. (۱۳۸۲). بهار انگيزش طبيعت. گزيده مديريت. ۲۶مه گڼه.

20. Alghatani, A. (2014). Are Leadership and Management different? A review Journal of Management Policies and Practices. 2(3).
21. Bennison, Malcolm and Cason, Jonathan. (1984). The manpower Planning Handbook. McGraw- Hill.
22. Deherty, A. Y. Danylchunk, K. E. (1996). Transformational and transactional leadership in interuniversity athletics management. Journal of sport management. 10.
23. Fiedler, E. Fred and Chemers, M. M. (1985). Improving leadership effectiveness. Personnel Psychology.
24. Fiedler, E. Fred. (1970). Leadership experience and leader performance. Organizational Behavior and Human Performance.
25. Hersay, P. and Blanchrd, H. K. (1977). Management of organizational behavior. Englewood Cliffs, Practice Hall.
26. Hersay. P. and Blanchard, H. K, (1997). Management of organizational Behavior. Englewood Cliffs. Prentice Hall.
27. Kanungo, R. N. (1988). Leadership in organization: Looking Ahead to the 21st century. Canadian psychology. 1(2).
28. Moriano, J, A. Molero, F. (2011). The influence of transformational leadership and organizational identification on entrepreneurship. International Entrepreneurship Management Journal.
29. Seadati, O. R, Sayadi, Ahangari Sh. (2013). The relationship between Leadership styles with strategic thinking government Organizations managers of Kerman. Productivity Management. 7(26).
30. Yukl, G. (2002). Leadership in organization. Prentice- Hall.

# په حنفي فقه او د افغانستان په وضعي قوانينو کې د مدني دعوی د صحت شرطونه

عين الله کريمي[۱(*)]

۱ - د غزني پوهنتون، شرعياتو پوهنځي، د فقه او قانون څانګې استاد

* ainullahkarimi7@gmail.com

**لنډيز**

د دې سره سره چې حنفي فقهې، د افغانستان مدني قانون او د مدني محاکمو اصولو قانون کې د حقوقي يا مدني دعوی د اقامې لپاره شرطونه وړاندې کړای شوي دي، چې د دغه شرطونو د شتون په صورت کې غوښتونکی کولای شي، د خپلو حقوقو د لاسته راوړلو لپاره محکمې ته مراجعه وکړي او د حقوقي يا مدني دعوې اقامه ترسره کړي. که چېرې په حقوقي يا مدني دعوی کې د دعوی د اقامې شرطونه شتون و نه لري، نو د قانوني اړخه نوموړې دعوی ته په محکمه کې توجه نه کېږي او د دعوی د نه اورېدلو يا هم د دعوی د رد قرار صادرېږي.

پر همدې بنسټ په دغه مقاله کې هڅه شوې د مدني دعوی د اقامې د صحت شرطونه چې هماغه د حقوقي دعوې د اقامې د صحت شرطونه دي، په حنفي فقه، د افغانستان مدني قانون او مدني محاکماتو اصولو قانون کې تر څېړنې او ارزونې لاندې ونيول شي. او - انشاالله - په راتلونکي کې به دې سره ټوله هغه تشه چې د حقوقي يا مدني دعوی ګانو د صحت د شرطونو په اړه مخاطبينو لپاره شتون لري، تر ډېره بريده ډکه شي.

**کليدي اصطلاحات**:دعوی، مدني دعوی، مدني محاکم، مدعی بها.

## ۱. سريزه

الحمد الله رب العلمين وصلواة وسلام علي اشرف الانبياء والمرسلين وعلي اله واصحابه واتباعه وذريته واهل بيته اجمعين. قال الله تبارک وتعالی: ﴿ إِنَّ اللّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤدُّواْ الأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُواْ بِالْعَدْلِ إِنَّ اللّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِ إِنَّ اللّهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا ﴾. امابعد :

مدني دعوی ګانې په محاکمو کې د ځانګړو اصولو او روشونو پر بنسټ رسيده ګي کېږي، چې دغه اصول او روشونه د مدني محاکماتو د اصولو په نوم سره يادېږي. مدني محاکماتو اصول د هغه قواعدو ټولګه ده، چې د دعوی د اقامې څرنګوالی، محکمې ته د دلايلو د وړاندې کولو، د مکتسبه

حقوقو څخه دفاع، د دعوی طرح کول او ابلاغول یې د دعوی لورو ته، محکمې ته د رسیده ګۍ تشریفات، د محاکمو واکونه، د حکم د صدرو طریقه، د بیا کتنې د غوښتنې شرطونه، په صادر شوو احکامو باندې اعتراض او د حکم د اجراء له روښانولو څخه بحث کوي.

یو له مطرح شوو دعوی ګانو څخه چې په مدني قانون کې په پراخه کچه تر څېړنې او ارزونې لاندې نیول شوې دي، مدني او حقوقي دعوی ګانې دي. حقوقي دعوی ګانې مونږ ته ښایي چې د یو چا حق ضایع شوی دی، ولې جرم نه دی واقع شوی. په حقوقي او مدني دعوی ګانو کې توپیر نه لري، چې د دعوی لوري حقوقي اشخاص وي، یا حقیقي اشخاص... په هر حال د دغه څېړنې اصلي موخه دا ده، چې هر کله اړتیا پیښېږي، ترڅو مدني دعوی اقامه شي، د دغه مدني دعوی د اقامې ټول شرطونه باید بشپړ شوي وي، دغه شرطونو ته په حنفي فقه کې د مدني دعوی د صحت عمومي شرطونه وایي، د دغه شرطونو په بشپړېدو سره زیانمن لوری کولای شي، خپله دعوی اقامه کړي او د خپل حقه حق غوښتونکی شي. دغه څېړنه کې هڅه شوې، ترڅو د مدني دعوی د صحت شرطونو په اړه د حنفي فقهې او افغانستان قوانینو دریځ روښانه شي، دا چې افغانستان کې تر ډېره بریده حنفي مذهب حاکم دی، نو د قضایاوو په حل او فصل کې هم د حنفي فقهې احکام پلي کېږي. دغه څېړنه کې ټول هغه شرطونه تر خپلې وسعې ځای پر ځای شوي، چې د مدني دعوی د صحت لپاره اړین دي.

### د څېړنې مسئله

ټول هغه اشخاص کوم چې متضرر شوي وي مجبور دي خپلې دعواوې عدلي او قضایي ارګانونو ته وړاندې کړي نو کله چې یوه دعوی عدلي او قضایي ارګانونو ته وړاندې کېږي ستونزه داده چې د یادو دعواوو ډېرئ ذیدخل اشخاص له ټولو هغو شرطونو بې خبره وي کوم چې د دعوا د صحت لپاره اړین وي، نو د دې ستونزې د له مینځه وړلو لپاره دا څېړنه ترسره شوې ده ترڅو د دعوی ټول ذیدخل لوري د مدني دعوی د صحت شرطونه وپېژني.

### د څېړنې موخې

- په حنفي فقه او افغانستان قوانینو کې د ټولو هغه شرطونو پېژندل چې د مدني دعوی د صحت لپاره اړین دي.

### د څېړنې پوښتنې

**الف) اصلي پوښتنې**

۱. په حنفي فقه او افغانستان وضعي قوانینو کې د مدني دعوی د صحت شرطونه څه دي؟

**د څېړنې اهميت**

د دې موضوع اهميت په دې کې دی، چې مونږ کولای شو د دغه موضوع په پايله کې د مدني دعوی د صحت شرطونه وپېژنو، د کومو په واسطه چې مونږ کولای شو خپله دعوی په محکمه کې اقامه کړو.

**د څېړنې تګلاره**

ياده څېړنه کتابتوني بڼه لري، نو د کتابتوني- کيفي مېتود په نظر کې نيولو سره دغه څېړنه پای ته رسېږي. د څېړنې په اړه له اصلي مصادرو او مراجعو څخه ګټه اخېستل شوې، په څېړنه کې تر خپل توان پورې د ستونزو مخنيوی شوی، همدارنګه تر خپل وس او توان پورې کوښښ شوی چې د موضوع په اړه هر اړخيز معلومات راټول شي. د څېړنې په شکلياتو کې له ادبي اسلوب څخه ګټه اخېستل شوې او د پښتو ژبې ادبي او املايي اصول په پوره ډول پلي شوي دي.

**۲. د دعوی تعريف**

**۱,۲. د دعوی لغوی معنی**

په المعجم الوسيط کې د دعوی د تعريف په اړه داسې کلمات راغلي دي: الدعوی ( فی القضاء ): ( قول يطلب به الاءنسان اثبات حق علی غيره ). يعنې دعوی هغه وينا ده، چې انسان د هغه په واسطه له بل چا د خپل حق غوښتنه کوي.[۱]

دعوی په وزن د فعلي په لغت کې طلب يا غوښتنې ته وايي، لکه چې الله تعالی ﷻ په دې مبارک آيت کې داسې فرمايلي دي: ﴿فَمَا كَانَ دَعْوَاهُمْ إِذْ جَاءهُمْ بَأْسُنَا إِلاَّ أَن قَالُواْ إِنَّا كُنَّا ظَالِمِينَ﴾.[۲]

ژباړه: نو نه به وه وينا د دوی، کله چې به راغی دوی ته عذاب زمونږ، غوښتنه يې نه وه، مګر دا چې ويل به دوی بېشکه چې وو مونږ ظالمان ( په خپلو ځانونو چې د رسولانو تکذيب مو کاوه.[۳] او يا هم دعوی د ويلو په معنی سره راغلې ده، لکه دې مبارک آيت کې چې الله تعالی ﷻ فرمايلي دي:﴿ دَعْوَاهُمْ فِيهَا سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلاَمٌ وَآخِرُ دَعْوَاهُمْ أَنِ الْحَمْدُ لِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾.[٤]

---

[۱] المعجم الوسيط، د لغتونو کتاب.

[۲] سورت الاعراف، آيت ۵.

[۳] کابلی تفسير، پښتو ژباړه، سورت الاعراف، آيت: ۱۵، ج ۱، ص ۸۴۴.

[٤] سورت يونس، ايت ۱۰.

ژباړه: دعاوې ( ويناوې ) د دوی په دې جنتونو کې ( دا وي ) چې په پاکي سره يادوو تا اې الله ﷻ او وړاندې والی د دوی به په دغه ( جنت ) کې سلام وي، خاتمه د دعا ( وينا ) د دوی به دا وي، چې ګردې ( ټولې ) ثناوې ستاينې ( صفتونه ) خاص الله تعالی ﷻ لره دي، چې رب ( پالونکی ) د ټولو عالميانو دی.[1]

په بل ځای کې الله تعالی ﷻ داسې فرمايلي دي: ﴿فَمَا زَالَت تِّلْكَ دَعْوَاهُمْ حَتَّى جَعَلْنَاهُمْ حَصِيدًا خَامِدِينَ﴾.[2]

ژباړه: و به وايي ای هلاکته زمونږ ( را حاضر شه دغه دې وخت دی ) بېشکه مونږ وو ظالمان. پس تل به وي، دغه بلنه د دوی ( هلاک لره ) تر هغو پورې چې و به ګرځول مونږ دوی ريبل شوي، مړه يخ پراته.[3]

### ۲,۲. د دعوی اصطلاحي معنی

په مجلة الاحکام کې له اصطلاحي اړخه دعوی داسې تعريف شوې ده: ( (الدعوی هي طلب احد حقه من آخر في حضور الحاکم و يقال للطالب المدعي وللمطلوب منه المدعي عليه). [4]

ژباړه: ژباړه: دعوه عبارت له دې څخه ده، چې يوڅوک خپل حق د بل څېنې د قاضي په حضور کې وغواړي، غوښتونکی (طالب) ته مدعي او غوښتل شوي (مطلوب منه) ته مدعي عليه ويل کېږي.

د افغانستان د مدني محاکماتو د اصولو قانون پنځمې ( ۵ ) مادې له مخې دعوه داسې تعريف شوې ده: ( د محکمې په وړاندې د پردي څخه د حق غوښتنې ته دعوی وايي).[5]

د کابل پوهنتون د حقوقي اصطلاحاتو په قاموس کې د دعوې تعريف په اړه ويل شوي دي: (د محکمې په وړاندې د نورو څخه د حق غوښتنې ته دعوی وايي).

---

[1] کابلی تفسير، پښتو ژباړه، سورت يونس، آيت: ۱۰، ج ۱، ص ۱۱۶۳ - ۱۱۶۴.

[2] سورت الانبياء، ايت ۱۵.

[3] کابلی تفسير، پښتو ژباړه، سورت الانبياء، آيت: ۱۵، ج ۲، ص ۱۳۶.

[4] مجلة الاحکام، ماده: ۱۶۱۳.

[5] د مدني محاکماتو د اصولو قانون، ۱۳۶۹هـ ش کال، د زمري ۳۱ نېټه، پرله پسې ګڼه ( ۷۲۲ )، ۵ ماده.

که پورتنیو تعریفونو ته وکتل شي، د مجلة الاحکام العدلیه او مدني محاکمو اصولو قانون کې چې کوم تعریفونه وړاندې شوي دي، تقریباً د محتوی له حیثه یو شان ښکاري او د دواړو په تعریفونو کې کوم ځانګړی تناقض شتون نه لري.

**۳. د مدني دعوی د صحت شرطونه**

دا یو څرګند حقیقت دی، چې کله قضا او محاکم د ټولنې د انساني ژوندانه د یوه بنسټیز رکن په حیث ښکاره شو، نو د انسانانو شخصي انتقام اخېستنې روحیه له مینځه ولاړه او حق غوښتونکو د یو سلسله پړاوونو په تېرولو سره رسمي واک لرونکو مقاماتو ته مراجعه پیل کړه.

دعوی د ټولو حقوقي پرنسیبونو او اصولو په شان د یو لړ شرایطو درلودونکې ده، او جنفي فقهاؤ د دعوی د قبولیت لپاره لاندې شرطونه راوړي دي، چې د عمومي شرطونو په نوم سره یادېږي. دغه شرطونه په لاندې ډول تر څېړنې لاندې نیول کېږي.

**۱,۳. د مدني دعوی عمومي شرطونه**

ټولې مدني دعوی ګانې د حقوقي پرنسیپونو اوموازینو له مخې د یو لړ عمومي شرطونو لرونکې دي، چې هره یوه مدني او حقوقي دعوه د یو شان عمومي شرطونو څخه برخمنې دي، چې په لاندې ډول دي:

**۱,۱,۳. د مدعی بها (د دعوې لاندې جنس) معلوموالي له حیثه**

د حقوقي او مدني دعواوو د صحت لپاره دا شرط دی، چې مدعي بها[1] (هغه غوښتل شوی شی دی، چې په هغې کې ټول هغه حقوق چې قانوني بڼه ولري شامل وي او د قانون د حکمونو سره سم د مدعي بها په توګه د محکمې په وړاندې واقع شي) باید ټاکلی اومعلوم وي.[2]

د مدعي بها معلومول د اشخاصو له لوري په اشارې، صفت بیانولو، پېژندنې او تعریف سره روښانه کېږي. د دې څخه داسې څرګندېږي که چېرې مدعي بها د منقوله اجناسو له ډلې څخه وي، باید قضایي ناستې ته حاضر کړای شي، چې بیا دلته یواځې منقوله عین ته اشاره کول بسنه کوي.

[1] مدعی بها غوښتل شوی شی دی، او په هغه حقوقو کې شامل دی چې افغانستان جمهوریت قوانین یې اټکل کړی او د دعوی موضوع کېدای شي.(د مدني محاکماتو د اصولو قانون، ۱۳۶۹هـ ش کال، د زمري ۳۱ نېټه، پرله پسې ګڼه ( ۷۲۲ )، ۸ ماده.)

[2]مجلة الاحکام، مادة: ۱۶۱۹.

خو که چېرې مدعي بها عقاري اموال (غير منقول اموال) وي، په دعوی او شهادت دواړو کې محل د موقعيت چې عبارت دی، له ښار، کلي، محل، کوڅې او نورو څخه ... يادول اړين دي. همدارنګه د څلورو حدودو يا لږ تر لږه د دريو حدودو يادول هم اړين دي.[۱] او د حدودو د مالکانو نومونه او د هغوی د پلرونو او نيکونو نومونه اړين دي، چې ذکر شي او که چېرې د حد مالک معلوم او مشهور شخص وي، يوازې نوم يادول يې هم کفايت کوي د هغه د پلار او نيکه نوم يادول اړين نه دي.[۲] نو محکمه د قانون په نظر کې نيولو سره د دعوی د دواړو اړخونو د اختلاف په صورت کې د بېې کروکي د حدودو ټاکلو او د مساحت او ساختماني مسايلو په اړه د اهل خبرۀ مساح، د کادستر کارمند، د ځمکې د اصلاحاتو متخصص، مهندس او ساختماني انجينر او ګاونډي څخه بشپړ معلومات تر لاسه کوي.

معلومه دا شوه که مدعي بها موزونات وي، د دعوی د صحت لپاره يې اړينه ده، چې جنس يې ذکر شي. د بېلګې په ډول که جنس غنم وي، نو نوع، صفت او اندازه يې ذکر شي[۳] او که منقوله عيونات وي، د قضا مجلس ته يې راوړل د امکان تر پولې ضروري دي او که چېرې مدعي بها دين او قروض وي،[٤] نو په مدعي باندې لازمه ده، چې جنس، ځانګړتياوې او اندازه يې ذکر شي. د بېلګې په ډول ذکر کړي، چې زما په دې مدعي باندې سل ميثقاله عربي خالص سره زر دين (قرض) دی، چې سره زر يې جنس او عربي يې نوع او خالص يې وصف او سل ميثقاله يې اندازه ده. په دې اړه د

---

[۱] د شرح المجلة الاحكام العدلي د (۱۶۲۴) مادې په نظر کې نيولو سره: (اذا اصاب المدعي في بيان الحدود و اخطا في بيان مقدار ذراع العقار او دونه لا يمنع صحة دعواه).

ژباړه: که چېرې مدعي د مدعي بها حدود او پولې بيان او روښانه کړي، خو د مدعي بها په اندازې او د عقار په مترانه کې خطاء او سهوه شي، د مدعي نوموړې کړنه د دعوې د صحت مانع نه شي ګرځېدای.

[۲] مجلة الاحکام، مادة: ۱۶۲۳.

[۳] مولوي عبدالباقی، حقاني.(۱۳۹٦ ل.ل). رهنمای وثايق. کابل: مستقبل خپرندويه ټولنه. ISBN: 4716. ، ماده: ۱۳۰.

[٤] که چېرې مدعي عين وي، سبب د ملکيت بيانول اړين نه دي، بلکې مطلق دعوی د ملکيت صحيح ده، د بېلګې په ډول ووايي زه د دې مال مالک يم او که چېرې مدعي دين وي، دعوی هغه وخت صحيح کېږي چې په دعوی کې سبب د دين ذکر کړي. (د مجلة الاحکام ۱۶۲۷ ماده).

مجلة الاحکام په ( ١٦٢٦ ) ماده کې داسې يادونه شوې: ( اذا کان المدعی به دينا لزم المدعی ان يبين جنسه و نوعه و وحصه و مقداره).[١]

### ۲,۱,۳. د دعوې دواړو لورو (مدعي[٢] او مدعي عليه[٣]) اهليت شتوالي له حيثه

د دعوی دواړې خواوې د قانون د حکمونو سره سم له قانوني اهليت څخه برخمن وي. د قانوني اهليت د نشتوالي او يا غيابت په صورت کې د ولايت، وصايت او قيموميت حکمونه د تطبيق وړ دي.[٤]

د دعوې د دواړو لورو د سن بشپړوالی او عقلي تکامل د دعوې د صحت لپاره ضرور دی. د مدني قانون د (۳۹) مادې له مخې (د رشد عمر پوره اتلس شمسي کلونه دی، که څوک دې عمر ته ورسېږي، او عقلي قوه ولري، د خپلو مدني حقوقو د اجراء کولو لپاره د پوره اهليت خاوند ګڼل کېږي). همدارنګه د اطفالو سرغړونو د رسيده ګۍ قانون ( ۴ ) ماده په دې اړه داسې صراحت لري: ( طفل هغه شخص دی، چې د آتلس کلنۍ عمر يې نه وي بشپړ کړی).[5] همدارنګه د تجارتي محاکمو د اصولو قانون ( ۲۳ ) ماده په دې اړه داسې صراحت لري: ( عاقل- بالغ او غير محجور اشخاص د دعوی د اقامې اهليت لري او مدعي عليه واقع کېدای شي).[٦]

پر دې بنسټ د مدني قانون د (۴۰) مادې له مخې: (که څوک د عمر د کموالي يا معتوه والي، يا لېونتوب له امله مميز نه وي، نه شي کولای چې حقوقي معاملې تر سره کړي، خو که څوک اووه کلنۍ ته نه وي رسېدلی، غير مميز شمېرل کېږي)[٧].

---

[١] مجلة الاحکام، ماده ١٦٢٦.

۲ څوک چې حق غواړي مدعي دی. ( د مدني محاکماتو د اصولو قانون، ٦ ماده ).

۳ او هغه څوک چې حق ورڅخه غوښتل کېږي، مدعي عليه دی. ( د مدني محاکماتو د اصولو قانون، ٦ ماده).

٤د مدني محاکماتو د اصولو قانون، ۱۳٦۹هـ ش کال، د زمري ۳۱ نېټه، پرله پسې ګڼه ( ۷۲۲ )، ۷ ماده.

۵ د اطفالو د سرغړونو د رسيده ګۍ قانون، ۱۳۸۴/۰۱/۰۳ هـ ش، ګڼه ۸۴٦، ۴ ماده.

٦د تجارتي محاکمو د اصولو قانون، ۱۳۴۳/۱۲/۱۷ هـ ش، پرله پسې ګڼه ( ۱ – ۴ )، ۲۳ ماده.

۷د افغانستان مدني قانون، لومړی ټوک، ۱۳۵۵/۱۰/۱۵، ۴۰ ماده.

له بل لوري بايد توجه ولرو، چې په مادي دعوی ګانو مدعي بايد حتماً د عقل درلودلو سربېره د رشد مرحلې ته هم رسېدلی وي، يعنې د دعوی د اقامې پر مهال سفيه نه وي، مګر په معنوي دعوی ګانو لکه د حضانت حق، د تمکين حق او نسب کې سفيه شخص کولی شي، د مدعي پر عنوان دعوی اقامع کړي، سفيه يوازې په مالي حقوقو کې د ولي تابع دی.

د شرح المجلة الاحکام د (١٦١٦) ماده بيا په دې اړه داسې صراحت لري: (يشترط ان يکون المدعي والمدعي عليه عاقلين، فدعوی المجنون والصبي غير مميز ليست بصحيحة ولکن يصح ان يکون اولياء هما و اوصياهما مدعين او مدعي عليهم في محلهما).[١]

ژباړه: د دعوی د صحت لپاره دا شرط دی، چې مدعي او مدعي عليه دواړه عاقلان وي، نو ځکه د مجنون لېوني او د کوچني ماشوم چې غير مميز دی، دعوه صحت نه لري، خو د لېوني او غير مميز په ځای د وصي، ولي، د مدعي او يا مدعي عليه په توګه واقع کېدل درست دي.

### ۳,۱,۳. د دعوې د خصم حاضر والي له حيثه

د مدني دعوی د صحت لپاره بل شرط دا دی، چې مدعي عليه به د عوی په وخت کې په خپله يا هم د قانوني ممثل لکه وکيل، وصي، قيم، يا د وقف متولي حاضر وي. ځګه په غايب شخص باندې دعوی نه صحيح کېږي. په دې اړه فقهاؤ داسې مطالبو ته اشاره کړې ده: ( ان تکون دعوی المدعی خصم حاضر له القاضي عنه سماع الدعوی و البينة و القضاء فلا تقبل الدعوی علی غايب).[٢]

ژباړه: د دعوی د صحت لپاره شرط دی، چې دعوی د مدعي به په مدعي عليه د قاضي پر وړاندې هم په وخت د سماع د عوی کې او هم په وخت د اقامې د بينه وو او هم په وخت د حکم کې حاضر وي. په دې اړه د مجلة الاحکام ( ١٦١٨ ) مه ماده داسې صراحت لري: (يشترط حضور الخصم حين الدعوی واذا امتنع المدعي عليه من المجيئ الی المحکمة و ارسال وکيل عنه اليها فالمعاملة التي تجري في حقه ستذکر فی باب القضاء).[٣]

ژباړه: دا شرط ده چې په دعوه کې خصم ( هغه څوک دی، چې د دعوی لوری وي) حاضر وي، که چېرې مدعي عليه د خپل حضور او يا هم د محکمې ته د وکيل د لېږلو څخه امتناع وکړي، نو له هغوی سره داسې معامله کېږي، کوم چې د قضاء په بحث کې يې يادونه شوې وي.

١ مجلة الاحکام، ١٦١٦ ماده.

٢ الفقة الاسلامي و ادلته، ج٨، ص ٦٢٧٥.

٣ شرح مجلة الاحکام، ١٦١٨ ماده.

د يادې موضوع په اړه د افغانستان د مدني محاکماتو د اصولو قانون (۲۰۴) ماده داسې حکم کوي: (مدعي او مدعي عليه مکلف دي، چې په خپله يا د هغوی وکيل، ولي، وصي، يا قيم له اړوندو سندونو سره محکمې ته حاضر شي).[۱]

نو مدني دعوه کې دا شرط شوه، چې د دعوې لوری مدعي عليه په قضايي مباحثو کې حاضر وي، که چېرې مدعي عليه د مدعي د ادعا په مقابل کې محکمې ته حاضر نه شي، پر دې بنسټ د دعوې عمومي شرطونه نه دي بشپړ شوي، خو دا چې محکمې غايب مدعي عليه په بېلا بېلو وختونو کې درې ځلې جلب پاڼه لېږلې وي او بيا مدعي دعوې ته حاضر نه شي، او يا هم د وکيل، وصي، قيم، محکمې ته را نه شي، نو په دې ځای کې محکمه د مدني قانون او د نورو مرعي الأجراء قوانينو مطابق اجراات پيل کوي.

په دې اړه د افغانستان د مدني محاکماتو اصولو قانون داسې صراحت لري: (که مدعي خپله صورت دعوی محکمې ته وړاندې کړي، د دعوی له دوران وروسته له قانوني عذر پرته غايب شي، محکمه د دې باب د آتم څپرکي له حکمونو سره سم د مدعي په جلب لاس پورې کوي او په هغه صورت کې چې په ټاکلې موده کې محکمې ته حاضر نه شي، د نه خصومت کولو پرېکړه صادرېږي).[۲] که مدعي عليه د عريضې د وړاندې کېدو وروسته د جلب له امله اصلاً حاضر نه شي، او يا د دعوی له دوران نه د مخه يا وروسته تر هغه غايب شي، او مدعي د حل او فصل په پار ټينگار وکړي، محکمه د دې باب د آتم څپرکي په نظر کې نيولو سره اجراات کوي او محکمه د ټاکلې مودې د تېرېدو نه وروسته د غايب د لومړۍ درجې خپلوانو څخه يو تن، مېړه يا مېرمن يې د وکيل په توگه ټاکي او دعوی څېړي.[۳] او په هغه صورت کې چې د غايب لومړۍ درجه خپلوان مېړه يا مېرمن يې د وکالت د شرطونو لرونکي نه وي، يا خپلوان د وکالت د قبلولو څخه ډډه وکړي، د ليکلي تجويز پر بنسټ محکمه مدني څارنوال د غايب د وکيل په توگه ټاکي او دعوی څېړي.[٤]

[۱] د مدني محاکماتو د اصولو قانون، ۱۳۶۹هـ ش کال، د زمري ۳۱ نېټه، پرله پسې گڼه ( ۷۲۲ )، ۲۰۴ماده.

[۲] هماغه اثر، ۱۵۴ ماده.

[۳] هماغه اثر، ۱۵۸ ماده.

[٤] هماغه اثر، ۱۵۹ ماده. او د شرح مجلة الاحکام ۱۸۳۰ او ۱۸۳۲ مادې.

### ۴,۱,۳ د مدعي عليه د معلوم والي له حيثه

د حقوقي دعوې د صحت لپاره دا اړينه ده چې د مدعي له لوري په خپله دعوه کې مدعي عليه مشخص او معلوم کړي، په نامعلوم او نا پېژندل شوي شخص ( هغه چې مجهول الهويت ) وي، دعوه نه صحيح کېږي.

په هغه صورت کې که مدعي او مدعي عليه اشخاص معلوم نه وي، نو د هغوی پېژندنه د دوه نارينه ؤ او يا هم د يو نارينه او دوو ښځو په وسيله سره تر سره کېږي. په دې اړه شرح مجلة الاحکام العدلية په خپله (۱۶۱۷) ماده کې داسې صراحت راوړی دی: (يشترط ان يکون المدعي عليه معلوماً بناء عليه اذا قال المدعي: لي على احد من اهل القرية الفلانية او على اناس من اهلها مقدار کذا، لا تصح دعواه و يلزم عليه تعين المدعي عليه).[1]

ژباړه: په دعوه کې دا شرط ده چې مدعي عليه به معلوم شخص وي، په دې بنسټ که مدعي ووايي: زه په يو نفر باندې چې د فلاني کلي او فلاني ښار اوسېدونکی دی، دومره اندازه طلب لرم، نو دا دعوی کول صحت نه لري، او اړينه ده، چې مدعي عليه معلوم کړی شوی او تعين شوی شخص وي.

نو د دعوی لپاره شرط دا دی، چې مدعي عليه به تعين شوی او معلوم شوی شخص وي او د محکمې حکم بايد په معلوم شخص ترسره شي او هر کله چې مدعي عليه معلوم نه وي، بلکې مجهول شخص وي، نو د محکمې حکم په عدم سمع باندې صادرېږي. او هر کله چې مدعي عليه مجهول وي، حکم کول ممکن نه دي، او نه ورباندې کومه ثمره شته او نه ورباندې کومه نتيجه مرتب کېږي او نه هم د حکم تنفيذ صورت نيسي.

### ۵,۱,۳. د دعوې د محتمل الثبوتوالي له حيثه

د دعوې محتمل الثبوتوالي په دې معنی دی، چې مدعي د کومې مدعی غوښتنه کوي، هغه به شريعت او عقل او عادت له مخې د دعوی کولو وړ وي. څکه هغه دعوه چې شرعاً، عقلاً، عادتاً مستحيل وي د اورېدو او منلو وړ نه ده. هغه دعوی چې مستحيل عقلي وي، د بېلګې په ډول کم عمر شخص په ډېر عمر شخص باندې دعوی وکړي، چې دا زما زوی دی، نو دا دعوی د اورېدلو وړ نه ده، څکه دلته کذب ( دروغ ) متيقن دی. او يا دا چې د عرف او يا عاداتو له مخې يو مشهور غريب د ډېر مال دعوی په يو چا وکړي، دا دعوی هم د اورېدلو وړ نه ده. په دې اړه د مجلة الاحکام

[1] مجلة الاحکام، الکتاب الحادی العشر، ۱۶۱۷ ماده.

( ۱٦۲۹ ) مه ماده داسې صراحت لري: (يشترط أن يكون المدعى به محتمل الثبوت بناًء عليه لو ادعى ما وجوده محال عقلاً او عادتاً لا يصح الادعاء).[۱]

ژباړه: د دعوی د صحت له شرطونو يو دا دی، چې دعوی وړ مال محتمل الثبوت وي. پردې بنسټ که مدعي د يوه شي ادعا وکړي، چې شتون يې عقلاً او عادتاً محال وي، دعوی صحيح نه ده.

**٦،۱،۳. د دعوې د ثبوت د الزاميت له حيثه**

د دې شرط په اړه د مجلة الاحکام ( ۱٦۳۰ ) مه ماده داسې صراحت لري: (يشترط ان يكون المدعي عليه محكوماً و ملزماً بشئٍ على تقدير ثبوت الدعوى. مثلاً: لو أعار احد اخر شيئاً و خرج شخص اخر و ادعى بقوله أنا من متعلقاتهِ فليعرنى، لا تصح دعواه كذلك لو وكل احد اخر بخصوص و خرج شخص آخر و ادعى بقوله انا جاره و بوكالته أنسب، فليوكلني لا تصح دعواه، لان لكل واحد ان يعير ماله من شاءً و بتقدير ثبوت هذه الدعاوي و امثالها لا يترتب في حق المدعي عليه حكم).[۲]

ژباړه: د دعوې د صحت د شرطونو څخه يو دا دی چې د دعوې د ثبوت لپاره مدعي عليه ملزم او محکوم ونيول شي. د بېلګې په ډول که يو شخص بل چا ته يو شی په عاريت سره ورکړي او بيا بل شخص راشي او دعوه وکړي، چې زه د هماغه شخص خپلوان يم او هغه عاريتي شی ماته راکړه، نو دا دعوه د اورېدو وړ نه ده او يا داسې چې يو شخص د خپلو چارو لپاره يو نفر وکيل ونيسي، بيا د مؤکل ګاونډی راشي، او ووايي چې زه د وکالت لپاره مناسب او مستحق يم او زه يې وکالت کوم دا دعوه هم په محکمه کې د اورېدلو وړ نه ده، څکه هر يو شخص چې هر څوک يې خوښ وي مال ورته په عاريت باندې ورکوي، نو څکه د مدعي عليه په اړه کوم حکم نه مرتبېږي.

**۷،۱،۳. د قضاء په مجلس کې د دعوې د اقامې له حيثه**

که چېرې يو شخص د بل شخص پر وړاندې د قضاء د مجلس څخه بهر دعوی وړاندې کړي، دعوی يې د اعتبار وړ نه ده. څګه د قضاء د حکم پرته هېڅوک د حکم د تنفيذ واک او صلاحيت نه لري. په دې اړه د افغانستان د مدني محاکماتو د اصولو قانون داسې صراحت لري: (د مدني دعوی ګانو څېړل د افغانستان د محاکمو له واک څخه دي).[۳] د ياد قانون په پنځمه ماده کې بيا دا ډول صراحت راغلی دی: ( دعوی د محکمې پر وړاندې له پردي څخه د حق غوښتنه ده).[٤]

---

[۱] هماغه اثر، ۱٦۲۹ ماده.

[۲] هماغه اثر، ۱٦۳۰ ماده.

[۳] د مدني محاکماتو د اصولو قانون، ۱۳٦۹هـ ش کال، د زمري ۳۱ نېټه، پرله پسې ګڼه ( ۷۲۲ )، ۳ ماده.

[٤] هماغه اثر، ۵ ماده.

همدارنګه د افغانستان د مدني محاکماتو د اصولو قانون په ( ۴۰ ) ماده کې داسې صراحت لري: ( د افغانستان په محکمو کې د ټولو مدني دعوی ګانو څېړل په ښکاره ډول صورت نیسي ).[۱]

په دې اړه د قضایه قوې د محکمو د تشکیلاتو او واک قانون دریمه ماده داسې صراحت لري: ( د قضائیه قوې په واک کې د هغو ټولو دعوی ګانو څېړل شامل دي، چې د دولت په شمول د حقیقي یا حکمي اشخاصو له لوري د مدعي یا مدعي علیه په توګه د قانون د حکمونو مطابق د محکمې په وړاندې اقامه کېږي).[۲] نو ځکه ویلای شو چې د ټولې هغه دعواوې چې د محکمې او قاضي په حضور کې نه وي اقامه شوې، نوموړې دعوې شرعي او قانوني بڼه او ځانګړتیاوې نه لري.

**۸,۱,۳. مدعی بها د مقدر التسلیم والي له حیثه**

د دعوی د صحت لپاره بل شرط دا دی، چې مدعی بها به مقدر التسلیم وي، ځکه هغه څه چې د تسلمېدو وړ نه وي، حکم ور باندې کومه ګټه نه لري. د بېلګې په ډول که یو څوک په چا باندې په هوا کې د مرغه او دریاب کې د ماهي ادعا وکړي، دا دعوی صحیح نه ده.[۳]

**۹,۱,۳. دعوی کې د تناقض د نشتوالي له حیثه**

په دې اړه د مجلة الاحکام ( ۱٦۴۷ ) مه ماده داسې صراحت لري: ( التناقض یکون مانعا لدعوی الملکیة. مثلاً: لو أراد أحد أن یشتری مالا ثم ادعی بأنه ملکه قبل الاستشراء لا تسمع دعواه).[٤]

ژباړه: تناقض د ملکیت دعوی له موانعو څخه دی. د بېلګې په ډول که یو څوک د مال د اخېستلو اراده وکړي، وروسته د هغه د ملکیت ادعا وکړي، وړاندې له دې چې د مال د اخېستلو غوښتنه اجراء کړي، دعوی یې نه اورېدل کېږي. همدارنګه یو څوک ووایي، په فلاني شخص باندې قطعاً هېڅ حق نه لرم او وروسته په هغه د یوه شي ادعا وکړي، دعوی یې نه اورېدل کېږي.

---

[۱] هماغه اثر، ۴۰ ماده.

[۲] د قضایه قوې د محکمو د تشکیلاتو او واک قانون. ۱۳۸۴/۰۲/۳۱ هـ ش، پر له پسې ګڼه ۸۵۱، ۳ ماده.

[۳] علی حیدر خواجه أمین أفندی.( ۱۴۱۱ هـ - ۱۹۹۱ م). دررالحکام، شرح مجلة الاحکام – الباب الثانی، مادة ۱۹۸، ص ۱۷۷.

[٤] مجلة الاحکام، ماده ۱٦۴۷.

**پایله**

د پورتنۍ څېړنې څخه لاندې پايلې لاسته راځي:

۱- دعوه عبارت له دې څخه ده، چې يوڅوک خپل حق د بل ځينې د قاضي په حضور کې وغواړي، غوښتونکی (طالب) ته مدعي او غوښتل شوي (مطلوب منه) ته مدعي عليه ويل کېږي.

۲ – د مدني دعوې د اقامې لپاره شرط ده، چې مدني دعوی به د داسې جنس په اړه صورت نيسي، چې معلوم او ټاکلي وي.

۳ – د مدني دعوی د اقامې لپاره بل شرط دا دی، چې مدعي او مدعي عليه به اهليت لرونکي وي، په هغه صورت کې چې يو له لورو اهليت و نه لري، نو مدني دعوی نه اقامه کېږي.

۴ – د مدني دعوې د اقامې لپاره بل شرط دا دی، چې د دعوې خصم بايد حاضر وي.

۵ – د مدني دعوی د اقامې لپاره شرط ده، چې مدعي عليه معلوم وي، مجهول الهويت شخص نه وي.

٦ – د مدني دعوې د اقامې لپاره بل شرط د دعوې محتمل الثبوت والی دی.

۷- د مدني دعوې د صحت د شرايطو څخه بل شرط دا دی چې د دعوې د ثبوت لپاره مدعي عليه ملزم او محکوم ونيول شي.

۸ – د مدني دعوې د اقامې لپاره بل شرط دا دی، چې مدعی بها شی به د تسليم وړ وي.

۹ – د مدني دعوې د اقامې لپاره بل شرط دا دی، چې د قضاء په مجلس کې به دعوی اقامه کېږي.

۱۰ – وروستی شرط چې د مدني دعوې د اقامې په اړه شتون لري، هغه دا دی، چې په دعوی کې به تناقض موجود نه وي.

**اخځليکونه**

قرآنکريم

۱. الأتاسی، محمدخالد. (۱۳۵٦- ۱۳۴۹ هـ). شرح المجلة الاحکام العدلية. حمص: مطبعة حمص.

۲. حقاني، مولوي عبدالباقی.( ۱۳۹٦ ل.ل). رهنمای وثايق. کابل: مستقبل خپرندويه ټولنه. ISBN:4716.

۳. د اطفالو د سرغړونو د رسيده ګۍ قانون(۱۳۸۴/۰۱/۰۳ هـ ش)، پرله پسې ګڼه (۸۴٦).

۴. د افغانستان د تجارتي محاکمو د اصولو قانون(۱۳۴۳/۱۲/۱۷ هـ ش)، پرله پسې ګڼه (۱-۴).

۵. د افغانستان د مدني محاکماتو د اصولو قانون( ۱۳۶۹هـ ش کال، د زمري ۳۱ نېټه)، پرله پسې ګڼه ( ۷۲۲ ).

۶. د افغانستان مدني قانون( ۱۳۵۵/۱۰/۱۵)، لومړی ټوک، پرله پسې ګڼه ( ۳۵۳ ).

۷. د قضايه قوې د محکمو د تشکيلاتو او واک قانون. ۱۳۸۴/۰۲/۳۱ هـ ش، پر له پسې ګڼه ۸۵۱.

۸. الزحيلی، دکتور وهبة. ( ۱۴۰۴ هـ - ۱۹۸۴م )، الفقة الاسلامي و ادلته. الطبعة الاولی. دمشق: انتشارات دارالفکر.

۹ . شيخ الهند مولانا محمود الحسن او شيخ الاسلام علامه شبير احمد عثماني ( رحمة الله عليهم). کابلی تفسير، پښتو ژباړه: د افغانستان علماؤ ټولنه. لومړی او دويم ټوک. سعودي عربستان: ملک فهد د حرمينو شريفينو خادم چاپ خونه.

# د اسلام په سياسي نظام کې احتساب او د هغې آداب

**احسان الله شهامت[۱(*)] ، عين الله کريمي[۲] او رحمت الله حيدري[۳]**

۱- د غزني پوهنتون، شرعياتو پوهنځي، د اسلامي ثقافت څانګې استاد

۲- د غزني پوهنتون، شرعياتو پوهنځي، د فقه او قانون څانګې استاد

۳- د غزني پوهنتون، شرعياتو پوهنځي، د اسلامي تعليماتو څانګې استاد

* e_ehsanullah2012@yahoo.com

**لنډيز**

د اسلام په هر حکم کې د انسانانو لپاره ډيرې ګټې نغښتي وي، چې د دغه احکامو په نظر کې نيولو سره انسانان په اسانۍ سره کولای شي خپلو موخو ته ورسيږي او د دارينو نيکمرغي يې هم په برخه شي او که چېرې دغه احکام رعايت نه شي، نو دغه چاره د انسانانو لپاره د دواړو دارينو د بدبختۍ سبب ګرځي. د دې حکمونو له ډلې څخه يو هم تر لاس لاندې کسانو ( حکومتي لوړپوړو او نورو مارينو ) سره احتساب کول دي، چې رسول اکرم ﷺ دا کړنه په خپله تر سره کړې ده. تر لاس لاندې کسانو سره حساب کول( حکومتي لوړپوړو او نورو مارينو ) د کاميابۍ لامل ګرځي. تر رسول اکرم ﷺ وروسته دا چاره خلفاء راشدينو تر سره کړې ده، په هر وخت کې د محاسبه کوونکو لپاره شرطونه او اوصاف په نظر کې نيول شوي چې د همدغه اوصافو په نظر کې نيولو سره د خلکو لپاره حاسب ټاکل ګرځي. په لنډ ډول ويلای شوی چې د يو نظام لپاره اړينه ده، ترڅو تر لاس لاندې کسانو ( حکومتي لوړپوړو او نورو مارينو ) سره مختلف ډوله محاسبه وکړي تر څو عدالت تامين شي ، د ګډوډيو مخنيوی وشي، پرمختګ صورت ونيسي، په ټولنه او نظام کې موجوده ټولې ستونزې حل شي، خلک په آرامه او سوله ايزه فضاء کې پرته له ويرې او ډار څخه خپلې چارې پرمخ يوسي، همدارنګه د مکافاتو او مجازاتو اصل په خپل نظر کې ولري، ترڅو هغه خلک چې خپل ژوند د اسلامي شريعت د احکامو سره سم پرمخ وړي، د مکافاتو اصل تطبيق او هغه خلک چې د اسلامي شريعت له احکامو څخه سرغړونه کوي، د مجازاتو اصل تطبيق شي.

**کليدي اصطلاحات:** اسلام ، سياست، سياسي نظام، احتساب، د احتساب مراجع.

## ۱. سريزه

إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادي له وأشهد أن لا إله الله وحده لا شريك له و أ شهد أن محمداً عبده

ورسوله صلي الله عليه وسلم الذي بلغ الرسالة وأدى الأمانة ونصح الأمة وجاهد في سبيل الله حتي أتاه اليقين فصلوات الله وسلامه عليه وعلى آله وأصحابه ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين. أما بعد:

اسلام کې هر حکم د ټولو انسانانو د ګټو په پار راغلی دی، که هغه دنيوي ګټې وي يا اخروي ګټې، که چېرې انسانان دغه احکام په نظر کې ونيسي، په اسانۍ سره کولای شي، خپلو اهدافو ته ورسېږي، د دې تر څنګ يې دنيوي او اخروي سعادت او نيکمرغي په برخه شي. که چېرې انسانان دغه احکام د خپل ژوند په پرمخ بېولو کې په نظر کې و نه نيسي، نو د پورتنيو نغښتل شوو ګټو څخه به بې برخې وي چې په پايله کې په دنيا کې کې د بدبختۍ او په ټولنه کې د زياتو ستونزو سره مخامخ کېږي.

د دې احکام له ډلې تر لاس لاندې کسانو (حکومتی لوړپوړو او نورو مارينو ) سره د اړونده برخې د مسئول له لورې حساب کول دي چې ياده کړنه نبي کريم ﷺ په خپل رسالت کې په ښه بڼه تر سره کړې ده او د راتلونکو خلفاوو لپاره يې د يو اصل په توګه پرې ايښی ده، چې راتلونکي چارواکي او مسئولين بايد تر خپل لاس لاندې( حکومتی لوړپوړو او نورو مارينو ) اشخاصو سره د دوی د کړنو احتساب وکړي، په ښه ډول د کارونو د ترسره کولو په پايله کې مکافات ورکړي، د غفلت او په ښه ډول د کارونو د تر سره کولو په صورت کې مجازات ورکړي، که چېرې ياد اصل د دولت چارواکي د خپل مسئوليت په وخت کې په نظر کې ونه نيسي له شک پرته به د چارو پر مخ بېولو کې ستونزې او مشکلات را مينځ ته کېږي. چې دغه چاره بالاخره د نظام د له مينځه تللو سبب کېږي.
د همدې موخې په خاطر چې مسئول چارواکي خپلو کارونو ته متوجه شي او چارې په ښه ډول مخ ته يوسي، بناءً مونږ مناسبه وګڼله چې د موضوع اړونده يو اندازه معتبر معلومات را ټول او د لوستونکو په خدمت کې يې وړاندې کړو.

### د څېړنې ستونزه

دا چې نن ورځ مونږ د نړۍ د مختلفو هېوادونو ډول ډول نظامونه مطالعه کوو، د دې سربېره د حکومتي مامورينو سره محاسبه کول ( حکومتی لوړپوړو او نورو مارينو ) او هغه مراجع چې د دې محاسبې کولو واک ورکړل شوی، له هغه ډلې په ډېری هيوادونو کې د پلټنې عالي اداره شته! همدارنګه د دې موضوع په اړه د مختلفو متقدمينو او متاخرينو پوهانو زياتې تيورګانې( نظريات) شتون لري؛ لکن هېڅ يوې مرجع دا موضوع په مجموعي ډول نه ده مشخصه کړې، په حقيقت کې دا لويه ستونزه ده، نو د دې ستونزې د له مينځه وړلو لپاره دا څېړنه ترسره شوې ده ترڅو د ټولنې اشخاص د احتساب د آدابو، ډولونو او مراجعو په اړه معلومات ترلاسه کړي او په دې اړه ټولو شته ستونزو ته د پای ټکی کېښودل شي.

### دڅېړنې موخې

- خلک په دې پوهول، چې د دولت مامورين او مسؤلين په مطلق ډول خپل سري نه دي.

- خلک په دې پوهول، چې د حکومتي چارواکو او مامورینو سره به څوک او څرنګه حساب کېږي.
- هغه کسان چې غواړي د خلکو چارې په لاس کې واخلي، په دې باندې پوهول چې د ملت د استازو له لوري راسره حساب کېدونکې ده او د ناکامۍ په صورت کې به د اړوند منصب څخه عزل کېږم.

**دڅېړنې پوښتنې**

- آیا احتساب کول یوازې د دولت د رئیس لپاره دي او که د ټولو مسئولو کسانو لپاره؟
- له مسئولینو او چارواکو سره احتساب کول د چا واک دی؟
- آیا د حساب ور کولو لپاره د اسلام په سیاسی نظام کې اصول شتون لري؟

**د څېړنې تګلاره**

یاده څېړنه کتابتوني بڼه لري، نو د کتابتوني- کیفی میتود په نظر کې نیولو سره دغه څېړنه پای ته رسېږي. د څېړنې په اړه له اصلي مصادرو او مراجعو څخه ګټه اخېستل شوې، په څېړنه کې تر خپل توان پورې د ستونزو مخنیوی شوی، همدارنګه تر خپل وس او توان پورې کوښښ شوی چې د موضوع په اړه هر اړخیز معلومات راټول شي. د څېړنې په شکلیاتو کې له ادبي اسلوب څخه ګټه اخېستل شوې او د پښتو ژبې ادبي او املایي اصول په پوره ډول پلي شوي دي.

**۲. د اسلام په سیاسی نظام کې له وګړو سره محاسبه کول**

د دولت د رئیس له مهمو دندو څخه یوه هم دا ده چې تر خپل واک لاندې کسانو سره به احتساب کوي چې دېته حسبه او یا هم نظام الاحتساب ویل کېږي.

د موضوع د لاروښانتیا په موخه لازمه بولو چې احتساب، حسبه او محتسب اصطلاحګانې وپیژنو.

**۲.۱,۲. د حسبې، احتساب او محتسب پېژندنه**

**حسبه**

د دیوبند دارالعلوم د حدیثو استاذ علامه وحید الزمان کیرانوي رحمه الله علیه د حسبه په تعریف کې لیکلي: (حسبه یو احتسابي منصب دی چې په اسلامي حکومتونو کې د ژوند د معاملاتو او آدابو د کتنې او نظارت لپاره وي).[1]

[1] الکیرانوي، وحیدالزمان قاسمی( ۱۴۲۲ه-۲۰۰۱م). القاموس الوحید، ص: ۳۳۶، ادارة اسلامیات، لاهور- کراچي، پاکستان، (-).

له حسبې څخه موخه هغه اداره ده چې د احتساب دنده په ښه طريقه سره ترسره کوي. حسبه په اسلامي دولتونو کې يو پخوانی منصب دی چې مشر يې د نرخونو، د خلکو د اخلاقو او نورو چارو په اړه څارنه ترسره کوي. خوپه قانوني اصطلاحاتو کې حسبه په حقيقت کې يوه داسې اصطلاح ده چې معنی يې حساب او يا د محتسب فريضه ده. ابن الاخوة فرمايي: ”حسبه د اسلامي تاريخ په رڼا کې يوه ديني دنده ده، چې د قضاء د ندې سره ورته والی لري چې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر په فکر باندې تکيه لري“. [1]

ابراهيم مصطفی په معجم الوسيط نومي کتاب کې ليکي چې: ”حسبه يو داسې منصب دی چې په اسلامي دولتونو کې يې داسې شخص د رئيس او مشر په صفت سمبالوي چې په عامو چارو باندې څارنه کوي د خرڅولو او اخېستلو، د شيانو د نرخونو او د عامو آدابو څارنه کوي ترڅو خلک په نرخونو کې زياتوالی و نه کړي او خلک بد اخلاقي اختيار نه کړي“.[2]

**احتساب**

دا هغه اداري مراقبت او څارنې ته وايي چې دولت يې د والي يا بل دولتي لوړ رتبه کارکوونکي په واسطه چې د دولتي مامورينو د کړنو د څارنې لپاره مقرر شوی وي ترسره کوي، دغه مراقبت بايد په يو اسلامي چوکاټ کې تر سره شي چې اسلامي صبغه او رنګ ولري د امر بالمعروف او نهی عن المنکر په نيت او اراده د شرعي احکامو په نظر کې نيولو سره د يو اسلامي ټولنې د تشکيل په خاطر ترسره شي ترڅو خلک د هغه کارونو لوري ته چې د هغوي په کې خير وي سوق کړل شي او د هغه کارونو څخه منع کړای شي چې د هغوي په کې تاوان وي، نو په همدې ترتيب احتساب يو اداري مراقبت او څارنه ده، چې د اسلامي دولت په امر د خلکو په تصرفاتو او سلوکياتو کې ترسره کېږي، ترڅو د هغوي ټول تصرفات او عملي ژوند اسلامي رنګ او صبغه واخلي ترڅو دوی د شرعي احکامو په نظر کې نيولو سره د نېکيو پيرو او له بديو څخه منع کيدونکي شي.[3]

**محتسب**

محتسب يو خاص دولتي استازی دی چې د اسلامي دولت له لوري د دې لپاره مقرر شوی وي چې د خلکو د کړنو او تصرفاتو څارنه وکړي تر څو د هغوي عملي ژوند کول د اسلامي شريعت مطابق جوړ شي.

[1] ابن الاخوة، محمد بن محمد أحمد القرشي،(-). معالم القربة في أحكام الحسبة، ج۱، ص۲، (-).

[2] مصطفی، ابراهيم (-). معجم الوسيط، ج۱، ص۱۷۱، باب الحاء، دار احياء التراث العربی ، بيروت، لبنان،(-).

[3] ادهم، فوزی کمال،(۱۴۲۱ه-۲۰۰۱م). الادارة الاسلامية، ص:۳۳۰، دار النفائس للطباعة والنشروالتوزيع، بيروت، لبنان، طبعة الاولی.

يا محتسب هغه کس دی چې د وخت امام او يا د ده نائب په دې غرض مقرر کړی وي چې د رعيت د احوالو څارنه او د هغوي د حالاتو او مصالحو څخه ځان خبر کړي.[۱]

محتسب عليه هغه خلکو ته ويل کيږي چې د احتساب مسؤل د هغوی د عملي ژوند کولو څارنه کوي ترڅو هغه د اسلامي شريعت سره سم اعيار او برابر شي.

**۲،۲. د احتسابي کړنو تاريخي شاليد**

احتساب د يو شرعي ولايت او عهدې په حيث په عام ډول د شرعي نصوصو د نزول سره هم مهاله خو په ځانګړي بڼه د رسول الله ﷺ او خلفاء راشدينو رضوان الله عليهم اجمعين د وخت څخه را پدېخوا په داسې ښکاره او واضحه بڼه شتون درلود، چې د شک، مناقشې او ترديد ځای په کې نه ؤ، مګر دا هم لکه د نورو دندو په څېر په اول وخت کې په محدوده اندازه کې وو او بيا يې دعباسيانو او وروسته نورو ادوارو کې ډېره پراختيا مونده. ځينې مؤرخين وايي چې د حسبې نظام د حکومتي نظام په څېر د عباسيانو په دوران کې پيل شو چې د ( ۱۴۶ هـ ) نېټې سره سمون خوري. کله چې منصور واک ته ورسېد يحيی بن عبدالله يې د بغداد له بازار څخه د څارنې په موخه په ( ۱۵۷ هـ ) کې ولېږلو. په دې اړه د علماؤ ترمينځ اختلاف شتون لري، خو دا خبره صحيحه ده چې رسول الله ﷺ په خپله د محتسب کوونکي دنده په لاس کې اخيستې وه. په دې اړه مشهوره واقعه دا وه، چې د مديني منورې له بازار څخه يې څارنه کوله د خوړو په يوه بوجۍ کې يې لاس دننه کړه او لمدوالی يې احساس کړ... د لاندې روښانتيا په موخه د رسول الله ﷺ د وخت او د صحابه کرامو رضوان الله عليهم اجمعين د ژوند څو عملي بېلګې وړاندې کوو.

**۱،۲،۲. د رسول الله ﷺ سنت**

رسول الله ﷺ به د خپلو عاملانو څخه پوره حساب اخېستو، د دوی سره به يې عوايدو او لګښتونو پوره حساب کاوه. امام بخاري رحمه الله عليه د دې موضوع په اړه يو ځانګړی باب ذکر کړی دی، چې د(باب محاسبة الامام عُماله) په نوم سره يادېږي، يعنې دا چې امام به د خپلو عاملانوسره حساب کوي. په دې بنسټ رسول الله ﷺ او د هغه څخه وروسته خلفاء راشدين رضوان الله عليهم اجمعين هم د رسول الله ﷺ په لاره باندې روان وو.[۲]

---

[۱] معالم القربة في طلب الحسبة ج۱/ص۷

[۲] البخاري ، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله الجعفي، (۱۴۲۲ه). الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه = صحيح البخاري، المحقق: محمد زهير بن ناصر الناصر، ج۹/ ص۷۶، كتاب الاحكام، باب محاسبة الإمام عماله، دار طوق النجاة ، (-)، الطبعة الأولى .

**د نبي کريم ﷺ په کړنو کې احتساب**

رسول الله ﷺ حضرت عبدالله **ابْنُ اللُّتْبِيَّةِ** د بنوسليم د زکاتونو د راټو لولو لپاره مقرر کړ، کله چې بېرته راغی، نو نبي کريم ﷺ ورسره محاسبه وکړه، نو حضرت ابن لتبيه رضي الله عنه ورته وويل: چې دا برخه ستاسې ده او دا برخه ماته هديه کې را کړل شوې ده، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: (ته د خپل پلار او مور په کور کې ولې نه کېناستې چې تا ته تحفې راتللې) .... [1]

د صحابه کرامو رضوان الله عليهم اجمعين سره د رسول الله ﷺ محاسبه له دې وجې نه وه چې رسول الله ﷺ په دوی پوره اعتماد او باور نه درلود، بلکې په دوی يې پوره باور وو او دوی د مسلمه امت پوره امين خلک وو او الله تعالی ﷻ د دوی په حق کې تر قيامته دا اعلان کړي دي چې:﴿ **رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ** ﴾[2]

ژباړه: الله ﷻ د دوي څخه راضي دی او دوي د الله ﷻ څخه راضي شوي دي.

نو له صحابه کرامو څخه احتساب موخه دا وه چې امت ته دا درس پاته شي چې ستاسې حاکمان که هر څومره باوري وي او ستاسې په دوي هر څومره باور وي خو بيا به هم د دوی سره حساب کوئ، په حساب سره د مشر زړه د تل لپاره صفا وي او غير اختياري بې باوري هم نه راپيدا کېږي او که د حسبې نظام نه وي نو که حاکم بې احتياطي هم نه وي کړې خو امکان لري، مشر ته غير اختياري وهمونه او شکونه په زړه کې را پيدا شي، چې ممکن حاکم خيانت کړی وي، چې دا وهمونه امير او لاندې حاکمانو ته نقصاني وي او دا د ادارې د ضعف او فساد سبب ګرځي نو په دې خاطر د دې وهمونو او شکونو له مينځه وړلو او په خپل مينځ کې دپوره باور رامينځ ته کولو لپاره له حاکمانو سره حساب کول يوازينۍ لاره ده، چې بايد ترسره شي.

**۲،۲،۲. د خلفاء راشدينو په کړنو کې احتساب کول**

د خلفاء راشدينو تعامل هم همدا ډول وو چې دوي به د خپلو لاندې حاکمانو سره محاسبه کوله.

**۱،۲،۲،۲. حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه**

علامه خزاعي ليکلي د يمن سيمې عامل او قاضي حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه چې د رسول الله ﷺ د رحلت څخه وروسته حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ته راغي نو حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ورته وفرمايل: ( مونږ ته د خپل کار حساب راکړه؟ حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه ورته

[1] مخکنی مصدر ج ۹/ص ۷۶ حديث ګڼه ۷۱۹۷

[2] سورت البينة: ۸ګڼه آيت.

وويل: چې آيا مونږ به دوه حسابه ورکوو؟ يو الله تعالی ﷻ ته په قيامت کې او بل تاسو ته په دنيا کې. په الله ﷻ قسم! چې ددې نه وروسته به زه ستاسې لپاره په هيڅ منصب کار ونه کړم.[۱]

### ۲،۲،۲،۲. حضرت عمر رضي الله عنه

د حضرت عمر رضي الله عنه هم همدا تعامل وو. د حضرت عمر رضي الله عنه دا طريقه وه چې ټول واليان او لوړ رتبه دولتي مسؤلين به يې د حج په موسم کې مکې مکرمې ته را غوښتل ترڅو هغوی ته اړينې لارښوونې وکړي او بل د دې لپاره چې دوی له رعيت څخه لرې وساتل شي ترڅو خليفه د دوی په باره کې د رعيت څخه آزادنه معلومات ترلاسه کړای شي او همدارنګه د رعيت څخه که کوم کس د دوي د ظلم او تيري په باره کې شکايت لري هغه په اسانه سره د امير المؤمنين تر غوږو ورسوي.[۲]

حضرت عمر رضي الله عنه د بحرين د والي حضرت ابوهريرة رضي الله عنه او د بصرې د والي حضرت ابو موسى اشعري رضي الله عنه سره په خپله احتساب او محاسبه وکړه.

### ۳،۲. د احتساب نظام

د احتسابي نظام مسؤل ته محتسب ويل کېږي دغه نظام د قضايي احکامو او د امت د ټولنيز او اقتصادي امن د احکامو ترمينځ د يوه منځګړي حيثيت لري او ديته امر بالمعروف او نهى عن المنكر ويل کېږي کله چې په ټولنه کې د نيکۍ ځای ورک او پر ځای يې د بدۍ جال خپور شي، نو دغه چاره پيلېږي.[۳]

احتساب د ديني امورو د قواعدو او بنسټونو له ډلې شمېرل کېږي، د اسلام د اولې پيړۍ حاکمانو به دغه کار په خپله کاوه، ځکه چې دا کار ډېرې ګټې او ثوابونه لري. کله چې نيکي ختمه شي او ځای يې بدې ونيسي نو بايد په دغه وخت کې امر بالمعروف او نهى عن المنكر ترسره شي، چې همدې ته احتساب وايي. او همدارنګه احتساب د خلکو ترمينځ روغه جوړه راوستلو ته هم وايي. الله ﷻ فرمايي: ﴿**لَا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِنْ نَجْوَاهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ**﴾[٤]

---

[۱] الخزاعي، علي بن محمد بن أحمد بن موسى ابن مسعود، أبو الحسن ابن ذي الوزارتين، (۱۴۱۹ ه). تخريج الدلالات السمعية على ما كان في عهد رسول الله من الحرف والصنائع والعمالات الشرعية، المحقق إحسان عباس،ج ۱،ص ۲۶۲، الفصل الثاني في محاسبة أبي بكر رضي الله تعالى عنه عمّاله، دار الغرب الإسلامي، بيروت، الطبعة الثانية ـ

[۲] الطبري، محمد بن جرير بن يزيد بن كثير بن غالب الآملي، أبو جعفر (۱۳۸۷ هـ). تاريخ الطبري، ج۴/ص ۱۶۵ ذكر عزل عمار عن الكوفة سنة ۲۲، دار التراث، بيروت، الطبعة الثانية .

[۳] الطرسوسی، نجم الدين ابراهيم بن على الحنفى،(-). تحفة الترک فيما يجب أن يعمل فى الملک، ج ۱، ص ۹۲،(-).

[٤] سورت النساء: ۱۱۴ ګڼه آيت

ژباړه: د خلکو په پټو مجلسونو کې زیاتره څه خیر نه وي، مګر د هغه چا په مشوره کې خیر شته چې په پټه توګه د صدقې او خیرات لارښوونه وکړي یا د کوم ښه کار لپاره د خلکو په چارو کې د اصلاح کولو لپاره چا ته څه ووایي.

**۴,۲. د احتساب مرتبې**

احتساب پنځه مرتبې لري چې په لاندې ډول دي:

۱- پېژندنه؛

۲- په نرمه لهجه نصحیت کول؛

۳- رټل (سرزنش) او سخت ګیري: د سرزنش څخه موخه ښکنځلې او فحش ویل نه، بلکې ځینې سخت الفاظ لکه جاهل، احمق او یا دا چې د الله تعالی ﷻ څخه وویرېږئ او یا د دې په څېر نور الفاظ مراد دي؛

۴- په زور د ګناه څخه منع کول: لکه د ساز او سرود د سامانونو ماتول، د شرابو تویول، د ورېښمو جامو اغوستونکي څخه د جامو په زور اخېستل، غصب شوې جامې د غاصب څخه په زور اخېستل او اصلي خاوند ته تسلیمول؛

۵- ویرونه او د وهلو تهدید ورکول، همدارنګه ځینې حالاتو کې وهل، تېکول ترڅو هغه نافرمانه او بد عمله انسان د خپل ناوړه عمل څخه لاس په سر شي لکه یو کس تل د خلکو غیبت کوي او یا په خلکو په درواغو د زنا تور لګوي د دې کس څخه د ژبې سلب کول ناممکن کار دی خو باید د ته د وهلو، ټکولو تهدید ورکړل شي یا ووهل شي ترڅو خپله ژبه په واک کې کړي او د نوموړو ناوړه کړنو څخه یې بنده کړي.[1]

د دغې پنځمې مرتبې څخه کله نا کله لانجې او شخړې راپورته کېږي، هر لوری خپل انډیوالان او ملګري را ټولوي او خبره تر جګړې پورې رسېږي او نورې مخکې ذکر شوې څلور مرتبې د دې ډول لانجو څخه لرې وې، نو له دې امله د دې څلورو مرتبو لپاره د امام څخه د اجازې اخېستلو اړتیا نه لیدل کېږي، مګر د پنځمې مرتبې لپاره چې شخړې ورڅخه را ولاړېږي باید د امام څخه اجازه واخېستل شي، ترڅو د داسې شخړو د پیدا کېدو مخنیوی وشي، امام او خلیفه باید په عامه بڼه خپل ټول حکامو او رعیت احتساب په خپله وکړي.

---

[1] الغزالي، أبو حامد محمد بن محمد الطوسي (-). إحياء علوم الدين، ج۲/ص ۳۰۶، كتاب العلم ربع العبادات-كتاب الأمر بالمعروف والنهي عن المنكر، دار المعرفة ، بيروت، (-).

### ۵,۲. د احتساب ګټې

احتساب ډېرې ګټې لري، کله چې امر بالمعروف او نهی عن المنکر ترسره کېږي لویه فایدې یې د الهی عذابونو څخه خلاصون او نجات دی، د الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ رضا او جنت په لاس راوړل دي، د دې ګټو څخه په لاندې ډول یادونه کوو:

۱ـ کله چې امر بالمعروف او نهی عن المنکر نه کېږي نو مسلمان باعث د الهی عذاب ګرځي، الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي: ﴿**فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا بِهِ أَنْجَيْنَا الَّذِينَ يَنْهَوْنَ عَنِ السُّوءِ وَأَخَذْنَا الَّذِينَ ظَلَمُوا بِعَذَابٍ بَئِيسٍ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ**﴾.[۱]

ژباړه: نو کله چې پرېښود دوی (لکه چې یې هېر کړی وي) هغه (نصحیت) چې پند ورکړی شوی ؤ دوی ته په هغه سره (او منع نه شول د ښکار څخه په خالي کې نو) نو نجات ورکړ مونږ هغو کسانو ته چې منع کول دوی (دا نور) له بدې (چې ښکار ؤ په خالي کې) او ومو نیول هغه کسان چې ظلم یې کړی ؤ (په کولو د ښکار او له کولو د نهې) په عذاب سخت سره په سبب د هغه چې ؤ دوی چې ګناهونه به یې کول.

۲ـ د الله جَلَّ جَلَالُهُ په رحمت کې داخلېدل او د الهي عذابونو څخه خلاصون یوازینی لاره ده. الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي: ﴿**وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَيُطِيعُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُولَئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ * وَعَدَ اللَّهُ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ وَرِضْوَانٌ مِنَ اللَّهِ أَكْبَرُ ذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ**﴾.[۲]

ژباړه: او سړي مؤمنان او ښځې مؤمنانې ځینې د دوی دوستان دي د ځینو نورو (او په ایمان کې ټول سره یو شان دي) حکم کوي دوی په نیکیو (چې د الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ او د رسول الله ﷺ اطاعت دی) او منع کوي له بدیو چې (د الله جَلَّ جَلَالُهُ او درسول الله ﷺ نه مخالفت دی) او دروي (له ټولو خلکو سره سم اداء کوي) لمونځ او ورکوي دوی زکات او حکم مني د الله جَلَّ جَلَالُهُ او (حکم مني) د رسول الله ﷺ دغه کسان، زر به رحم وکړي په دوی الله؛ بېشکه چې الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ ښه غالب او قوي دی (دحکمونو په جاري کولو کې) ښه د حکمت خاوند (چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوي). وعده ده الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ له نارینه ؤ مؤمنانو او له ښځو مؤمناتو سره د جنتونو چې بهیږي له لاندې (د ماڼیو او ونو) د هغو (څلور قسمه) ویالې تل به وي دوی په دغو (جنتونو) کې او (وعده

[۱] سورت الأعراف: ۱۶۵ګڼه آیت.

[۲] سورت التوبة: ۷۱، ۷۲ګڼه آیتونه.

کړې ده الله تعالی ﷻ ) د ځايونو پاکو ( چې ثابت دي ) په جنتونو د تل اوسېدلو کې او رضاء له ( لوري د ) الله تعالی ﷻ ډېره لويه ده ( له جنتونو او نعمتونو او نورو څخه ) دغه( رضاء د الله تعالی ) هم دغه بری دی ډېر لوی.

۳- د انسان د دنيا او آخرت د بريا لاره ده، ځکه امر بالمعروف او نهی عن المنکر سبب د امن ، سوکالۍ او د مختلفو لورو د صف د يوالي سبب کېږي . الله تعالی ﷻ فرمايي: **﴿وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾**.[1]

ژباړه: او وي دې (تل) له تاسې يوه ډله چې بولي (خلک) په لوري د خير ( اسلام ) او امر ( حکم ) کوي ( خلکو ته ) په معروف ( نيکۍ) سره او منع کوي (خلک) له منکر ( بدۍ) څخه او دغه (آمرين بالمعروف ناهين عن المنکر) هم دوی دي په مراد رسېدلي.

په دې آيت پسې وروسته الله تعالی ﷻ فرمايلي دي: **﴿وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَأُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾**. [2]

ژباړه: او مه کېږئ تاسې په شان د هغو کسانو چې سره جلا شول او اختلاف (جګړې) يې وکړې د دين په اصولو کې وروسته له هغه چې راغلي ؤ دوی ته دلائل ښکاره ( د اسلام د حقيقت ) او دا ( متفرقان مختلفان مقرر دي ) دوی ته عذاب ډېر لوی( د دوزخ).

الله تعالی ﷻ انسان جماعت او يوالي خوا ته امر کوي خو کله چې انسان امر بالمعروف او نهی عن المنکر پرېږدي باعث د تفرقې ګرځي ځينې نيک عمل کوي او ځينې بيا ګناه کوي خو کله چې د الله تعالی ﷻ کتاب او د نبي کريم ﷺ سنت حاکم وي هېڅکله به تفرقه د مسلمانانو په مينځ کې رامينځ ته نه شي.

نن ورځ لوی او کوچني هېوادونه هڅه کوي چې د خپل هېواد امنيت ټينګ کړي خو ډېر مسلمانان د دې آيت څخه غافل دي چې د پشپړ امن وعده يې په دغه دوو کلمو کې کړې: **﴿الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ أُولَئِكَ لَهُمُ الْأَمْنُ وَهُمْ مُهْتَدُونَ﴾**.[3]

---

۱سورت آل عمران: ۱۰۴ګڼه آيت،
۲سورت آل عمران: ۱۰۵ګڼه آيت.
[3]سورت الانعام: ۸۲ګڼه آيت،

ژباړه: هغه کسان چې ایمان يې راوړی دی (یقین لرونکي دي) او نه دی گډ کړی دوی ایمان(یقین) خپل له ظلم ( له لوی نقصان سره چې شرک دی) دغه کسان( چې خپل ایمان يې له شرکه ساتلی دی) هم دوی لره شه امن ( له عذابه) او هم دوی دي لار موندونکي.

۴ـ د شر او فساد څخه د ځمکې ساتنه ده، په دې اړه الله ﷻ فرمايي: ﴿**وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَفَسَدَتِ الْأَرْضُ**﴾.[1]

ژباړه: او که چیرې نه وی دفع (منع) کول د الله ﷻ خلکو لره ځینو د دوی لره په ځینو نورو سره ( نو) خامخا به خرابه شوې وه ځمکه( هېواد په ظلم سره).

په بل ځای کې الله تعالی ﷻ فرمايي: ﴿ **وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيرًا**﴾.[2]

ژباړه: او که چیرې نه وي دفع کول د الله تعالی ﷻ خلکو لره ځینې د دوی لره په ځینو نورو باندې خامخا نړولي شوي به وای تکیې او مدرسې او عبادتخانې او مسجدونه چې یاد شي په هغو کې نوم د الله ﷻ ډېر.

۵ـ په منکرینو دلیل ځکه د الله ﷻ د نبی کریم ﷺ د بعثت دحکمت په اړه فرمايي: ﴿**يَا أَهْلَ الْكِتَابِ قَدْ جَاءَكُمْ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ عَلَى فَتْرَةٍ مِنَ الرُّسُلِ أَنْ تَقُولُوا مَا جَاءَنَا مِنْ بَشِيرٍ وَلَا نَذِيرٍ فَقَدْ جَاءَكُمْ بَشِيرٌ وَنَذِيرٌ وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ**﴾.[3]

ژباړه: ای اهل کتابو! په تحقیق درغلی دی تاسې ته رسول زموږ ( محمد ﷺ) بیانوي تاسې ته (شرعي احکام) په (وخت د) انقطاع د رسولانو ( او معطل کېدو د وحې) کې چې بیا چیرې و نه وايي تاسې ( په قیامت کې ) چې نه ؤ راغلی موږ ته هیڅ زیری کوونکی( په نعیم سره) او نه ویروونکي ( په جحیم سره) نو په تحقیق راغي تاسي ته زیری کوونکی او ویروونکی او الله ﷻ په هر شي ( چې اراده وفرمايي) ښه قادر دی( چې له هغې ډلې د انبیانو علیهم السلام د سلسلی له قطع کېدو وروسته د محمد ﷺ لېږل دي).

او د ټولو رسولانو د لېږلو د حکمت په اړه فرمايي: ﴿**رُسُلًا مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللَّهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ**﴾.[4]

---

[1] سورت البقرة: ۲۵۱گڼه آیت

[2] سورت الحج: ۴۰گڼه آیت.

[3] سورت المائدة: ۱۹گڼه آیت

[4] سورت النساء: ۱۶۵گڼه ایت.

ژباړه: (او لیږلي مو دي) رسولان چې زیری کوونکي دي (مؤمنانو ته په جنت) او ویروونکي دي (د کفارو په جحیم) لپاره د دې چې پاته نه شي خلکو ته په الله تعالی ﷻ باندې هېڅ حجت (دلیل، عذر، بهانه) وروسته له (لیږلو) د رسولانو.

٦- د غافلینو لپاره تنبیه ده، ځکه د انسان په فطرت کې د خیر او شر استعداد شتون لري، د امر بالمعروف او نهی عن المنکر په واسطه انسان د غفلت څخه بیداریږي. [١] په دې اړه الله تعالی ﷻ فرمایي: ﴿**وَنَفْسٍ وَمَا سَوَّاهَا * فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا**﴾.[٢]

ژباړه: او (قسم دی) په نفس او په هغه (ذات باندې) چې برابر کړي يې دي (اندامونه د) هغه، پس ورغورځولي ښوولي يې ده په زړه د ده کې بدۍ د ده او نیکۍ د ده .

**٦،٢. د حسبې فضایل**

د حسبې یا امر بالمعروف او نهی عن المنکر فضایل په قران کریم کې خورا زیات بیان شوي دي، چې د ځینو څخه يې په لاندې ډول یادونه کوو:

١ ـ یوازې په الله تعالی ﷻ او د آخرت په ورځ باندې ایمان سره اصلاح نه راځي، تر دې چې امر بالمعروف او نهی عن المنکر ترسره نه شي. په دې اړه الله تعالی ﷻ فرمایي: ﴿**لَيْسُوا سَوَاءً مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ أُمَّةٌ قَائِمَةٌ يَتْلُونَ آيَاتِ اللَّهِ آنَاءَ اللَّيْلِ وَهُمْ يَسْجُدُون * يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَأُولَئِكَ مِنَ الصَّالِحِينَ**﴾.[٣]

ژباړه: نه دي دوی (ټول اهل د کتاب سره) برابر ځیني د اهل د کتابونو، یوه فرقه ده چې سمه ولاړه ده (په حق باندې) چې لولي دوی آیتونه د الله ﷻ په ساعتونو د شپې حال دا چې دوی سجدې کوي، ایمان راوړي په الله ﷻ باندې او په ورځ د آخرت، (د قیامت) باندې او امر (حکم) کوي (خلکو ته) په معروف(نیکۍ) سره او منع کوي (خلک) له منکر (بدۍ) څخه او تلوار کوي په ښو کارونو کې (تاخیر نه کوي) او دغه کسان له صالحانو څخه دي.

[١] الحسبة - جامعة المدينة (ص: ١٨)

[٢] سورت الشمس: ۷، ۸گڼه آیتونه.

[٣] سورت آل عمران: ۱۱۳، ۱۱۴گڼه آیتونه،

امر بالمعروف او نهی عن المنکر د رحمت له سببونوڅخه دی. په دې اړه الله ﷻ په قران کريم کې داسې ارشاد راوړی دی: ﴿**وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَيُطِيعُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُولَئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللَّهُ**﴾.[۱]

ژباړه: او سړي مؤمنان او ښځې مؤمناني ځينې د دوی دوستان دي د ځينو نورو(او په ايمان کې ټول سره يو شان دي) حکم کوي دوی په نيکيو (چې د الله ﷻ او د رسول الله ﷺ اطاعت دی) او منع کوي له بديو چې(د الله تعالی ﷻ او د رسول الله ﷺ نه مخالفت دی) او درووي (له ټولو خلکو سره سم اداء کوي) لمونځ او ورکوي دوی زکات او حکم مني د الله تعالی ﷻ او (حکم مني) د رسول الله دغه کسان زر به رحم وکړي په دوی الله ﷻ.

الله ﷻ د دې خبره يادونه کوي، چې زر ده په سبب د هغه څه چې په هغه باندې ايمان استوار دی لمونځ، زکات ورکول، امر بالمعروف او نهی عن المنکر، پر دوی رحم وکړم، دا امر بالمعروف او نهی عن المنکر د الله ﷻ د رحمت له موجباتو څخه دي او د امر بالمعروف او نهی عن المنکر پرېښودل د لعنت، الله ﷻ د نا خوښۍ، قهر او عذاب له موجباتو څخه دی. په دې اړه الله ﷻ فرمايي:﴿ **لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى لِسَانِ دَاوُدَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذَلِكَ بِمَا عَصَوْا وَكَانُوا يَعْتَدُونَ * كَانُوا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُنْكَرٍ فَعَلُوهُ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ**﴾[۲]

ژباړه: لعن کړی شوی دی په هغو کسانو چې کافران شوي دي له بني اسرائيلو څخه په ژبه د داود سره او (په ژبه د عيسی زوی د مريمې)، دا (لعنت پر دوی) په سبب د دې ؤ چې نافرماني يې کوله (له احکامو د الله ﷻ) او وو دوی چې تېرېدل به (له حدودو د الله ﷻ) او وو دوی چې يو بل به يې سره نه منع کول له هغه بد عمل چې کاوه، به دوی هغه (قسم دی) خامخا بد ؤ هغه کار چې وو دوی چې کاوه به يې.

۳ - د حضرت محمد ﷺ امت غوره او بهتره امت دی او د غوره والي او بهتروالي دليل يې دا دی، چې ياد امت د امر بالمعروف او نهی عن المنکر دنده مخ ته بيايي. چې دا خپله د امر بالمعروف اونهی عن المنکر په فضليت دلالت کوي. چې دا دنده د حضرت محمد ﷺ امت ترسره کړې ده. الله تعالی ﷻ په دې اړه داسې فرمايي:﴿**كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ**﴾.[۳]

---

[۱]سورت التوبة: ۷۱کنه آيت،

[۲]سورت المائدة: ۷۸، ۷۹ګنه آيتونه.

[۳]سورت آل عمران: ۱۱۰ګنه آيت

ژباړه: یې تاسې (ای محمدی امته!) خیر (بهتر د هر هغه) امت چې ایستلی شوی دی د پاره د خلکو چې حکم کوئ تاسې (هر چاته) په معروف (نیکۍ) سره او منع کوئ تاسې (هر څوک) له منکر (بدۍ) څخه او ایمان لري په الله تعالی ﷻ باندې (په دوام او ثبات سره).

۴ - امر بالمعروف او نهی عن المنکر د هغه عذاب څخه د خلاصون یو سبب دی، چې د عذاب مستحق کېدل یې حتمي وي. په دې اړه الله تعالی ﷻ فرمایلي: **﴿فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا بِهِ أَنْجَيْنَا الَّذِينَ يَنْهَوْنَ عَنِ السُّوءِ وَأَخَذْنَا الَّذِينَ ظَلَمُوا بِعَذَابٍ بَئِيسٍ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ﴾**.[1]

ژباړه: نو کله چې پرېښود دوی (لکه چې هېر کړی وي) هغه (نصحیت) چې پند ورکړی شوی ؤ دوی ته په هغه سره (او منع نه شول د ښکار څخه په خالي کې نو) نو نجات ورکړ مونږ هغو کسانو ته چې منع کول دوی (دا نور) له بدۍ (چې ښکار ؤ په خالي کې) او و مو نیول هغه کسان چې ظلم یې کړی ؤ (په کولو د ښکار او له کولو د نهې) په عذاب سخت سره په سبب د هغه چې ؤ دوی کوم چې گناهونه به یې کول.

**۵**- په ځمکه کې اوسیدل امر بالمعروف او نهی عن المنکر ته اړتیا لري. په دې اړه الله تعالی ﷻ فرمایلي دي: **﴿الَّذِينَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ﴾**.[2]

ژباړه: (دغه مهاجر مظلومان) هغه کسان دي چې که چیرې قدرت ورکړو مونږ دوی ته په ځمکه کې (په دښمن باندې د غلبې په اعتبار) نو قایموي دوی (سم اداء کوي به سره له ټولو حقوقو) لمونځ او ورکوي به زکات او امر حکم به کوي (خلکو ته) په معروف (نیک شرعی کار) سره او منع کوي به (خلک) له بد کار څخه.

**٦** - د مخکنیو امتونو د هلاکت یو سبب د امر بالمعروف او نهی عن المنکر پرېښودل دي. په دې اړه الله تعالی ﷻ فرمایي: **﴿فَلَوْلَا كَانَ مِنَ الْقُرُونِ مِنْ قَبْلِكُمْ أُولُو بَقِيَّةٍ يَنْهَوْنَ عَنِ الْفَسَادِ فِي الْأَرْضِ إِلَّا قَلِيلًا مِمَّنْ أَنْجَيْنَا مِنْهُمْ وَاتَّبَعَ الَّذِينَ ظَلَمُوا مَا أُتْرِفُوا فِيهِ وَكَانُوا مُجْرِمِينَ﴾**[3]

ژباړه: نو ولې نه ؤ (یعنی نه ؤ) له اهله د هغو زمانو چې وو پخوا له تاسې څخه خاندان د فکر او عقل چې منع کول یې (خلک) له (کولو) د فساد په ځمکه کې (چې عذاب پرې نه ؤ راغلی)، مگر چې منع وکړه لږ له هغو خلکو څخه چې خلاص کړل مونږ (دوی) له عذابه د هغې پخوانیو څخه (ځکه

[1]سورت الأعراف: ۱٦۵گڼه آیت

[2]سورت الحج: ۴۱گڼه آیت.

[3]سورت هود: ۱۱٦گڼه آیت

چې نهی عن المنکر به يې کول) او متابعت وکړ هغو کسانو چې ظلم يې کړی ؤ (په فساد يا ترک د نهې سره) د هغې لارې چې آسوده کړی شوی ؤ د دوی په هغې کې او ؤ دوی ګنهکاران کافران. په دې اړه الله تعالی ﷻ دا بيان کړی، چې ټول اهل د ځمکې، مګر لږ شمېر يې په ځمکه کې د فساد څخه منع کوله.

الله تعالی ﷻ د دغو چارو د ترسراوي لپاره د لوی اجر وعده کړې چې يو امر بالمعروف دی بل نهی عن منکر. په دې اړه الله ﷻ فرمايلي دي: ﴿**لَا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِنْ نَجْوَاهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ ابْتِغَاءَ مَرْضَاةِ اللَّهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا**﴾. [1]

ژباړه: نشته خير په ډېرو کې له پټو خبرو (مشورو) د دوی، مګر (خير شته په پټو خبرو) د هغه چا چې امر کوي په صدقه کولو يا په معروف (نيک کار) يا په اصلاح (روغه) په مينځ د خلکو کې او هر څوک چې وکړي دغه (صدقه، معروف، اصلاح) لپاره د غوښتنې د رضا (خوښې) د الله ﷻ پس زر به ورکړو مونږ ده ته اجر (ثواب) ډېر لوی.

په دنيا او اخرت کې د کاميابي تر لاسه کوونکی امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوونکي دي. په دې اړه الله ﷻ فرمايي: ﴿**وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ**﴾. [2]

ژباړه: او وي دي (تل) له تاسې يوه ډله چې بولي (خلک) په لوري د خير (اسلام) او امر (حکم) کوي (خلکو ته) په معروف (نيکۍ) سره او منع کوي (خلک) له منکر (بدۍ) څخه او دغه (آمرين بالمعروف ناهين عن المنکر) هم دوی دي په مراد رسېدلي.

دا د امر بالمعروف او نهی عن المنکر هغه فضايل وو چې په قران کريم کې ذکر شوي دي. همدارنګه نبي کريم ﷺ هم د امر بالمعروف او نهی عن المنکر زيات فضايل په خپلو مبارکو احاديثو کې بيان کړي چې د موضوع د اوږدوالي په موخه مونږ ورڅخه صرف نظر کوو. **۲،۷. د محتسب شرطونه**

محتسب دوه ډوله شرطونه لري چې يو لازمي او بل يې اختلافي شرطونه دي.

**۲،۷،۱. اول د محتسسب لازمي شرطونه**

**۲،۷،۱،۱. اسلام**

اسلام د محتسب يو له لازمي شرطونو بلل کېږي، په دې اړه الله تعالی ﷻ داسې ارشاد فرمايلی دی: ﴿**وَلَنْ يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا**﴾. [3]

[1] سورت النساء: ۱۱۴ګڼه آيت.

[2] سورت آل عمران: ۱۰۴ګڼه آيت،

[3] **النساء: ۱۴۱ګڼه آيت.**

ژباړه: او له سره به ونه ګرځوي الله ﷻ لپاره د کافرانو پر مؤمنانو باندې هېڅ لاره ( دحجت او د بري).

**۲،۱،۷،۲. مکلف والی ( عقل او بلوغ )**

مکلف والی یعنې عاقل والی او بالغ والی هم د محتسب یو له لازمي شرطونو څخه دی، چې باید عاقل او بالغ وي: « **رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلاَثٍ عَنِ النَّائِمِ حَتَّى يَسْتَيْقِظَ وَعَنِ الصَّغِيرِ حَتَّى يَكْبُرَ وَعَنِ الْمَجْنُونِ حَتَّى يَعْقِلَ أَوْ يَفِيقَ** »[1]

ژباړه: د دریو کسانو څخه قلم پورته شوی (اعمال یې نه لیکل کیږي) ویده تر څو چې بیدار نه شي، ماشوم تر څو چې لوی نه شي، لیوني چې تر څو چې عقل یې پرځای نه شي.

**۳،۱،۷،۲. توانایي درلودل**

توانایي درلودل هم د محتسب یو له لازمي شرطونو بلل شوې ده، په دې اړه الله تعالی ﷻ داسې ارشاد فرمایلی دی: ﴿**لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا**﴾.[2]

ژباړه: نه کوي تکلیف الله ﷻ پر هېڅ نفس، مګر ( په اندازې ) د طاقت او توان د ده.

**۲،۷،۲. دویم د محتسب اختلافي شرطونه**

د محتسب لپاره دوه اختلافي شرطونه شتون لري. چې په لاندې ډول دي:

**۱،۲،۷،۲. عدالت**

امام النحاس رحمة الله علیه وايي چې عدالت د محتسب لپاره شرط دی، ځکه چې فاسق لپاره دا نه شته ترڅو امر بالمعروف وکړي، مګر امام النووي او امام قرطبي رحمهما الله فرمايي چې د محتسب لپاره عدالت شرط نه دی.

**۲،۲،۷،۲. د وخت له امام څخه اجازه**

امام غزالي رحمه الله علیه د وخت له امام څخه اجازه اخېستل شرط بولي، امام رافعي او النووي رحمة الله علیهم یې شرط نه بولي ځکه چې دا کړنه یوازې تر والیانو پورې ځانګړې نه ده بلکې په ټولو مسلمانانو واجب ده.

---

[1] سنن النسائي، ج۳/ص ۳۲۵ حدیث شمیره۳۴۳۲

[2] (البقرة: ۲۸۶)

**۲,۸. د محتسب آداب**

محتسب هغه کس دی چې د وخت امام او يا د ده نائب په دې غرض مقرر کړی وی چې د رعيت داحوالو څارنه او دهغوي د حالاتو او مصالحو څخه ځان خبر کړي.[۱]

**۲,۸,۱. په شرعي احکامو علم او پوهه**

کله چې احتساب امر بالمعروف او نهى عن المنكر او د خلکو ترمينځ روغې جوړې کولو ته ويل کېږي. نو محتسب بايد يو فقيه او په دين پوه انسان وي، چې د شريعت د احکامو څخه باخبره وي ترڅو د معروف او منكر ترمينځ توپير وکړای شي، مأمورات او منهيات وپېژني، ځکه نيکي هماغه ده چې شريعت ورته نيکي وايي او بدي هماغه ده چې شريعت ورته بدي ووايي او د ښو او بدو ترمينځ د توپير لپاره بايد عقلي قياسات ونه کارول شي د ښو او بدو د پېژندولو معيار بايد د الله ﷻ کتاب او د حضرت محمد ﷺ سنت وګرځول شي، کېدای شي چې يو جاهل سړی د خپل عقل په بنا يو کار ښه وګڼي او هغه د شريعت په اعتبار بد وي نو دې به په ناپوهۍ سره د يو ناروا عمل مرتکب شي نو له دې امله شريعت په هر مسلمان باندې د شرعي علم طلب فرض کړی دی د هر څه وړاندې بايد محتسب د خپل علم مطابق عملي ژوند ترسره کړي او د ده کړنه د نوموړي له وينا سره توپير ونه لري.

**۲,۸,۲. د علم او عمل توافق**

دا چې د محتسب کړنه بايد د ده د وينا او علم سره موافق وي داسې نه چې کړنه يې د وينا سره په ټکر کې وي.

**۲,۸,۳. په خبرو او کړنو کې د الله ﷻ رضاء او پاک نيت ولري**

محتسب بايد دا ټول کارونه يوازې د الله ﷻ د رضاء لپاره وکړي ترڅو الله ﷻ راضي شي او په پاک او خالص نيت سره خپله دنده ترسره کړي په زړه کې بايد ريا او ځان ښودنه را نه شي، د خپلې دندې د ترسره کولو په وخت کې بايد د خلکو سره په دنيوي چارو کې مسابقه او سيالي ونه کړي او په نورو خلکو ځان لوړ و نه ګڼي. ترڅو الله ﷻ پر نوموړي د قبول څادر را وغوړوي او د علم التوفيق مهرباني پرې وکړي او د خلکو په زړونو کې د ده رعب، لويي او وېره ا و د ده دخبرې منل واچوي.

[۱] معالم القربة فى طلب الحسبة ج ۱، ص ۳.

په دې اړه رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «**مَنْ أَرْضَى اللَّهَ بِسَخَطِ النَّاسِ كَفَاهُ النَّاسَ، وَمَنْ أَسْخَطَ اللَّهَ بِرِضَا النَّاسِ وَكَلَهُ اللَّهُ إِلَى النَّاسِ**»[21]

ژباړه: چا چې د خلكو د ناراضۍ په بدل كې الله ﷻ راضي كړ الله ﷻ به يې د خلكو د قهر او ناراضي په مقابل كې دفاع وكړي او چا چې د خلكو د خوشحالولو لپاره الله ﷻ نا راضه كړ نو الله ﷻ به يې د خپل رحمت له نظره وغورځوي او خلكو ته به يې حواله كړي.

**۴,۸,۲. د رسول الله ﷺ د سنتو برابر وي**

**۵,۸,۲. نرمي او خوش طبيعتي**

محتسب بايد د نرم مزاج، ښې وينا، ښې رويې او ښو اخلاقو خاوند وي كله چې خلكو ته د كومې نيكۍ امر يا يې د كومې بدۍ څخه منع كوي نو بايد د پورته ياد شوو صفاتو څخه كار واخلي، ځكه په نوموړو صفاتو محتسب كولاى شي چې د خلكو زړونه ځان لوري ته مايل او خپله موخه ترلاسه كړي. الله ﷻ خپل پيغمبر ته په دې اړه داسې فرمايلي:﴿ **فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللَّهِ لِنْتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ** ﴾.[3]

ژباړه: نو يوازې په سبب د رحم د الله ﷻ چې پرتا شوى دى اې محمده! نرمي كوه ته د دوي سره او كه واى ته اى محمده! بدخوى، سخت زړه والا، نو هرو مرو خامخا به تار په تار شوى وو اصحاب.

كله چې د يو كار څخه د منع كولو په وخت كې د خلكو سره د سختۍ څخه كار واخېستل شي، نو كېداى شي چې هغه د ضد څخه نوموړې ګناه ته دوام وركړي او د نصحيت په وخت كې سخته لهجه او ژبه استعمالول د خلكو په ذهن بده اغېزه كوي او په غوږ يې بده لګېږي.

يو كس د مامون الرشيد مجلس ته حاضر شو خليفه ته يې نصحيت وكړ د ښو خبرو امر او د بدو څخه يې منع كړ په ډېره سخته لهجه يې ورسره خبرې وكړې، نو مامون الرشيد ورته په ځواب كې وويل: اى سړيه! الله تعالى ﷻ خپل خوږ پيغمبر ﷺ ته چې له تا ډېر غوره دى د هغو بدو خلكو

[1] القضاعي، أبو عبد الله محمد بن سلامة بن جعفر بن علي بن حكمون المصري (۱۴۰۷-۱۹۸۶). مسند الشهاب، المحقق: حمدي بن عبد المجيد السلفي، ج۱/ص ۳۰۱ حديث نمبر۵۰۱، مؤسسة الرسالة – بيروت، الطبعة الثانية.

[2] الشيزرى ، عبدالله بن نصر بن عبدالرحمن، (۱۹۶۵م). نهاية الرتبة فى طلب الحسبة، ج۱، ص۴، فصل يجب على المحتسب. (-)، القاهرة، (-).

[3] سورت آل عمران: ۱۵۹ګڼه آيت.

سره چې له ما ډېر بدتره دي د ښې روېې او نرمې لهجې توصيه کوي. الله تعالی ﷻ موسی او هارون عليهم السلام ته فرمايلي دي: ﴿ **فَقُولَا لَهُ قَوْلًا لَيِّنًا لَعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَى** ﴾.[1]

ژباړه: پس ووايئ ده ته خبره پسته او نرمه ښايي چې دوي پند واخلي يا ووېرېږي له الله ﷻ نه.

بيا يې د هغه سړي څخه مخ واړوه او هېڅ توجه يې ورته ونه کړه ځکه انسان چې کوم مقصد او هدف په نرمۍ سره لاس ته راوړي هغه ډېرى په سختۍ سره نه شي ترلاسه کولای. لکه پيغمبر ﷺ چې فرمايلي دي: « **إِنَّ اللهَ رَفِيقٌ يُحِبُّ الرِّفْقَ، وَيُعْطِي عَلَى الرِّفْقِ مَا لَا يُعْطِي عَلَى الْعُنْفِ** ».[2]

ژباړه: الله تعالی نرمي کوونکی دی او نرم مزاجي خوښوي او په نرمي چې کوم انعامات ورکوي هغه په سختۍ نه ورکوي.

### ۶,۸,۲. عدم توقع او طمع

د محتسب لپاره لازمي شرط دا هم دی، چې دی بايد د خلکو د مال طمع، توقع او د رشوت اخېستنې څخه ځان وساتي. د سوداګرو او کسبه خلکو د تحفو قبلولو څخه پرهېز وکړي، ځکه دا په رشوت کې شمېرل کېږي. رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «**لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّاشِيَ وَالمُرْتَشِيَ**».[3]

ژباړه: لعنت دې وي په رشوت ورکوونکي او رشوت اخېستونکی دواړو باندې.

کله چې محتسب د تحفو اخېستلوڅخه ځان وساتي، نو د خلکو په سترګو کې به دروند معلومېږي او هيبت او وقار به يې پر ځای وي.[4] **۹,۲. د محتسب دندې**

محتسب بايد يو شمېر دندې پر مخ يوسي، چې په لاندې ډول دي:

### ۱,۹,۲. د ديني چارو مراقبت او څارنه

د محتسب دنده دا وي چې هغه به امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوي او دغه دنده د واليانو اهل ديوان او قاضيانو په دندو کې شامله نه ده.

---

[1] سورت طه: ۴۴ګڼه آيت.

[2] مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري (-). المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم, المحقق: محمد فؤاد عبد الباقي، ج۴/ص ۲۰۰۳ حديث ګڼه۷۷، كتاب البر باب فضل الرفق، دار إحياء التراث العربي، بيروت، (-).

[3] الترمذي، محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، أبو عيسى (۱۳۹۵ هـ - ۱۹۷۵ م). سنن الترمذي, تحقيق وتعليق:أحمد محمد شاكر/ محمد فؤاد عبد الباقي/ إبراهيم عطوة عوض المدرس في الأزهر الشريف، ج۳/ص ۶۱۵حديث نمبر۱۳۳۷ ، شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي – مصر، الطبعة الثانية.

[4] نهاية الرتبة فی طلب الحسبة، صص ۲۱۳-۲۱۶

ډېری ديني دندې د دولتي مسئولينو ترمينځ ګډې وي، په هغوي کې چې هر مسئول کوم ديني کار ترسره کړي نو په امت کې د نوموړي په باره کې اطاعت او خبره منل واجب دي. محتسب بايد خلک د پنځو لمونځونو په خپل خپل وخت کې د اداء کولو لپاره ترغيب کړي او که څوک لمونځ نه کوي بايد هغه د درو وهلو يا بندي کولو سزا ورکړي. مګر د لمانځه څخه د انکار په صورت کې د وژلو حکم محتسب نه شي ورکولای هغه بايد قاضي ورکړي، محتسب بايد د امامانو او مؤذنينو څارنه وکړي، ترڅو هغوی هر يو خپله دنده په سمه توګه ترسره کړي او که د کوم يو څخه په خپله دنده کې کوتاهي ځرګندېږي هغه بايد تنبيه کړي او د الهی احکامو د تنفيذ لپاره دې د نظامي او ملکي ټولو چارواکو څخه مرسته وغوښتلی شي او د محتسب مرسته کول په هغوي لازمي دي.[١]

**۲,۹,۲. د عامه چارو مراقبت او څارنه**

محتسب بايد د بازار څارنه هم وکړي او د دوکاندارنو د حالت څخه هم بايد ځان خبر کړي که څوک سودي کار او بار کوي يا په راکړه ورکړه او صرافی کې غير مشروع طريقې استعمالوي هغوي ته بايد سزا ورکړي او د بازار څخه يې وباسي.[٢]

نبي کريم ﷺ په مدينه منوره کې بازار څارونکي مقرر کړي وو ترڅو د بازار نرخونه کنترول او د بازار حفاظت وکړي او د ګډوډيو مخه ونيسي، د مکي مکرمې د فتحې څخه وروسته نبي کريم ﷺ حضرت سعيد بن العاص رضي الله عنه د مکې د ښار څارونکی ټاکلی و او يو وخت يې د مدينې منورې د څارنې چاره حضرت عمر رضي الله عنه ته سپارلې وه.[٣]

محتسب بايد د خرڅلاو په وخت کې تل په بازار کې و اوسي او د خرڅوونکو او دکاندارانو او لارو څارنه وکړي د تلو او وزن د کمي او زياتي پوښتنه وکړي، د خوارکي شيانو، نورو رنګا رنګ خرڅېدونکو شيانو د نوعيت معلومات وکړي تر څو خرڅوونکي په کې ټګي او ونه کړي. دغه څارنه بايد شپه او ورځ په مختلفو وختونو کې ترسره کړي او ناڅاپه بايد په دوکانونو چاپې واچوي، د شپې بايد هغه دوکانونه مُهر لاک کړي چې دی يې د ورځې چاڼ او چک کولو ته وزګار نه شي تر څو سبا وختي يې پلټنه وکړي.[٤]

---

[١] ابن تيمية، تقی الدين احمد،(١٤٠٣ه-١٩٨٧م). الحسبة فی الاسلام، ص١٥، باب اختصاصات الولا يات، الرئاسة العامة الادارات البحوث العلمية، (-)، الطبعة الاولی.

[٢] معالم القربة فی طلب الحسبة ج١، ص ١٨٢ الباب الثالث والثلاثون.

[٣] الحلبي، علي بن إبراهيم بن أحمد ، أبو الفرج، نور الدين ابن برهان الدين (١٤٢٧ه). السيرة الحلبية، ج٣/ص٤٥٩، باب يذكر فيه من ولي السوق في زمنه صلى الله عليه وسلم، دار الكتب العلمية ، بيروت، الطبعة الثانية.

[٤] معالم القربة فی طلب الحسبة ج١، ص ٢٨٨ الباب الثالث والخمسون.

او محتسب همدارنګه باید د ځینو نورو اهمو کارونو لکه د قیمتونو د لوړېدو، مالونو د ذخیره کولو، شراب خوري او پلور، جواري، په وزن کې کمي، فحشاء او داسې نور کارونو څارنه او مخنیوی هم وکړي.

**پایله**

ددې څېړنې په پای کې دې پایلې ته رسېږو چې د تاریخ په اوږدو کې د حکومت د ټولو برخو له وګړو سره په مختلفو لارو چارو محاسبه کول ترسره شوي دي، د یو حکومت د ښه خدمتونو د وړاندې کولو لپاره چې ترڅو فساد په کې رامینځ ته نه شي او چارې په ښه ډول ترسره کړي، اغېزمنه لاره محاسبه کول دي. دا دنده د اسلام د مبارک دین له پیل سره سم په اسلامي نظام کې شتون درلود، نبي کریم ﷺ په لومړیو کې دا دنده په خپله مخ ته وړله، وروسته یې بیا د مدینې د بازار د کنترول په موخه عمر فاروق رضی الله عنه په دې دنده وګمارلو. خو په واضح ډول دحسبې نظام د یوحکومتي نظام په څېر دلومړۍ ځل لپاره د عباسیانو په وخت کې په ( ۱۳۶ هـ ) کال کې پیل شوی دی. په ښکاره ډول ویلای شو چې د وګړو سره محاسبه د حکومتولۍ د ښه والي یوازینۍ او اغېزمنه لاره ده.

**مصادر او مراجع**


القران الکریم.

١. ابن الاخوة، محمد بن محمد أحمد القرشي،(-). **معالم القربة في أحكام الحسبة**، (-).

٢. ابن تيمية، تقى الدين احمد،( ١۴٠٣ه-١٩٨٧م). **الحسبة فى الاسلام**، الرئاسة العامة الادارات البحوث العلمية، (-)، الطبعة الاولى.

٣. ادهم، فوزى كمال،(١۴٢١ه-٢٠٠١م). **الادارة الاسلامية**، دار النفائس للطباعة والنشروالتوزيع، بيروت، لبنان، طبعة الاولى.

۴. البخاري ، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله الجعفي، (۱۴۲۲ه). **الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه = صحيح البخاري**، المحقق: محمد زهير بن ناصر الناصر، دار طوق النجاة ، (-)، الطبعة الأولى.

۵. الترمذي، محمد بن عيسى بن سَوْرة، أبو عيسى (۱۳۹۵ هـ - ۱۹۷۵ م). **سنن الترمذي**، مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي – مصر، الطبعة الثانية.

٦. الحلبي، علي بن إبراهيم بن أحمد ، أبو الفرج، نور الدين ابن برهان الدين (۱۴۲۷ه). **السيرة الحلبية**، دار الكتب العلمية ، بيروت، الطبعة الثانية.

٧. الخزاعي، علي بن محمد بن أحمد بن موسى ابن مسعود، أبو الحسن ابن ذي الوزارتين، (١٤١٩ ه). **تخريج الدلالات السمعية على ما كان في عهد رسول الله من الحرف والصنائع والعمالات الشرعية**، دار الغرب الإسلامي، بيروت، الطبعة الثانية.

٨. الشيزرى ، عبدالله بن نصر بن عبدالرحمن، (١٩٦٥م). **نهاية الرتبة فى طلب الحسبة**، (-)، القاهرة، (-).

٩. الطبري، محمد بن جرير بن يزيد أبو جعفر (١٣٨٧ هـ). **تاريخ الطبري**، دار التراث، بيروت، الطبعة الثانية .

١٠.الطرسوسى، نجم الدين ابراهيم بن على الحنفى،(-). **تحفة الترک فيما يجب أن يعمل فى الملک**،(-).

١١.الغزالي، أبو حامد محمد بن محمد الطوسي (-). **إحياء علوم الدين**، دار المعرفة ، بيروت، (-).

١٢.القضاعي، أبو عبد الله محمد بن سلامة بن جعفر بن علي بن حكمون المصري (١٤٠٧ - ١٩٨٦). **مسند الشهاب**، مؤسسة الرسالة – بيروت، الطبعة الثانية.

١٣.الكيرانوي، وحيدالزمان قاسمى( ١٤٢٢ه-٢٠٠١م). **القاموس الوحيد**، ادارة اسلاميات، لاهور- كراچي، پاکستان، (-).

١٤.مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري (-). **المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم**، دار إحياء التراث العربي، بيروت، (-).

١٥.مصطفى، ابراهيم (-). **معجم الوسيط**، دار احياء التراث العربى ، بيروت، لبنان،(-).

# په لنډيو کې د تاريخي پېښو انځور

**نقيب الله يوسفزوی**[۱(*)]

۱- د غزني پوهنتون، د ژبو او ادبياتو پوهنځي، د پښتو څانګې استاد

* naqibullahhaqani@yahoo.com

**لنډيز**

دا څېړنه په لنډيو کې د تاريخي پېښو انځور تر سر لاندي ليکل شوې ده. لنډۍ د پښتو ولسي ادبياتو ارزښتناکه برخه ده، چې ځانګړی فورم لري ، د منځپانګې له مخې بېلا بېل موضوعات پکې بيان شوي دي، دلته يې په تاريخي اړخ باندي بحث شوی دی. يعني هغه لنډۍ چې له کومې تاريخي پېښې سره د ارتباط په تر خ کې ويل شوی، ياد د کوم تاريخ ساز کس د ژوند سياسي لورې ته پکې اشاره شوې ده، خيني د تاريخي پېښو پر مهال د پښتنو له خوا ويل شوې دي، خيني يې وروسته ويل شوي دي. د کومو پېښو پر مهال چې ويل شوي دي، د هماغو پېښو ښه عکاسي پکې شوې دي، يوې لنډۍ هغه تاريخي پېښه د يو مستند تاريخ په څېر ساتلې ده. په دې ليکنه کې د بېلابېلو پېښو پر مهال يا له پېښې سره په اړيکه کې ويل شوې لنډۍ د اړوندې پېښې له لنډې شرحې سره وړاندې شوې دي.

**کليدي ټکي:** تاريخي لنډۍ ، د تاريخي لنډيو ارزښت ، د تاريخي او حماسي لنډيو توپير

**سريزه**

د اولسي ادبياتو لوی ارزښت دا دی چې ټولنه کې په کې وينو، د ټولنې د بېلابېلو ارزښتونو رنګين امېل يې پر لمنه پروت دی؛ نو ځکه اړينه ده، چې خوندي توب ته يې متې را بډ وهو. خوندي کول يې زيار او کړاو غواړي، سيمو ته تګ غواړي، د مشرانو په سينو کې پروت پراته اولسي ادبيات له هغوی سره خبرې غواړي.

ما هم د ليکنې په دې لنډه لمنه کې د اولسي ادبياتو په برخه (په لنډيو کې د تاريخي پېښو انځور) موضوع څېړلې ده، په اولسي ادبياتو کې لنډۍ هغه هنري فورم دی، چې وګړو پکې د خپل ژوند ټول ارمانونو، هيلې او ناهيلی، دردونه او ناخوالې ، بېلتون او وصال او ... انځور کړي دي، که په لنډه توګه وواېو هره لنډۍ د خپل مهال او چاپېريال د وګړو د کړو وړو د زړه ترجمانه ده. زموږ د اتلانو کارنامې يې ستايلې دي، په سنګر کې يې د هغوی جنګي مورال پياوړی کړی دی، د غدارانو غدر يې غندلی

او راڼه تاريخي حقايق يې ساتلي دي. که لري ولاړ نه شو، په لنديو کې د تاريخي پېښو انځور باندي به د ليکنې په غېږ کې لنډۍ خبرې ولرو ، له هرې لنډۍ سره د اړوندې پېښې لنډ معلومات وړاندي شوي دي، کومه پېښه چې لنډۍ ورسره غاړه غړې ده.

د څېړنې موخې:

څېړنه مې د تاريخي لنډيو د پېژندلو په موخه ترسره کړې ده،

لنډۍ د ټولنيز ژوند هر ډول انځورونه په خپله غېږ کې لري، ماته دا موضوع بکره معلومه شوه، ومې غوښتل د لنډيو له منځه داسي لنډۍ را ببلې کړم چې د کومي تاريخي پېښې انځور له ځان سره لري، او د يادې موضوع د سپړلو له لارې د خوږې حقدارې ژبې پښتو چوپړ وکړم .

د څېړنې پوښتنې:

۱. تاريخي لنډۍ څه وخت ويل شوې دي؟

۲. کومو لنډيو ته تاريخي ويلی شو؟

۳. له حماسي لنډيو سره يې توپير په څه کې دی؟

## د څېړنې کړنلاره

دغه څېړنه چې کتابتوني بڼه لري د يادې موضوع د ښه تحليل او تفسير لپاره هڅه شوې چې مستند او معتبر معلومات را غونډ شي. د معلوماتو د موندلو په موخه له بېلابېلو کتابونو، علمي مقالو او انټرنيټي ويب سايټونو څخه استفاده شوې ده. د معلوماتو د اوډلو، تحليل او تفسير په موخه په شته معلوماتو نهايت غور او دقت شوی.

## د څېړنې ارزښت

زما د څېړنې ارزښت په دې کې دی، چې په لنډيو کې تاريخي پېښو انځور باندي هر اړخيز بحث شوی، موضوع بکره ده، تر دې وړاندي د مقالې په چوکاټ کې دغسي څېړنه نه وه ترسره شوې،کومي څېړنې چې شوې دي، د خاصي سيمې سره اړوندې لنډۍ چې تاريخي رنګ لري پکې ځاي پر ځاى شوې دي.

## په لنډيو کې د تاريخي پېښو انځور

تاريخ د ماضي رڼه هينداره، د يو ملت د سياسي لوړ او ځوړ رښتيني داستان دی، د ايثار، قربانيو او سربښندنو، سوبو او لويډلو صفا انځور دی. د انساني فطرت غوښتنه دا ده، چې د اسلافو په اړه معلومات ولري. ځکه نو په ولسي ادبياتو کې هم داسي ډېر څه وينو چې، له ځينو تاريخي پېښو سره

اړیکه لري، دلته به موږ د یو ځانګړي څپل په یو اړخ باندي بحث ولرو، چې تاریخي لنډۍ ورته ویل کیدی شي او د اولسي ادبیاتو اړوند دي.

اولسي ادبیات چې د ژوند سره غاړه غړۍ دي، د پښتني ژوند ټول مادي او معنوي اړخونه په لمن کې رانغاړي. په اولسي ادبیاتو کې لنډۍ خورا خوږ څپل دی ، چې د ژوند رنګین امېل یې په غاړه زانګې، د دې امېل هر ملغلره د پښتني ژوند انځورګره ده. له مینې، محبته را نیولې تر اقتصاد او سیاسته، له دیني او مذهبي اړخه نیولې، تر تصوف او ریاضته له نهیلی او محرومیته تر تاریخ، حماسو او ملي نهضته پکې د ژوند بېلابېل ابعاد پکې ډېر په هنري انداز کې انځور شوي دي. په دې لیکنه کې به داسي څه ولولو چې له تاریخي پېښو سره اړیکه لري، یا ځینو تاریخي پېښو ته پکې اشاره شوې وي.

د کوزې پښتونخوا لیکوال میجر ریټائرډ محمد نواز خان یو ځای وايي: ((متل او ټپه د پښتو ادب مظبوطي ستني دي، څومره چې پښتانه او پښتو زاړه دي. دومره متل او ټپه هم زاړه دي داسي پښتون به نه وي چې ټپه یا متل یې نه وي زده متلونه او ټپې د پښتنو د ټول انفرادي او ټولنیز ژوند، تاریخ او روایاتو عکاسي کوي.))

لري نه ځو، راځو په دې لنډه لیکنه کې په داسي لنډیو باندي خبرې کوو چې تاریخي رنګ لري یا کومې تاریخي پېښې ته پکې اشاره شوې ده.

**غزنویان**

د غزنویانو د تاریخ ځلاند نوم سیف الدوله سلطان محمود غزنوي هغه څېره ده چې په ویاړمنو کارنامو یې اسلامي اُمت او اسلامي نړۍ ویاړي، هغه د هند په پراخه ځمکه د اسلامي فکر د غوړولو په تکل ډېر غورځنګونه وکړل، هلته یې د اسلامي امپراتورۍ بنسټ کېښود. د دغه سترې امپراتورۍ په اړه د اولسي ادبیاتو په ویړه غېږ کې ، د لنډۍ په خوږ فورم کې یو ځای د خالو د لښکر چې د غزنوي سلطان محمود یو سرلښکر و او د ګومل پر لاره چې د کاروانونو لاره وه هند ته تلو راتلو د یاد لښکر د یو سرتېري معشوقه د خپل مین د راتلو لارې څاري چې د لښکر د را ستنېدو خبر په اورېدو به یې مخې ته د ښه راغلاست قدمونه سترې کوي او د ګومل سیمې ته د ورتګ نذر په ځان مني، د پښتو اولسي سندرې، چې د پښتنو د ژوند رښه هنداره ده، تاریخ دی او د پښتنو روح پکې نغښتی. د یادې دورې تاریخ را یادوي او د هماغه مهال ښکارندوي کوي. لکه چې وايي:

که د خالو لښکرې راغلې زه به ګومل ته د خپل یار دیدن ته ځمه

پورته لنډۍ پوهاند عبدالحی حبیبي له تاریخي پېښو سره تطبیق کړې ده چې زر کلن عمر لري او د پنځمې پېړۍ په لومړیو وختونو کې ویل شوې ده . ګومل د روه د غرونو په سلسله کې یوه مشهوره

دره ده چې د هند فاتحينو لار وه او ملک خالو د سلطان محمود غزنوي په زمانه کې د پښتو له نامتو سردارانو څخه دی چې خورشيد جهان او د سعادت خان تور ترين (فضايل السعادت هم د ده نوم د هغه مهال په لويو سردارانو کې ياد کړی دی. (ګوربز، ۱۳۹۰، ۱۴)

**سلطان محمود غزنوي او اياز**

سلطان محمود غزنوي چې د اسلام د مبارک دين د خپرېدو د پاره يې ډېر جنګونه کړي او په بت شکن مشهور دی، د خپل غلام اياز سره يې زياته مينه درلوده، د دوی د مينې يادونه د پښتوپه ولسي او ليکني ادب کې هم شوې ده ... په پښتو لنډيو کې يې د مينې او توري په اړه يو ځای داسي ويل شوي دي :

| | |
|---|---|
| مينه پاچا عاشق غلام دی | محمود ته ګوره د اياز محتاجـــه شونه |
| توري تېرې کړئ دښمنانو | زه بت شکن ميدان د جنګ ته بيادرځمه |
| چې د اياز پر مخ شيدا شو | محمود باچا د غلامانو غلام شونه |

(لايق، (؟) ، ۴۴۴، ۸۹،۱۷۲)

لوړه لنډۍ که وګورو، د محمود غزنوي غورځنګونو ته پکې اشاره شوې ده، چې نوموړي د اسلام دښمنان او مشرکين وځپل، د هغوی بتان يې ريزمريز کړل، ځکه نو په بت ماتونکي مشهور و، د سومنات بُت د ماتولو پر مهال هندوانو ورته ډېر څه ومنل؛ خو غزنوي د ابراهيم خليل الله ياد راتازه کړ او هغه يې دړې وړې کړ.

د سومنات په اړه ډاکتر ناظم په خپل اثر غزنوي سلطان محمود کې چې پښتو ژباړه يې پوهاند محمدبشير دوديال کړې ده يو ځای کاږي : (( څه وخت چې په هندوستان کې د يمين الدوله فتوحاتو پرلپسې دوام پيدا کړ او د مشرکينو معبدونه يې له خاورو سره خاوري کړل، هندوانو ويل سومنات زموږ په بتانو په غوصه دی، که هغه خوښ وي، هيڅوک به بتان تخريب نه شي کړای، څه وخت چې سلطان دا خبرې واورېدې، د بت د له منځه وړلو په تکل يې په ۴۱۶ کال د شعبان په ۲۲ دوشنبې په ورځ دېرش زره منظم سپاره او نورو سل هاوو رضاکارو لښکر سره له غزني روان شو، په لاره کې څو ځايه له مقاومت سره مخ شو، هندوانو يو ځای د شل زره لښکر په مټ لاره بنده کړه، خو ماتې يې وخوړه، وروسته د (لواده ) ښار خلکو مقاومت ونه کړ، چې خپله سومنات مسلمانانو ته سزا ورکوي، اسلامي لښکر ښار ته ننوت، دا وخت د ۴۱۶ ه کال د ذيقعدې ۱۴ پنجشنبې ورځ وه، غزنوي د سمندر څنډې ته نژدې يوه محکمه کلا وليده، دا کلا د برهمنانو په لاس کې وه، هغوی وويل د نورو ارباب الانواعو کسات به هم ترې واخلي، چې دوی ورته سپکاوی کړی و، سلطان

محمود د سومنات کلا محاصره کړه، د شنبې ورځ چې ۱٦ تاریخ کېږي، د کلا استحکامات یې ونیول، په دیوال د پاسه د بلالي آذان په کولو یې د بریا اعلان د خلکو غوږو ته ورساوه، هندوانو د خپلې بې مانا عقیدې له مخې څو ځله له سومنات څخه مرسته وغوښته؛ خو ګټه یې ورته ونه کړه، د مسلمانانو تورو یې مرۍ ورغوڅې کړې، سلطان محمود د سومنات معبد ته ننوت، حکم یې وکړ، د هغه پورته برخه په تبر ماته کړئ، پر شاوخوا یې اور ولګوئ، چې ټوټه – ټوټه شي، مسلمانانو د بُت ټول قیمتي جواهر چې بیه یې شل (۲۰) میلیونه دیناره کیده وتوړل او بُت یې وسوځاوه. ( محمد ناظم، ۱۳۸۵، ۱٦۷،۱٦۹، ۱۷۰،۱۷۱)

د سلطان محمود غزنوي او ایاز په اړه په یوه بله لنډۍ کې داسي یادونه شوې ده:

ایازه! کله چې زه تورې خاورې شمـــــــه قدر زما به در معلوم شي

(علومو اکاډمی، ۱۴۰۱ ، ۵۲۵ )

زموږ په ولسي ادبیاتو کې ډېرې داسې سندرې شته چې د پښتنو په تاریخ کې ترې کار اخیستل کېږي او دیوه ټاکلي مهال ښکارندویي کوي، دلته به د تاریخ یو بل څپرکی را پرانېزو د هوتکو دوران ته به سر ورښکاره کړو :

تاریخ په خپله ویړه لمن کې د هوتکو په نوم یو زرین باب لري، دا باب د حاجي میرخان یا میرویس نیکه په نوم پیل مومي، میرویس نیکه د بابا هوتک د اولادې له اووم پښت څخه هغه وتلی، نومیالی ملي مشر او د پښتنو د خپلواکۍ د لارې اتل و، چې د (۱۱۲۰) لمریز کال په شاوخوا کې یې خپل ولس د پارس د صفوي خاندان له ښکېلاک او ظلم څخه وژغوره، نوموړي په (۱۱۱۹لمریز) کال د ذالحجې د میاشتې په نولسمه د خپل قوم او ملت په مرسته د تیري کوونکو داړه مارانو مشر ګرګین په کندهار کې په خپل ځانګړي تدبیر سره له تېغه تېر کړ، له ده وروسته یې او لادونه په دې بریالي شول چې تر اصفهان پورې د واک مزي وغځوي او د یو خپلواک حکومت په توګه په سیمه راج وچلوي.

کله چې د افغانستان او د هغه د خپلواکۍ نوم اورو، نو د ملي قاید او ستر مبارز، حاجي میروېس نیکه نوم مو خامخا په ذهن کې راګرځي. د خوږ هیواد د تاریخ دغه دوره له ویاړونو ډکه او د افغان ملت د خپلواکۍ او عظمت دور ګڼل کېږي.

ښه به وي چې د یاد غورځنګ سرلاري میرویس نیکه په اړه څو کرښو وکاږو، نوموړی د اوسني زابل ولایت د شینکۍ ولسوالۍ د مرکز لمرخاته خوا ته د سره غره په لمنه کې د ښالم خېلو په کلي کې

زېږېدلی دی، چې اوس هم په دغه کلي کې یوه برجوره کلا ولاړه ده چې د ښالم خان کلا يې بولي. ملک ښالم خان د ملي قايد پلار و چې اوس هم د هوتکو د ټبر يوه پښه د ښالم خېلو په نوم يادېږي.

د هوتکي دورې نامتو مؤرخ او ليکوال محمد هوتک په خپل ارزښتناک اثر پټه خزانه کې ليکي چې، څه مهال د کندهار خلک د ګورګين له ظلم او شکنجې څخه تنګ شول، نو په کوکران کې ميرخان، يانې ميرويس نيکه ته ورغلل او له ګورګين څخه يې شکايت وکړ. دوی جرګه را وغوښته، د څو ناستو وروسته يې منظم پلان ترتيب کړ، سعودي ته ولاړ، د جهاد فتوا يې تر لاسه کړه، د جوړ شوي پلان پر بنسټ يې ګرګين سره له حاميانو له منځه يووړ، د خپلواکۍ توغ يې پورته کړ، د خپلواک حکومت بنسټ يې کېښود، خلک پرې را ټول شول، ميرخان د ميرويس خان نيکه په نوم مشهور شو، خپلو وګړو ته يې د بچو په شان مينه ورکړه، د اولس په زړه کې يې محبوبيت دومره ډېر شو، چې خلکو ورته نيکه وايه، په ولسي ادب کې د نوموړي محبت داسې سندريز شوی دی:

حاجي ميرويسه جنتي شې     موږ د ګرګين له غمه تا خلاص کړي يونه

ميرويسه ! رب دې ديدار درکړي     چې مونږ دې خلاص کړو د پردو له منتـــونه

(لايق، (؟) ۱۴۲، ۴۴۲ )

په پورته لنډيو کې د صفوي داړه مارانو د مشر ( د ګرګين ) د وژلو تاريخي پېښې ته اشاره شوې ده، ځکه نو ورته تاريخي ټپې وايو.

د افغانستان سپېڅلې خاوره، د خپل ستراتېژيک موقعيت او لوړو ارزښتونو په درلودو سره په بېلابېلو وختونو کې د يرغلګرو او نيواکګرو د شومو اهدافو ښکار شوې ده؛ خو بچيانو يې په ډېره مېړانه د سرونه په نذرانه دفاع کړې ده. د خپلې ادعا د ثبوت د پاره دلته يوه داسې لنډۍ راوړو چې د انګريزي داړه مارانو په اړه د افغاني ټولنې د شجاعت انځور ښيي، څه وخت چې پښتانه زلمي جهاد ته ځي، غيرتي پېغلې د دوی د کارنامو او متانت په پار خوښي څرګندوي.

پښتنې پيغلې خوشحالي کا

چې زلميان کاندي د انګريز سره جنګونه

همدارنګه کله چې محمد جان خان غازي په ۱۸۷۹م کال کې دکابل په ښار کې د انګريزانو د دوهم ټبري پر وړاندې کې دمقاومت توغ پورته کړ د هري لوري ورته د عقيدت پيرزوينې وړاندې شوې دا لنډۍ د هغه حالت ښه عکاسي کوي .

محمدجان خان غازي چې راغی

دا دوس خان په ببولۍ کې پټېدنه (لایق، (؟) : ۴۳۴)

تاریخ ګواه دی چې افغانان هیڅکله د یرغل پر وړاندې بې تفاوته نه د ي پاتي شوي، بلکې هغو ته يې د سر په کاسه کې اوبه ورکړې دي له دې ډلې یو هم محمد جان خان وردګ و چې د انګریزي ښکلېلاکګرو په مقابل کې لکه سپر ودرېده د افغان شمله يې هسکه کړه نوموړی چې په پلازمېنه کابل کې توپچي جنرال و، په ۱۸۷۹ ز کال یې د انګریزانو د دوهم تېري پر وړاندې د خپلواکي په تکل توغ پورته کړ، له هر لوري ورته د دې خاورې غیورو شاژلمو د مرستو لاس ور اوږد کړ. یاد اتل د (ګوربت ) نومي غره په لمنه کې زیږېدلی او لویېدلی وو او غوښتل يې چې د ( ګوربت) یعنې (عقاب) په څېر لوړ پراوز وکړي او د ګران هیواد خپلواکي وساتي.

باید وویل شي چې غازي محمد جان خان د وردګو ولایت د جغتو د ولسوالۍ د بیدموشك د کلي اوسیدونکی وو (البته هغه مهال اوسني ولایتي او سیمه ییز تشکیلات موجود نه وو). خو یوه کلا یې د جغتو د سعادت باباخیلو او کمال باباخیلو د کلیو تر منځ هم شته چې ختیځ لور ته یې کاریز بهیږي او لودیځ لور ته یې د غازي محمد جان خان په نوم باندې د لیسې انګړ واقع دی ، چې د افغانستان د ټولو خلکو ستر ویاړ ګڼل کیږي. غازي محمد جان خان د ۱۸۳۵ او ۱۸۸۰ میلادي کلونو تر منځ ژوند کړی او د افغانستان په سیاسي تاریخ کې يې غښتلی رول تر سره کړی دی. دا هغه وخت وو چې هېواد مو د انګریزي ښکېلاك د دوهم یرغل سره مخ وو چې د وردګو، غزني او پلازمینې کابل په سیمو کې غازي محمد جان خان بهرنیو یرغلګرو ته کلکې ماتې ورکړې دي او په دې لاره کې يې د شهادت لوړ مقام ګټلی دی.

تر سکندر وروسته د روسانو راتګ او د هغوی د حالت په اړه دا لنډۍ څومره ښه وضاحت لري، چې د هغوی د ماتې او کوکو انځور پکې وړاندي شوی دی.

د سکندر چې زړه ترې شین وو

په هغو غرو کې نن روسان په ژړا دینه

لنډۍ چې د ټولنې د عامو خلکو خاصتا د ښځو له خوا ویل کیږي ځانګړتیا يې دا ده چې هم الفاظ هم حقائق ډېر سوچه پکې پېیل شوي وي او دا هغه صفت دی چې د ادب نور صنفونه يې په خپله لمنه کې له رانغاړلو عاجز دي د ادب د نورو صنفونو یوه نېمګړتیا داده چې نه دي توانېدلي په سوچه او ریښتینې توګه د خلکو زړونو ته لار ومومي د هغوئ د زړونو د تل ترجماني وکړي خو لنډۍ دا جوهر لري چې د پرګنو د زړونو رازونه راوسپړي، ښایي یوه پښتنه پېغله هغه مهال چې د

ژوند ملګری يې دجهاد په لور روانيږي دځوانۍ مستې سلګۍ يې په مخه کړي خو د ژړا او خفګان په همدې حالت کې يې هم د زړه غوښتنه او هيله په غيرت پوښلې وي

جدايي ګرانه ده عالمه ننګ د اسلام دی جانان خپله ورلېږمه

په وطن جنګ دی پاتي نه شې زغملی نه شم زه د نجونو پېغورونه

په تور دکن دې ځلی جوړ شه - د بې ننګي اواز دې را مه شه مينه

**د ميوند جګړه او د ملالۍ تاريخي ناره**

د ميوند د تاريخي غزا په اړه به د آغلې صفيه حليم د ليکنې لنډيز را واخلم، نوموړې په خپله مقاله کې ليکي: ((د ميوند غزا په ۱۸۸۰ کې د کندهار د ميوند په ولسوالي کې پېښه سوه۰ انګريز پوځ د نومبر پر ۲۱ د ډونالډ ستوراټ په مشري پښين ته داخل سو او په ۱۸۸۰ کال د اپريل په لومړۍ نېټه يې اعلان وکړ، چې کندهار له افغانستان څخه جلا سو او شيرعلي د مهردل خان زوی يې خپل ګوډاګی والي وټاکی۰ په۱۸۸۰ کال د جون په مياشت کې علماوو غازي ايوب خان په خپله ګډه فتواسره خپل امير وټاکی ،د ده په نامه سکه ووهل سوه اوخطبه ولوستل سوه۰ د ميوندجګړه د همدې کال د جولای پر ۲۷ نېټه باندي ونښته، په دې جګړه کې ۱۳۰۰۰ انګريزي پوځيان مړه او يو جګړن د مک لاين په نامه باندي ژوندی ونيول سو۰ په ميوند کې د انګريزانو د ٦٦ نمبر کنډک څه د پاسه ټول سرتيري مړه او يو تن يې په تېښته بريالی سو. په دې جګړه کې د افغان شهيدانو شمېر څه د پاسه ۷۰۰تنه وو۰ بيا هم په ۱۸۸۰ کې انګريزانو پر غازي ايوب خان باندي بريد وکړ چې له مقاومت سره سره ايوب خان شاتګ ته اړ سو او داميرعبدالرحمن خان په خيانت ايوب خان کندهار او هرات د لاسه ورکړل، ايران ته ولاړ۰ په ۱۸۸۷ کې ايرانيانوايوب خان د انګريزانو کونسل ته وسپاره چې بيا د تل د پاره په راولپنډۍ کې پاته سو،نوموړی غازي په ١٩١٤ کې وفات او د ده د وصيت سره سم په پيښور کې خاورو ته وسپارل سو۰ په دوهمه جګړه کې ١٤٠ زرو انګريزي پوځيانو برخه درلوده چې بيا يې هم ۳۰۰ پوځيان مړه ا و څه د پاسه ٤٠ ميلونه پونډه مالي زيان ور ورسېده چې په دې ډول د ميوند غيرتي جګړې ګران افغانستان له تجزيې څخه وژغوره او د ستر کندهار د ۸۸۸ ورځو بېلتون يې ختم کړ۰ ملاله پېغله د ميوند د جګړې رېښتنې اتله ده چې په خپلو دې خوږو او احساستي ټپو يې د ميوند جګړه بري ته ورسوله))۰

که په ميوند کې شهيد نه سوې خدايږو لاليه بې ننګي ته دي ساتينه ((لايق، (؟) ، ۸۲ )

خال به د يار له وينو کېږدم چې شينکي باغ کې ګل ګلاب وشرموينه

د ملالې دې غږ د افغان غازيانو احساسات په څپو کړل، جنگي مورال يې يو په څو چنده شو، د تکبير د ملکوتي غږونو په بدرکه يې پر يرغلگرو يې تندريز گوزاونه پيل کړل، د ميوند په غېږ کې يې د انگريز پوځ د وينو ويالې وبهولې، د معرکې له تاوده ډگره، افغان شازلميان په داسي حال کې را ووتل، چې ديارلس زره تاړاکگر ځواکونه يې تر تېغ تېر کړي وو، د ميوند په پراخه دښته کې پټمنې ملالې د اووه سوه، زلميانو په شمول، د غزا تنده د شهات په شيرين جام خروبه کړه او له الهي لقاء سره وصل شول.

د ميوند په سره دښته کې غازي محمد ايوب خان د دغې ټپې له برکته چې د ملالۍ له خولې لکه تندر او تو غندی په لوړ غږ وويل شوه ، د غازيانو په ملاتړ گټندوی او فاتح شو او افغانانو دغه سخت جنگ وگاټه د انگرېزانو غرور ېيخي مات شو او له کندهارڅخه ستانه شول...د ميوند د فاتح غازي محمد ايوب خان نوم د پښتو د ولسي ادب پ کې ژوندی دی په لنډيو کې يې داسې يادونه شوې ده :

پر ايوب خــــان مې سلام وايه        دا دی جانـــــان مې کومکي درولېږنـــــــه

(لايق، (؟) ، ۳۷ )

د ايوب خان غازي په تـــــوره        ميوند خالي شو انگرېزان په تېښته ځينه

د هندوستان پېرنگی ژاړي        که ژېړ ايوب پر دُنيا و کونډې به شونه

(لايق، (؟) ، ۱۰۴، ۲۶۳ )

د غازي محمد ايوب خان د ورور سردار محمد يعقوب خان د بندي کېدو په اړه بيا داسې اشاره په پښتو ټپو کې د ولس له خوا په مينه ويل شوې ده :

يعقوب يې وړی کلکتې ته        ځکه ځوانان نن د ميوند جنگ لره ځينه

(علومو اکاډمی، ۱۴۰۱ ، ۵۹ )

د افغان انگليس د جگړې پورې اړوند په په پښتو ولسي شاعري کې د تاريخي پېښو څېړنه  اثر کې يو ځای کاري:(د هيواد په ختيځ ته لېږل شوې جبهې له انگريزانو سره جنگونه پيل کړل)؛ خو د سپه سالار د کم همتی له امله ۴۰۰ مجاهدينو جسدونه په ميدان پاتي کېږي او دوی راتښتي. په ختيځ کې بری د انگريزانو په برخه کېږي.  په اړه يې يوه لنډۍ ده:

سپه سالار توره ونه کړه

بهانه يې وکړه چې له اسپه پرېوتمه

په لوړه لنډۍ کې د سپه سالار حالت ښه څرګندېږي چې عام خلک د سپه سالار په اړه څه ډول نظر لري. د سپه سالار کار یې د مېړانې خلاف ګڼلی دی. ( کبیر، ۱۴۰۲، ۲۰۰- ۲۰۱)

**خوشحال خان خټک بابا**

خوشحال خان خټک چې د نامه سره یې ټول اشنا یو د افغان په ننګ توره تر ملا کړې وه او قلم یې هم د دوی د پوهولو په موخه اوچت کړی و ، هغه د ننګ او ژوند په کار کې ټول افغانان له اټکه تر کندهاره پورې یو بلل ، ده د افغانانو دخپلواکۍ له پاره ډېرې سړې تودې تېرې کړې؛ خو خپل مرام ته ونه رسېد؛ مګر دهغو درنو فرهنګي کارونو له امله چې ده افغان ولس او ادب په برخه کې ترسره کړي دي،نوم یې تلپاتي شو.

د پښتو ژبې د اتل خوشحال خان خټک د توري شرنګ او مېړانې یاد د پښتو ولسي ادب په ستره پانګه کې ځای ځای ډېر په مینه راوړل شوی دی، په پښتو لنډیو کې د ده بې ساري توریالي شخصیت په اړه چې له مغلو سره د ده د مېړانې او اتلولۍ عالي احساس ترې په ښه شان جوتیږي،داسي اشاره شوې ده:

نن په خېبر د زلمو جنګ دی خوشحاله !پاڅه چې مغل راغلي دینه

(لایق، (؟) ،۴۵۲مخ)

که دنیا واوړي بیا راواوړي پیدا به نشي خوشحال خان غوندې مېړونه
د غیرت توره یې تر ملا ده د پښتانه په ننګ یې ډېر کړي جنګونه

(علومو اکادمی، ۱۴۰۱ ، ۳۳۸ )

شاه جهان( جلال الدین محمد اکبر )

شاه جهان د مغلي جهان ګیر زوی و ، د مغلي شاهانو په لړۍ کې دی نرم خویه سړی و، خو د پښتنو په برخه کې یې د خپلو پلرونو او نیکونو په شان کړنه او پالیسي چلوله ، کله چې دی رنځور او زهیر شو زامنو یې په خپل منځ کې د تخت د نیولو لپاره سخت جنګونه سره وکړه چې په پایله کې اورنګزېب عالمګیر خپل ورونه یو په بل پسې ووژل او خپل پلار شاه جهان یې بندي کړ، د مغلي شاه جهان د پادشاهۍ ښه دوران او نوم د پښتو ولسي ادب ( لنډیو )کې داسي یاد شوی دی:

په دنیا مه نازېږئ خلکو د شاه جهان پاچا نه پاتې شول ملکونه
د هندوستان سترو ښارو کې د شاه جهان بادشاه غږیږي نوبتونه

(لایق، (؟) ، ۱۲۵ )

**اورنګزېب**

اورنګزېب عالمګير د مغلي شاه جهان زوی دی ، د مغلو د دورې هغه ظالم او مکار پادشاه و ، چې د اسلام په جامه کې يې ډېر خلک د خپل قدرت او پادشاهۍ د نيولو د پاره وژل، په خپل پلار او ورونو يې هم په دغه سودا کې کوم زړه سوی ونه کړ پلاريې ړوند او زنداني کړ او ورونه يې يو په بل پسې په جنګونو کې ووژل په پښتو لنډيو کې د ده د ظلم يادونه په پښتو لنډيو کې داسې شوې ده :

اورنګ بادشاه په زړه ظالم دی      ماربيک ولاړ دی رخصتـــي نه ورکوينـــــه

اورنګه دا ظلــــم دې ډېر دی      پلار دې بندي ورونه دې ورک له ملکه کړونه

(لايق، (؟) ، ٦٧ )

**د اوسني افغانستان بنسټګر احمد شاه بابا**

د احمدشاه بابا د نامه سره ټول اشنا يو، نوموړی په (۱۷۴۷ز) کال په اکتوبر کې د شېرسرخ په ستره او بې ساري تاريخي او افغاني جرګه کې د پادشاه په توګه وټاکل شو، په ياده جرګه کې ډېری قومونوګډون درلود کله چې بابا واکمن شو، د نوي افغانستان بنسټ يې کېښود. افغانان په الهي نصرت او د احمد خان په تدبير سره په ډېرو ځايونو واکمن شول، د هماغه مهال په اړه هم لنډۍ په خپله پراخه غېږ کې لنډې اشارې لري چې د احمدشاه بابا د لوړ علمي، ادبي او سياسي شخصيت ترې څرګندېږي:

احمـــــده ! خدای دې جنتـــــي کړه      تر هندوستـــــانــــه پورې تا کړي جنګونه

احمـــــده ! خدای دې جنتـــــي کړه      چې د پښتون نوم دې کړو جګ په وطنونه

اسمــــــان به خود زمــــا پر خوا وي      چې د احمد تر بيرغ لاندې جنګ ته ځمـــــه

تورې په خــرپ وهۍ ځوانـــــــانــــــو      د بابا ملک دی په ســـرو وينو به يې ساتونه

دا هــــره مـــــور به زامــــــن راوړي      د احمدشاه په شان به لـــــبر لـــــبر پيدا شينه

پښې مې ترې ځي زړه مې ترې نه ځي      داستا ديدن د احمدشـــــــــــــاه بابارنګونه

زړه مې ترې ځي پښې مې ترې نه ځي      داستا ديدن د احمدشـــــــــــــاه بابارنګونه

خود به مې سر تر اسمـان تېـــــر وي      چې لوی بادشاه مو احمد شاه په مخ کې ځينه

(لايق، (؟) ۸۰، ۱٦٦، ۱۸۰، ۳،۸۹ )

**وزير محمد اکبرخان**

وزير محمد اکبرخان د امير دوست محمد خان زوی او د امير شېرعلي خان مشر ورور و، دی ډېر زړور او مېړنی پښتون و، نوموړي د افغان په ننګ توره له تېکې ايستلې وه، د انګرېزانو پر وړاندې د نورو غازيانو سره يو ځای د سرښندنې ډګر ته را وتلی و، د انګرېزانو په ځانګړې توګه د مکناټن هغه دسيسه يې شنډه کړه چې دوخت د ستر غازي امين الله خان لوګري او دده ترمنځ پلان شوې وه، مغرور مکناټن يې د هغه په خپله توپنګچه وويشت ،مکناټن مړ او انګرېزانو ته يې په لومړۍ جګړه کې ماته ورکړه د ده نوم د افغانستان په تاريخ کې په زرينو ټکو ليکل شوی دی ، د پښتو ولسي ادب په لويه ورشو کې يې د شخصيت يادونه ډېره شوې ده په پښتو لنډيو کې يې نوم داسي ژبغړاند شوی دی :

د اکبرخـــــــان غازي پـه توره وطن رڼا شو دښمنـــــــــان په ماتې ځينه
که جهان مري اکبر دې نه مري يو خو ښه ځوان دی بل يې کړي جهادونه

(لايق، (؟) ، ۱۷۸، ۳۷۲ )

**غازي امان الله خان**

شاه امان الله خان د افغانستان هغه توريالی پاچا و، چې د مېړنيو او ننګياليو افغانانو په ملاتړ يې د جهان له ستر ځواکمن قدرت انګليس څخه چې د افغانستان نيولو ته يې په ټينګه ملا تړلې وه او دوه وارې يې تورياليو افغانانو ښه وځپل د سر او مال تاوانونه يې ورواړول په دربيم وار يې د امان الله خان د خپلواکۍ په اعلان او د افغانانو په کلک ملاتړاو ټينګه اراده د جهان دا لوی قدرت مات کړ او ټوله امپراتوري يې دړې وړې شوه ، د امان الله خان سره د افغان مېړني ولس مينه بېخي ډېره وه ، ځکه چې د ده په وخت کې افغانستان بېخي ازاده شو ،نو ځکه دده په اړه وينو :

که دنيا واوړي بيـــا راواوړي راوابه نه وړي د امان غوندې مېـــړونـه
نن په جامــــــــو کې نه ځاييږم منلو جګ کړی خپلواکۍ سره بيرغونه
نن په جامــــــو کې نه ځاييږم منلو لښکرې ټولوي انګرېـــز وهينـــــــــــه
ميندې په څه خوای سترکړي د منلوخون په مخ کې ځي سرتور سرونـــه

(لايق، (؟) ، ۶۲،۶۵،۷۳ ، ۷۷، ۸۱ )

مير احمد ګربز په خپل اثر کې څو داسي لنډۍ را اخيستې دي، چې زما د موضوع سره اړخ لګوي، په دې لنډيو کې د چمني خان، رامداد خان، هارون د مېړانې يادونه شوې ده او هم د جمرود د پيښې

سره په ټړاو يوه داسي لنډۍ راوړې ده، چې موږ له ځان سره هماغه پېښو ته وړي. دلته به يې د نوموړي (په پښتنې فولکلور کې ټولنيز ارزښتنونه) اثر څخه په لنډيز را واخلو:

((د چمني خان طاقت څرګند شو - ځکه انګليډ کې انګريزان ژړا کوينه

د چمني خان د پښتو وار دی - د انګريزانو خزانې به لوټوينه

د چمني خان د لاسه تنګ شول - انګريز ځکه اوس د سر سودا لرينه

چمني خان د سکندر خان زوی چې اصل نو م يې تاج محمد خان و، او په چمني خان سره يې شهرت درلود، چې د شبقدر د پټګرام د امان کلي اوسېدونکی و، له خپل کور او کلي څخه مومندو ته فراري شوی و او د مومندو په ملکړو کې اوسېدوه. د خپلواکۍ په جنګونو کې چمني خان فعاله ونډه درلوده.

په ملاکنډ توري خورې شوې - هارونه! توره برېښوه چې رڼا شينه

ملاکنډ په پښتونستان کې موقعيت لري. هارون په قوم سالارزی و، په باجوړ کې د پښتنو او پرنګيانو تر منځ په جګړه کې شهيد شو، هارون د يوه انګريز پر توپ ور وخوت انګريز يې په توره وواژه.

چېرته لندن چېرته چترال دی - بې ننګي زور شوه انګريزان چترال ته ځينه

وار د رامداد پګړۍ تېر شو - نور مومندان دې پګړۍ نه په سرکوينه

چې رامداد خان دې په ويشتلی - ټوپکه مات شې د لوهار په سندانونه

د انګريزانو پر ضد د پښتو ولسي ادبياتو کې د خپلو اتلانو د توري او مېړانې ستاينه شوې ده.

تر خپلواکۍ وړاندي د استعمار په مقابل د افغانانو ملي، سياسي، حربي او ادبي مبارزه ګربز په خپل اثر کې پر دوو برخو وېشلې ده . لومړی د سکانو سره او بيا د افغانانو سره مبارزه .

په پورته ياده شوې زمانه پورې اړوند لنډۍ

